د چاپ لړۍ: اتم کتاب

# د افغان کلتوري ټولنو جرگه

۱۳۸۷لمریز

Ketabton.com

ګل آغا احمدي وردګ

Afghan Cultori Tolano Jarga

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالی:

**هر هغه چا ته چې د افغان کلتوري بنې د ښیزازۍ او تاند ساتلو په لاره کې هلې ځلې کوي.**

**د افغان کلتوري ټولنو د جرګې کارډلې، ولایتي استازو، غړو، هڅاند او زړه سواند ډاکتر صاحب خوشحال روهي ته یې په مینه ډالۍ کوم.**

## د کتاب پیژندنه:

**د کتاب نوم: د افغان کلتوري ټولنو جرګه**
**لیکنه او ترتیب: ګل آغا احمدی وردګ**
**د چاپ کال: ۱۳۸۷هـ ۲۰۰۸ز**
**کمپوز: زبیر احمد احمدي**
**د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**
**د چاپ ځل: لومړی**
**چاپځای: بهیر مطبعه**
**بریښنالیک: gulghaa89@gmail.com**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

بسم الله الرحمن الرحیم........ 6
سریزه........ 6
د پیل خبرې........ 8
لومړۍ پرانېستونکې وینا........ 9
د هېواد نازکخیال شاعر محمد صدیق پسرلی........ 9
دویمه پرانېستونکې وینا........ 9
د هېواد نوموتی لیکوال محمد آصف صمیم........ 9
د تدارک د کمېټې ګزارش........ 12
په اروپا کې د مېشتو افغان کلتوري ټولنو........ 16
د استازو ټېلفوني پیغامونه........ 16
ښاغلی زرین انځور/ جرمني........ 16
ډاکتر طارق رشاد/ هالند........ 17
افضل ټکور/ انګلستان........ 18
د ولایتي استازو ګزارشونه........ 19
د بغلان ولایت/ عبدالغفور بسیم........ 19
د بلخ د ولایت استازی/ فاروق خپلواک........ 21
د پکتیا د ولایت استازی/ ډاکتر محمد هاشم مصور........ 23
د پکتیکا د ولایت استازی/ محمد آصف ننګ........ 24
د پېښور استازی/ جلال امرخیل........ 25
د تخار د ولایت استازی/ بادري صاحب........ 26
د خوست د ولایت استازی/ نصیر احمد روښان........ 27
د زابل د ولایت استازی/ حبیب ګل ستانیزی........ 29
د غزني د ولایت استازی/ اسدالله جلالزی........ 30
د کابل د ولایت استازی/ نذیر احمد نذیر........ 31
د کنړ د ولایت استازی/ قادرشاه قادر........ 32
د کندز د ولایت استازی/ غلام حیدر حیدر........ 33
د کندهار د ولایت استازی/ انجنیر شیرشاه رشاد........ 35
د کندهار ولایت فرهنګي ټولنې........ 36
د هلمند ولایت فرهنګي ټولنې........ 37
د لغمان د ولایت استازی/ الله یار تلاش........ 37
د لوګر د ولایت استازی/ سیداحمد حرېپال........ 38
د ننګرهار د ولایت استازی/ محمد آصف شینواری........ 38
په ننګرهار ولایت کې دخپرنیزو رسنیو لست........ 41
سریزه........ 43
د وردګو اومیدان کلتوري ټولنې........ 45
مثبت ټکي او لاسته راوړنې........ 46
وړاندیزونه........ 51

(c) ketabton.com: The Digital Library




پایله: ........ 54
د وردګو او میدان د ولایت د کلتوري ټولنو لیست ........ 54
د هرات د ولایت استازی/ ثواب الدین مخکښ ........ 55
په عربي هیوادونوکې د پښتو کلتوري ټولنو استازی ........ 57
عبدالله صادق ........ 57
د خویندو استازې ........ 58
پروین فیض زاده ملال ........ 58
په کړنلاره او تشکیلاتو باندې د بحث پیل ........ 59
اول الرحمن رودوال ........ 59
په کړنلاره باندې د بحث پایله ........ 60
ډاکتر محمد ابراهیم شینواری ........ 60
د سلاکارې شورى د مشر په توګه ........ 61
د استاد محمد آصف صمیم ټاکنه ........ 61
د مجلس ارزونه ........ 61
استاد حبیب الله رفیع د لارښودې شورى غړی ........ 61
د باتور اندود ننداره ........ 63
همایون عالمیان او د هغه اړونده لوبډله ........ 63
تفریحي پروګرام ........ 65
ټوکې ټکالې، ټنګ ټکور او مشاعره ........ 65
د افغان کلتوري ټولنو د ګډې جرګې ویندویان ........ 65
پایله ........ 66
د افغان کلتوري ټولنو جرګه ........ 66
سریزه ........ 66
دافغان کلتوري ټولنو د جرګې ټګلاره ........ 67
لومړی څپرکی ........ 67
هدفونه ........ 67
پښتو او د ژباړې اړتیا د سمینار راپور ........ 72
سریزه ........ 72
مقالې او ویناوال: ........ 74
مډالونه او ستاینلیکونه ........ 74
مرستې او ژمنې: ........ 75
د نغدي جایزو اعلان: ........ 76
د ژباړې د انستیتوت وړاندیز: ........ 76
د جرګې د ویب پاڼې، ژباړې د مهالنۍ او مصور بنسټ پرانیستنه: ........ 77
ګډ کار او کاري ګروپونه: ........ 77
د ژباړې د کمیټې تشکیل: ........ 78
د سمینار پای او دعا: ........ 78
د افغان روغتیایي بنسټ لومړی غونډه ........ 78
مشران مېلمانه: ........ 79

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډې پیل ........ 79
د ویناوالو خبرې: ........ 79
آزاد بحث: ........ 81
د کمېټې ټاکنه: ........ 84
لومړی څپرکی ........ 85
هدفونه: ........ 85
۲۰۰۸ کال د ژبو نړیوال کال ........ 89
د فبروری ۲۱ مه د مورنی ژبې نړیواله ورځ ........ 89
د افغان کلتوري ټولنو د جرگې روزنیز ورکشاپ ........ 93
د غونډې پیل ........ 94
پیلیزه وینا ........ 94
د محترم ډاکټر صاحب خوشحال روهي وینا ........ 95
د ډاکټر صاحب محمد ابراهیم شینواري معلوماتي پریزنټېشن ........ 100
د غونډې د گډونوالو وړاندیزونه ........ 102
د کاري کمیټو د پلان جوړولو د نوې کاري کمیټې ټاکل ........ 105
دافغان کلتوري ټولنو جرگه ........ 106
کار ډله ........ 106
د کمیټو د دندو لایحې او د غړو لېستونه ........ 106
د اړیکو کمیټه: ........ 107
د خپرنیزو چارو کمیټه: ........ 111
د مورنی ژبې د زده کړې کمیټه: ........ 113
تخنیکي کمېټه : ........ 115
د ولایتي استازو لیست ........ 115

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

دغه کتاب د افغان کلتوري ټولنې د جوړیدو د بنسټ ایښودونکې غونډې، د ژباړې د سمینار روغتیایي بنسټ، په مورنۍ ژبه باندې د زده کړې پریکړه لیک او اهمیت، د کارډلې د روزنیز ورکشاف ګزارش، د جرګې تګلاره، د کارډلې او ولایتي استازو لیست په تفصیل سره ستاسو د لوستلو وړ ګرزوي چې په تیر یوه کال کې جرګې څه کړي، کومې لاسته راوړنې یې او څه پروګرامونه لري.

باید وویل شي چې د افغان کلتوري ټولنو جرګه د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال د زمري د میاشتې ۲۶ او د ۲۰۰۷ میلادي کال د آګست دمیاشتې ۱۷ نیټه وه کې د هیواد د سلګونو لیکوالانو، شاعرانو، د جرګې د تدارک د کمیټې د غړو او ولایتي استازو په ګډون جوړه شوه.

د دې لپاره چې د پیښو تاریخي کرونولوژي یې لړ په تفصیل سره د هیواد د تاریخ په زرینو کرښو کې ځای په ځای کړې وي نو دا دي د یاد شوو ټولو چارو د تفصیل په اړه دغه کتابګوټی ستاسو په وړاندې ایښودل کیږي.

هیله ده چې په دې هکله به ستاسو د معلوماتو د زیاتوالي سره مرسته وکړي او د راتلونکو کلتوري چارو د سمون په باره کې به ترې پراخه ګټه پورته شي.

د دې کتاب په برابرولو کې زیاته هڅه شوې ده چې موږ د ولایتونو د کلتوري چارو په اړه کره معلومات راټول کړو او د ولایتي استازو ګزارش په اصلي بڼه خپاره کړو خو بیا هم د بشپړ کره والي او سمون دعوه نه شو کولای کیدای شي چې په ځینو ځایونو کې اشتباه او تیروتنه شوې وي چې له بخښنې سره یو ځای ستاسو هر ډول وړاندیزونه او نیوکې د سر په سترګو منل کیږي.

همدارنګه د غونډو په لړ کې د ټولو هغو ویناوالو څخه مخکې له مخکې بخښنه غواړم چې وینا یې په بشپړه توګه نه ده را اخیستل شوې او یا هم د هغه جملاتو په لیږدولو کې اشتباه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازمه ګڼم چې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې د کارډلې د ټولو غړو څخه مننه وکړم چې له ما سره يې د لازمو معلوماتو د تيارولو په هکله تر خپله وسله همکاري کړې ده خو په ځانګړې توګه له ګران ورور ډاکتر صاحب خوشحال روهي څخه ځانګړې مننه کوم چې په خورا مينه يې ټول اړوند زما په واک کې کيښودل. همدارنګه له محترم امين الله عادل او زبيراحمد احمدي څخه هم يوه نړۍ مننه کوم چې د دې کتاب د کمپوز وروستيو چارو ته يې ملا و تړله او هغه يې په ښکلې بڼه کمپوز کړ.
د افغان کلتوري ټولنو د جرګې کتاب او معلوماتي ټولګه ستاسو د لوستلو وياړ لري او موږ يې په مينه مينه د ګرانو لوستونکو مخې ته ږدو او په همدې ټکو سره د سريزې پيڅکې رانغاړو دا هم تاسو او دا هم د افغان کلتوري ټولنو د جرګې کتاب.

مينه او مننه

ګل آغا احمدي وردګ

خوشحال خان مينه، کابل

د ۱۳۸۷ هجري لمريز د لړم ۱۱ د ۲۰۰۸ د نومبر ۱ نيټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیل خبرې

د افغان کلتوري ټولنو ګډه جرګه د تیرې جمعې په ورځ چې د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال د زمري د میاشتې ۲۶ او د ۲۰۰۷ میلادي کال د آګست دمیاشتې ۱۷ نیټه وه د کابل د نوي ښار په سیمه د ستاره په هوټل کې د هیواد د لسګونو لیکوالانو، شاعرانو، د جرګې د تدارک د کمیټې د غړو او ولایتي استازو په ګډون جوړه شوه.

غونډه له غرمې مخکې د سهار په نهو بجو او دیرشو دقیقو د قاري عبدالله کامه وال له خوا د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه چې ورپسې د هیواد ملي سرود و غږول شو او له هغه وروسته د هیواد خوږ ژبي شاعر ښاغلي ذبیح الله احساس په خواږه ترنم کې د مجلس ګډونوالو ته خپل شعر واوراوه چې د ګډونوالو زیاته پاملرنه یې خپلې خواته ورجلب او په تودو چکچکو بدرګه شو. له دې وروسته په ترتیب سره د غونډې پرانیستونکې ویناوې، د تدارک د کمیټې ګزارش، له جرمني، هالند او انګلستان څخه د افغان پوهانو او افغاني کلتوري ټولنو استازو تیلفوني پیغامونه، د ولایتي استازو ګزارشونه، کړنلاره، کاري پروسه، تشکیلات، د مجلس ارزونه، باتوراندود لوبه، مشاعره او ټنګ ټکور پروګرامونه یو پر بل پسې وړاندې شول چې تفصیل یې د دې لیکنې په ترڅ کې د ګرانو لوستونکو مخې ته ایښودل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ پرانېستونکې وینا

## د هېواد نازکخیال شاعر محمد صدیق پسرلی

د جرګې د لومړۍ پرانیستونکې وینا لپاره د هیواد نازکخیال شاعر محمد صدیق پسرلي ته بلنه ورکړل شوه او نوموړي د خپلې وینا په لړ کې وویل: ډیر خوښ شوم چې د افغان کلتوري ټولنو جرګه را وغوښتل شوه او زه باید ووایم چې دا تیر ۶۰ او یا ۷۰ کلونه کیږي چې د پښتو ژبې لپاره د اساسي کار تهداب ایښودل شوی دی. پخوا داسې وو چې په کال کې به یوه یا دوې ادبي غونډې رابلل کیدې او د دولتي اراکینو په شمول به جوړیدې خو اوس الحمد لله داسې وخت راغلی دی چې په هر ولایت او هره ولسوالۍ کې ادبي غونډې جوړیږي او په ډیر ښه شکل له کومې ستونزې پرته یې کاروانه پر مخ روان دي. همدارنګه د هیواد په ګوټ ګوټ کې ګڼې ادبي ټولنې را منځته شوې دي. باید ووایم چې پخوانیو له هیڅ څخه خپل کار پیل کړی او د پښتو تاریخ، ادب او ګرامر په برخه کې ډیر کار شوی او پښتو یې تر تاسو پورې په دې ډول را ورسوله اوس امید لرو چې د پخوانیو د بنسټیزو کارونو په تعقیب پښتو ژبې ته نور هم کار وشي او دغه جرګه د نوي درو لپاره د یوه بنسټ په توګه و بلل شي.

# دویمه پرانېستونکې وینا

## د هېواد نوموتی لیکوال محمد اصف صمیم

د پرانستونکو ویناوو دوهم ویناوال د هیواد نوموتی لیکوال استاد محمد آصف صمیم وو چې د خبرو مهم ټکي یې په دې ډول دي: کله چې د انسان عمر تیر شي نو لومړی یې د بدن ټوله انرژي خولې او بیا سترګو ته راشي، زه چې دا اوسنۍ تاریخي صحنه ګورم نو د خولې د الفاظو پر ځای مې له سترګو څخه د خوښۍ اوښکې جاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، هيڅ تصور نه شم کولای او نه شم منلای چې دا تاريخي صحنه به واقعيت وي. په هر صورت کې زه پرون په پيښور کې وم هلته راته ژبنی ماحول داسې وو چې ځان راته پردی نه ښکاره کيده خو باور وکړی چې د بې شميره او هراړخيزو ناخوالو په ليدلو سره ځان راته په خپل ټاټوبي کابل کې پردی ښکاري.

په همداسې يوه چاپيريال کې بيا د داسې يوې غونډې جوړيدل بيل نوښت، ډاډ او داسې يو اطمينان دی چې د افغانستان د يووالي غليمانو او بيلتون پالو ته غاښ ماتوونکی ځواب له ځان سره لري.

نن چې کومه صحنه وينم، کوم ارمان وينم او کوم شکل وينم داسې اميدونه او هيلې را برخه کوي چې که موږ د ناهيليو له غرقيدونکي درياب څخه د ساحل څېږې ته لاس واچوو نو خلاصون به هرو مرو مومو او د خپل کاروان جلو به مو د برياوو په لوري سم کړی وي. زه خو وايم چې کاروان تيريږي او سپي دې غاپي، زموږ کاروان به د برياوو په لوري خپل مزلونه کوي او غليمان به تور مخونه پاتې وي. خو زموږ برياليتوب زموږ په لورينه، اعتماد، ورورګلوۍ، اتحاد، هيله من توب او يووالي پورې اړه لري.

نن چې د کوم ارمان د تحقق لپاره دلته راټول شوي يو نو د غونډې د ګډونوالو په اذهانو کې د نور يوه نوې وړانګه خپره ده او د دې جرګې تر دې ځايه را رسول تکليفونه غوښتي، مندې ترړې يې غوښتې او زه افتخار کوم چې په دې وروستيو ورځو کې مو يو د بل سره ښه و پيژندل او د دې غونډې د جوړونکو په سپيڅليتا او ايمان مې بشپړ باور راغلی دی. د دې ښاغليو مخونه سپين، هيلې سپينې، هڅې سپينې ليکې سپينې او هر څه د بياض په پردو کې نغښتي دي. دغه يو څه وړمې چې تاسو ته در رسيدلې او يو څه نورې چې ستاسو په دماغونو باندې لګيږي، د څو مياشتو راهيسې زموږ د ښاغلي ځوانانو ډاکتر صاحب خوشحال روهي د هڅو او هڅونو پايله ده چې موږ يې د هڅو مننه پر ځان باندې پور ګڼو چې د دومره ارماني خلکو د راغونډيدو سبب شوي دي. موږ د نوموړي د هڅو په رڼا کې د داسې يوې پرتمينې غونډې او د هغه عوامل ګورو، د دومره خلکو د را غونډيد عوامل ګورو، غونډه به ورانه وي او ښکلاوې به يې چليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ یوازې په دې ټولنه کې خپل ورک شوی هویت او بایللی وقار غواړو، موږ د خپل ملت د هیلو او د پرمختګ د بهیر څخه ډیر وروسته پاتې یو او یوازې خپل سر منزل ته رسیدل غواړو. بدګمانو کسانو او د شک والاوو ته ډاډ ورکوو چې موږ ته لږ صبر وکړی او زموږ د کار پایلې ته لږ انتظار وباسی، موږ تاسو ته کلونه کلونه انتظار ویستلی دی بیا به وګورو چې موږ د هیچا په ضرر او تاوان باندې نه یو.

موږ به د وخت په تیریدو سره دا حقیقت په ثبوت ورسوو چې ځان ته مشر وورو نه وایو خو نور نو د هیچا د مشرۍ توان هم نه لرو او نه یې مشري منو، هر څوک چې د هر هدف خاوند وي، ټولو ته ډاډ ورکوو چې یو ځلې زموږ نداره وکړی چې موږ څه کوو؟ د خدای لپاره دا دوې پیړۍ روانې دي چې موږ څوک نه مني، زموږ له موجودیت څخه د خطر احساس کوي دا ولې؟ خو موږ د پښتو مشهور متل ورته وایو چې کاروان تیریږي او سپي دې غاپي. زموږ له خپل غلیم څخه بله څه تمه نشته پرته له دې چې ناوړه کړنې وکړي، زموږ په ملي وقار او ملي ارزښتونو بلوسه وکړي.

موږ د هیچا د کور د ورانۍ لپاره نه یو راغلي بلکې زموږ سره یو داسې تصور دی چې روغ نیت لري. دا چې زموږ افغاني کرنسي نه مروج کیږي هغه ته یو مصنوعي پړسوب ورکړل شوی او د دغه پړسوب عوامل باید له منځه ولاړ شي د خدای لپاره څوک کله مني چې یوه پنډه افغانۍ به دې په یوه کلداره ورکولې خو اوس داسې وخت را رسیدلی دی چې ۱۰۰ افغانۍ ۱۲۰ یا ۱۳۰ کلدارې کیږي هو دغه حالت غلیم ته د منلو وړ نه دی. موږ له ایران او پاکستان څخه د افغان مهاجرو په خپله خوښه راتګ ډیر خوښ یو او دوی باید ټول خپل ټاټوبي ته راشي چې خان یې په یاران یې. له ایران څخه د مهاجرینو ویستلو یو حقیقت په ګوته کړ هغه دا چې ایران د افغانانو تر منځ فرق نه کوي او ټول یې را وویستل نو د دانشګاه والاوو ته یو غاښ ماتوونکی ګذار او د شرم خبره ده چې هغوی بیځایه د پردیو په کلتور او ژبه باندې نازیږي.

د پاکستان څخه د مهاجرینو په راویستلو دغه تور له موږ لرې کیږي چې موږ ګواکې پاکستانیان یو دا خبرې د ډاډ ورکولو لپاره کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دغه عوامل له منځه وباسو نو موږ بیا هم هماغه نوك او اورۍ کیږو، د هرات ورونه، د شمال ورونه چې کله دوی خپلې ستونزې بیانولې نو ما د یوه لو ډاډ پر نړۍ کې چکر واهه چې شکر دا دي په دې هیواد کې داسې څوك شته دي چې داسې فراست لري، دوی ولې په دې پوه شول او دا درک ورته حاصل شو؟ دومره څوك چې د درد د ویلو پیدا شي نو ډاکتر، درمل او علاج خپله ورته پیدا کیږي.
موږ راټول شوي یو چې دا خورې ورې ګوتې سره یو کړو. راځئ داسې ورته ووایو چې وروري به کوو خو حساب ترمنځه. د دې جرګې په جوړېدو سره ټولو ته مبارکي وایم او وړاندیز کوم چې دوی دې پر موږ شک نه کوي. که موږ هغه وخت د پښتو ژبې یوازې پنځه ستورې درلودل نو اوس یې شمیره لسګونو او حتی سلګونو ته رسیږي. د ویاړ ځای دی، د خوښۍ ځای دی او د ډاډ ځای دی. زه د بریاوو په هکله نوي په سلو کې ډاډه یم چې زموږ هڅې به ضرور رنګ راوړي او په دې لړ کې مو په خپل خدای باندې باور دی. د ملت د بقا، د سپیڅلې خاورې د سالمیت او پرمختګ پرته موږ بل هیڅ نه کوو او د غونډې ګډونوال د دې اهدافو سره ملګري دي چې زه تاسو ټولو ته توفیق غواړم.

# د تدارک د کمېټې ګزارش

ډاکترخوشحال روهي

ښاغلي ډاکتر صاحب روهي وویل:
ډېرو درندو مشرانو، فرهنګپالو او فرهنګیانو اجازه راکړی چې خپل سلامونه او نیکې هیلې درته وړاندې کړم ښه راغلاست.
کله چې سړی خوږ شي نو روغتیا ته اړ وځي او د خپلې ناروغتیا لپاره حل لارې او علاج ته مخه کوي او حل لاره لټوي څو د ژغورنې لاره پیدا او خلاصون و مومي.
په افغانستان باندې په تیرو دریو لسیزو کې ډېرې ستونزې او ګواښونه راغلي دي چې د کورنیو عواملو سره یو ځای یې سبب تر ډېره بهرني لاسوهنې او د افغانستان د ځینو حلقاتو او اشخاصو بې پروایۍ ګڼلی شو. د نړیوال کیدلو یا ګلوبلایزشن پروسه هم را

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانه ده که چیرې د بې پروایی په حالت کې پر موږ باندې راغله نو بیا به مو د ژبې او کلتور په شمول هر څه بایللي او وخت به له وخته تیر وي داسې او یو لړ نورو ستونزو ته په پام کې نیولو سره موږ اړتیا احساس کړه چې د افغان کلتوري ټولنو د یووالي په هڅو پیل وکړو او دغه ګام پورته کړو.

باید وویل شي چې په تیرو دریو لسیزو کې زموږ د هیواد حکومتونو د جنګي ماشینونو په توګه دنده اجرا کوله او فرهنګیانو د همت ملاوې وتړلې، کار یې وکړ، مهالنۍ یې را وویستې، نن د هیواد په هره ولسوالۍ او هر ګوټ کې د لوی خدای په فضل کلتوري یون په حرکت راغلی او په نړیواله سطح هم د افغانانو تر منځ دغه مبارکه لړۍ را پنځیدلې ده چې په اروپا، آسترالیا، امریکا، عربي او ګاونډیو هیوادونو کې هم دغه بهیر د افغانانو تر منځ چټکتیا موندلې چې یو غوره ګام بلل کیږي.

موږ چې کله دغه بهیر ته وکتل نو اړتیا مو احساس کړه چې دا مبارکې هڅې سره یو ځای شي او د دوی د هلوځلو څخه زموږ د کلتور د ودې په لاره کې سالمه استفاده وشي نو ځانونه به مو د موجوده او راتلونکو ګواښونو څخه ژغورلي او یو سم ځواب به مو ورته موندلی وي.

د روان کال په پیل کې پر کابل سربیره د افغانستان په ګوټ ګوټ او د نړۍ په زیاتو هیوادونو کې د افغانانو تر منځ دغه فکر ته ودې په لارو چارو غور وشو او د ددې لارې لارویانو په کابل کې و پتیله چې د هیواد د کلتوري ټولنو د همغږۍ لپاره هڅې وشي او په دې لړ کې د تدارک کمیټه جوړه شوه چې ورو ورو یې شمیره ۴۱ تنو ته ورسیده.

د تدارک د کمیټې غړو و پتیله چې په مرکز کې له اړوندو کسانو سره مشورو ته دوام ورکړي ولایتونو ته سفرونه وکړي څو د افغان کلتوري ټولنو لپاره د یوه ګډ میکانیزم، همغږۍ په رامنځته کولو کې هلې ځلې وکړي. همدارنګه داسې یوې سلسلې ته پراختیا ورکړل شوه چې ولایتي کلتوري ټولنې تر خپل منځ غونډې وکړي او د افغان کلتوري ټولنو جرګې ته استازي را معرفي کړي. همدارنګه د هیواد هره ټولنه به په آزادانه توګه خپل فعالیت کوي او له خپلو مساوي حقوقو څخه به برخمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي لويه او وړه ټولنه به نه وي بلکي ټولې به مساوي حقوق لري. د دې کار په لړ کې د هر ولايت په سطح دوه دوه استازي جرګې ته را معرفي شول.
موږ د خپلو سفرونو په لړ کې پکتيا، خوست او بيا د افغانستان شمالي ولايتونو ته سفر وکړ چې د هغه په لړ کې د کندز، بلخ، بغلان او تخار ولايتونه د يادولو وړ دي. بايد ووايو چې د تخار استازی کندز ته راغلل او په شمالي ولايتونو کې چې د دې بهير ښه راغلاست و شو او کومه مينه له موږ سره ځرګنده شوه د هيرولو نه ده او هغوی ډی ګيله من وو چې په پخوا وختونو کې په دې لړ کې هيڅ پاملرنه نه خو د مرکز څخه ورته شوې او نه د هغه ولايتونو له خوا چې دا ډول چارې په پراخه پيمانه هلته سر ته رسيږی او آرام ولايتونه شميرل کيږي.
هرات ته هم په دې لړ کې سفر وشو چې د هغه ځای د ښتنو اوسيدونکو له خوا له ورته هرکلي سره مخ شوو او موږ بايد د شمالي ولايتونو او هرات په وړاندې د پنځوسو کلونو کفاره ادا کړو او موږ په شمالي ولايتونو کې د ښاغلي بسيم په څير غښتلي خلك لرو.
بايد وويل شي چې په تخار کې دوې، په کندز کې څلور، په بغلان کې دوې او په بلخ کې هم دوې کلتوري ټولنې موجودې دي چې خپلې چارې له موجودو ستونزو، چلينجونو او ګواښونو سره سره په بريالی توګه پر مخ بيايی.
همدارنګه په وردګو، کندهار، هلمند او زابل کې هم د موجودو کلتوري ټولنو تر منځ هغه مهال جرګې جوړې شوې چې د تدارك کميټې پلاوي هلته سفرونه وکړل او د افغان کلتوري ټولنې جرګې ته يې استازي را معرفي کړل. په غزني، پکتيکا، پيښور او کويټه کې د موجودو کلتوري ټولنو چارواکو و پيتله چې دوی به په خپلو منځو کې سره غونډيږي او د ټاکلي ميکانيزم له مخې به استازي جرګې ته معرفي کوي چې دا کار هم په برياليتوب تر سره شو.
د دې خبرې يادونه ضروري ده چې په دې سفرونو کې د تدارك د کميټې له غړو سره هيڅا هيڅ ډول مالي مرسته نه ده کړې بلکي دوی په خپلو شخصي لګښتونو دغه ټول سفرونه سر ته و رسول. بايد ووايو چې نوموړی پلاوی هر ځای ته تللی نو بې د هغه ځا کلتوري يون ورسره بې مثاله مينه ښکاره کړې، ددې فکر ملاتړ يې کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله همکاري يې څرګنده کړې او په ډير ښه شکل يې خپل استازي جرګې ته را معرفي کړي دي.
استاد محمد آصف صميم زموږ سره د وردګو له ولايت پرته په ټولو سفرونو کې ملګری وو او استاد به نه يوازې يو سفر په دې لړ کې کاوه بلکي دوه ځلې به يې خپل سفر ته ادامه ورکوله يو ځلې له پيښور څخه کابل او بيا له کابل څخه ولايتي ته سفر کول. د ولايتي سفرونو د بشپړيدو سره جوخت دا دي نن د افغان کلتوري ټولنو جرګه وينو چې دلته جوړه شوې ده او تاسو ټول يې شاهدان ياست. د دې ناستې لپاره موږ په کابل کې فرهنګي پلاوي او په پلازمينه کې د ځينو ميشتو فرهنګيانو له منځه د تدارک کميټه، د غونډې د تدوير کميټه، تخنيکي ډله او ميلمه پال ګروپ جوړ، کړنلاره تهيه او داسې نور ضروري ګامونه پورته کړل. د غونډې د مالي لګښتونو لپاره د هيواد يوه ملي سوداګر ښاغلي نجيب زراب ته مراجعه وشوه چې د دې غونډې پر لګښتونو سربيره يې نوره مرسته هم کړې ده چې د جرګې په نورو ضروري چارو کې به ستاسو په خوښه ولګيږي او د جرګې ټول ګډونوال منته ترې کوي.
پتيل شوې وه چې د دې مقصد لپاره به لومړۍ يوه لويه غونډه جوړيږي او د هيواد د ټولو ټولنو غړي او يو زيات شمير ميلمانه به ګډون پکې کوي او بيا به د جرګې لپاره پر ضروري موادو باندې کار کيږي خو د دې لپاره چې په يوه لويه غونډه کې په مشخصو مسايلو کار کول څه آسانه خبره نه ده او بل دا چې د غونډې خبرو څه مثبته پايله درلودلې وي او ستړې کوونکې نه وي نو لازمه و ګڼل شوه چې د دې مقصد لپاره خپله لومړۍ غونډه محدوده کړو او يوازې د تدارک د کميټې د غړو او ولايتي استازو لپاره يې ځانګړې کړو او بله لويه غونډه به په نږدې راتلونکې کې هرو مرو رابلل کيږي چې په هغه کې د هيواد له ګوټ ګوټ او مرکز څخه په زيات شمير ګډونوال ګډون پکې کوي او څوک به بهر نه ترې پاتې کيږي.
زموږ د ټولنې د هلو ځلو لړۍ په اروپا کې هم د موجودو افغان فرهنګي ټولنو تر منځ دوام لري چې مخکې له مخکې رامنځته شوې وه، په دې لړ کې د هغوی لارښوونې او همکارۍ هم راسره مل دي او د تيلفون له لارې به همدا نن له موږ سره خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيغامونه تبادله کړي. موږ خپلې اړيکې ورسره تنظيم کړې او هغوی به هم همدا نن غونډه کوي او له افغان کلتوري ټولنو سره به خپله همغږي اعلانوي.
د دې خبرې يادونه هم ضروري ګڼم چې زموږ سره د دې غونډې په جوړولو او تنظيم کې زياتو ورونو په داوه طلبانه شکل برخه اخيستې او مرسته يې راسره کړې ده چې له ټولو څخه زياته مننه کوم خو په دې لړ کې د هيواد مشهور کمپيوټر پوه او با احساسه ځوان ښاغلي اسرار کريمزي د تخنيکي هڅو، منډو او ترړو په ځانګړي ډول يادونه وکړم چې له موږ سره يې زياته همکاري کړې ده، زيات مسووليت يې پر غاړه درلودلی او په دې لاره کې يې ډيرې او هراړخيزه هلې ځلې کړې دي.

دغونډې په دې برخه کې د يوه خبرتيا خپره شوه چې متن يې په دې ډول وو:
د مطبوعاتو له راغليو استازو او د رسنيو له چلوونکو څخه په ډير درنښت هيله کيږي چې د دې غونډې راپور په خبري رسنيو کې خپور نه کړي.

# په اروپا کې د مېشتو افغان کلتوري ټولنو

# د استازو ټيلفوني پيغامونه

**ښاغلی زرين انځور/ جرمني**

د لوی خدای په نامه. تر ټولو د مخه د افغان کلتوري ټولنو د جرګې ټولو ګډونوالوته سلامونه او درناوی وړاندې کوم او په ګران کابل کې د فرهنګيانو او استازو د راټوليدلو په مناسبت تاسو ټولو ته د زړه له کومي مبارکي وايم او نيکې هيلې درته وړاندې کوم.
افغانستان په اوسنيو تاريخي شيبو کې کلتوري بيا آبادۍ ته سخته اړتيا لري، دا دوخت اړتيا ده، د هيواد د ټولنې اړتيا، د هيوادوالو د هيلو، آرمانونو، ارزښتونو او روانو ستونزو ته د مشترک ځواب موندلو اړتيا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په دې باور یو چې په دې لړ کې د تیت پرک فعالیتونو پر ځای یووالی، پیوند او همغږي ښه ده. په کابل کې دغه ننني راټولیدنه د داسې یوه ستر آرمان ننښه ده او د یوه ستر ملي آرمان په حیث ارزښت لري.

په اروپا کې زیاتره میشت فرهنګپال افغانان او د هغوی کلتوري یون ستاسو د پیوستون او را ټولیدلو ملاتړ کوي، موږ په بلجیم، جرمني، هالند، ډنمارک، سویډن، انګلستان او داسې نورو هیوادونو کې د افغان کلتوري ټولنو د یو ځای کیدو هلې ځلې کړې دي. زموږ تجربه دا ده چې د تفاهم، ګډ کار او پیوستون له لارې مهم کارونه تر سره کیدای شي او دغه ګام مو د همدې موخې د سر ته رسیدو لپاره پورته کړی دی چې همدې ته ورته مهم کارونه تر سره شي. د پیوستون جرګه، د کلتوري ټولنو جرګه او یا هم د تفاهم او ګډ کار کولو لپاره د ملي دریځ د پیدا کولو په موخه دغه راز جرګې اغیزمن کار سر ته رسولی شي. موږ په اروپا کې میشت کلتوري یون ستاسو د ننني ګام څخه کلک ملاتړ څرګندوو او د افغان ټولنو د ګډې جرګې د جوړیدو په مناسبت ټولو غړو ټولنو او د هغوی چارواکو ته مبارکي وایو. ښاغلی ډاکتر صاحب طارق رشاد به له هالند څخه او افضل ټکور به له انګلستان څخه هم له تاسو سره د زړه خواله وکړي او له تاسو سره به د خپل پیوستون غبر اوچت کړي ستاسو د بري په هیله متحد او سرلوړي اوسی.

**ډاکتر طارق رشاد/ هالند**

ښاغلي ډاکتر رشاد له هالند څخه خپل تیلفوني پیغام په دې ډول د افغان کلتوري ټولنو جرګې ګډونوالو ته وړاندې کړ:

لومړی مو سلامونه او نیکې هیلې ومنی

لا به ډیر ګلونه واه شي په دې بڼ کې     د بهار د غوړیدلو یې آغاز دی

ډیر خوښ یم او په زړه کې مې زیاتې خوښی را په ټوکیدو دي چې د یوه ګډ ریښتیني افغان کلتور د غوړیدو لپاره را غونډ شوي یو. په هیواد کې تیرو ناخوالو زموږ افغاني کلتور ته ډیر زیات زیان اړولی، موزیمونه، کتابتونونه، او ویاړونه مو لوټل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دي. ځينې تش په نامه سياستوال په خپلو پخوانيو شيطاني هيلو کې بند او غواړي چې زموږ کلتور ته زيان ورسوي.
دا ډول جرګه د علمي ګټو لپاره ډيره مفيده او زموږ د ګډ افغان کور د يووالي لپاره اړينه ده. نن زموږ يو شمير ملي ارزښتونه، تاريخي وياړونه، شملې او قلموال را غونډ شوي ځو دې خواته خپله پاملرنه واړوي او د خپلو ملي وياړونو په وده، ساتنه او پالنه کې ونډه واخلي.
همدارنګه نور نو چا ته اجازه ور نه کړل شي چې زموږ ملي ارزښتونو ته تاوان ورسوي او په اروپا کې ميشت افغانان او د هغوی کلتوري ټولنې ستاسو سره همغږې او ستاسو ملاتړې دي.

چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا ويل چې په درياب کې ګوهر نشته

زما په نظر د لاندې ګامونو په پورته کولو سره موږ خپل يون ته ښکلا او دوام بخښلی شو:

- د بيلابيلو ټولنو تر منځ اړيکو ته وده ورکول
- په هيواد کې کلتوري هڅو ته په پراخه پيمانه پراختيا ورکول
- ګډ کار او د خپلو شته امکاناتو شريکول
- د دې لپاره چې ژبه او تاريخ يوازې په يوه سيمه کې حصار پاتې کيدی نه شي نو د کوزې پښتونخوا د ليکوالانو سره هم اړيکې درلودل، د پښتو مرکه را منځته کول او په نړيواله کچه د پښتنو د يووالي لپاره د هڅو پراختيا.

يا به يو کيږو يا به ورکيږو
بريالي او سرلوړي اوسی.

**افضل ټکور/ انګلستان**

ښاغلي افضل ټکور له انګلستان څخه خپل تيلفوني پيغام په دې ډول د غونډې ګډونوالو ته واوراوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامونه او نیکې هیلې د غونډې ټولو ګډونوالو ته وړاندې کوم او دغه جرګه د پښتني کلتور د غوړېدو په لاره کې د یوه نوي باب په توګه ګڼم.
موږ هم د افغان ټولنو د ګډې جرګې د جوړولو په موخه همدا اوس په کار پیل کړی دی زموږ ټولنې به په اروپا کې تر خپل ممکن وس پورې له تاسو څخه خپلې هراړخیزې مرستې و نه سپموي او ځان د دغه ټولنې یوه برخه ګڼي.
کامیاب او سرلوړي اوسیږي.

# د ولایتي استازو ګزارشونه

د غونډې په دې برخه کې د ولایتي استازو د ګزارش وخت رارسیږي چې د ولایتونو استازي د الفبا د حروفو سره سم د خپل ګزارش د وړاندې کولو لپاره په دې ترتیب سره بغلان، بلخ، پکتیا، پیښور، تخار، خوست، زابل، غزني، کابل، کنړ، کندز، کندهار، لغمان، لوګر، ننګرهار، وردګ، هرات او هلمند را وغوښتل شول او خپل ګزارشونه یې وړاندې کړل.

**د بغلان ولایت/ عبدالغفور بسیم**

د مرکز څخه چې کله د جرګې استازي راغلل نو موږ ورته ډیر ګیلې وکړې او د ګیلو سره سره موږ ته دا هیله را پیدا شوه چې موږ یوازې نه یو.زه غواړم چې د خپل ګزارش په لومړي سر کې د شمالي ولایتونو د پښتنو یو وړوکی تصویر درته وړاندې کړم په هغه ولایتونو کې حالت داسې وو چې موږ یو وخت په خپله پښتو خبرې نه شوې کولای او دا یو لوی جرم وو ځوک به چې په پښتو غږیدل، د افغانستان یووالي غلیمانو به بد بد ورته کتل او د دوی په کتلو کې یوه نړۍ مفهوم پروت وو چې تاسو ښه پرې پوهیږی زه حیران یم چې د دې هیواد د یووالي د غلیمانو په زړونو کې څومره کینه او څومره زاړه او کرکجن افکار د دوی په مغزونو حاکم وو او دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د دې جرګې په جوړېدو او د دې غونډې په رابللو ډېر خوښ يم او د ټول شمال فرهنګيان هم پرې خوښ دي او زه فکر کوم چې د شمال د ليکوالو د خوښی اندازه به له نورو څخه زياته وي. په شمالي ولايتونو کې يو وخت په پښتنو داسې حالت راغی چې د خپل پت او عزت د ساتلو په موخه مو زياتې خورلنې د خپلو کوچنيو ماشومانو سره يو ځای سيند ته ځانونه غوزار کړل او د دې ډول صحنو مستند دلايل شته دي که چيرې يې تاسو غواړی نو زه يې ښودلی شم.
د ښوونځيو لوحې، د حکومتي دفترونو لوحې ټولې په قصدي توګه پاړسی او نورو نومونو ته واړول شوې. د حسين خيلو د ليسې لوحه يوه ظالم کوماندان را ښکته کړه او يوازې له پښتو او پښتنو سره د تعصب په بنا يې د حضرت ابوبکر صديق (رض) نوم په دري ليکلی وو او هغه يې پرې نصبه کړه. د سيمې پښتنو مشرانو ورته وويل چې تا ولې دا کار وکړ حسين خيل زموږ قوم او زموږ د هويت ويندويی کوي په داسې حال کې چې موږ د اسلام د ستر خليفه حضرت ابوبکر صديق (رض) له نوم سره هيڅ راز مخالفت او حساسيت نه لرو خو دلته يې اړتيا څه ده ولې د هغه نومونه نه بدليږي چې پاړسي دي نو دا کار له پښتو سره د تعصب او مخالفت پرته بل څه مانا لري. خو کوماندان له کوم معقول ځواب پرته وويل چې زه دا حق لرم چې څه مې زړه وغواړي په سيمه کې يې وکړم. د بغلان د ولايت نوم هغه مهال پښتو وو چې کله هلته جمعه خان همدرد والي وو خو له بغلان څخه د نوموړي تر تبديلی وروسته يې سمدلاسه د ولايت مخې ته کرينګ راووست د خدای لپاره دومره تعصب وو چې د يوې پښتو لوحې د بدلولو لپاره يې ورته کرين راووست پښتو لوحه يې را ټيټه او پر ځای پاړسي لوحه نصبه کړه. هلته په بغلان او شمال کې هندي ژبه خوښوي، انګريزي ژبه خوښوي او په ډيرو ځايونو د پاړسي تر څنګ په انګريزي ژبه لوحې شته او د هندي فلمي نجونو عکسونه يې پرې نصب کړي وي خو پښتو نشي زغملی و لوکه پر يوه وړوکې لوحه باندې هم وي.
يوه ورځ زه د هغه ځای د ژورناليستانو او ليکوالانو يوې غونډې ته ورغلم چې د ميرهزار د نيولو له کبله يې راغوښتې وه ما ورته وويل چې رښتيا هم دا خو ښه کار نه دی خو هلته د آصف ننګ په نوم يو بل ليکوال هم نيول شوی دی د هغه نوم هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پريکړه ليک کې شامل کړی چې زما له ډير ټينګار وروسته يې دا کار وکړ او د ښاغلي آصف ننګ نوم يې هم په پريکړه ليک کې شامل کړ.
په داسې يوه ماحول کې بيا هم پښتانه ليکوالان کار کوي او د ۱۳۸۵ کال د دلوې د مياشتې په ۲۶ نيټه يې د بغلان ادبي بهير او چونغر ادبي بهير په نومونو د خپل موجوديت اعلان کړی او د شاعرانو په راټولولو کې يې خپل مثبت کردار ادا او د پسرلي په نوم مجله يې چلولې ده. په سيمه کې زموږ فزيکي موجوديت ډير برجسته دی او وياړو چې په دې جرګه کې برخه اخلو او تمه ده چې له دې جرګې وروسته به بيا هم هلته چارې په ګړندۍ توګه روانې وي.

## د بلخ د ولايت استازی/ فاروق خپلواک

زه يو انجنير او د بلخ پوهنتون د انجنيرۍ په پوهنځۍ کې استاد يم خو په ځان فرض ګڼم چې د خپل وس مطابق پښتو ژبې ته خدمت وکړم.
د هيواد د شمالي ولايتونو په هکله چې کومې ستونزې ښاغلي بسيم صاحب بيان کړې د هغه ټولو تاييد کوم او هلته د پښتنو لپاره حالت په همدې ډول بلکې کله کله له دې هم بدتر دی چې تاسو واوريدل.
موږ وايو تر څو چې له خپلو غاړو څخه د ډار تاويزونه لرې نه کړو نو د هراړخيزې کاميابۍ راتلل به يو خوب او خيال وي او هيڅکله به خپلو موخو ته و نه شو رسيدلای بلکې تر ممکن حد پورې هڅه او تلاش په کار دی. موږ په دې لړ کې هم له حکومت او هم د هيواد د هغو سيمو له فرهنګيانو څخه ګيله من يو چې سيمې يې آرامې او په ډاډه زړه خپلو کلتوري هڅو ته دوام ورکوي ځکه چې له هندوکش څخه اخوا د شمالي ولايتونو ميشت پښتانه يې هير کړي دي.
زه د اساسي قانون لويې جرګې ته د بلخ د خلکو په استازيتوب راغلی وم، د يوې جرګه ګۍ د منشي توب لپاره ټولټاکنې تر سره کيدې چې زه هم ورته کانديد وم او له ماسره د پکتيا ځينې وروڼه هم په دې جرګه ګۍ کې وو سره له دې چې زه يې پيژندلم چې پښتون يم خو دا چې زه د بلخ له ولايت څخه وم نو ماته يوه هم رايه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړه دا کيسه مې د دې لپاره وکړه چې له هندوکش اخوا پښتانه هير شوي او څوک يې په حساب کې هم نه راولي نه پښتانه او نه هم حکومت.

منلی صاحب موجود دی هلته دوه تلويزني شبکې د ملي تلويزيون او آرزو په نومونو په سيمه کې خپرونې کوي بايد مکلف وګڼل شي چې ۵۰٪ پښتو او ۵۰٪ په نورو ژبو خپرونې وکړي بايد مراقبت يې وشي او اوس مهال د دې تلويزيوني ټولې خپرونې په نورو ژبو دي پداسې حال کې چې د سيمې نيمايی هستوګن وګړي پښتانه دي دا ولې؟

داسې يو حالت حاکم دی چې په معارف کې د پښتو مضمون ښوونکې په پښتو نه پوهيږي زما يوې لور ته يې د يوه پښتو متن په ترڅ کې (تنده) چې په دري کې تشنګي ورته وايی په پيشاني ترجمه کړی وو.

موږ په دې و توانيدو چې په لومړي ځل د افغانستان په شمالي سيمو کې د پرخې په نوم مجله را وباسو او له خپلو جيبونو او معاشونو څخه هغه ته مالي پانګه تهيه کړو احساس صاحب او لحاظ صاحب موجود دي چې دوی ډيرې هلې ځلې په دې لاره کې کړې دي او د پسرلي مجله هم د پرخې په دفتر کې چاپيږي.

**وړانديزونه:**

- د ادب او فرهنګ استادان دې له موږ سره همکاري وکړي او بل دا چې هلته مسلکي کدر نشته
- د بلخ په پوهنتون کې د پښتو د ديپارتمنت د استادانو په هکله جدي غور وشي او که ممکنه وي نو لايق او په نوې ادبي نظريه سمبال استادان دې ورته په ګوته شي ځکه هلته اوس هم چې ځينې استادان شته نو هماغه زاړه متنونه د پخواني نصاب په اساس تدريس کوي او د نور اضافي معلومات درک نشته.
- د شمال د پنځو ولايتونو لپاره د ادبي استازو ګمارل په کار دي، وظيفه دې ورکړل شي، د کابل اوسيدونکي ليکوالان دې له موږ سره منظمې اړيکې ولري او د شمالي ولايتونو له ادبي بهير سره دې بشپړه همغږي رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- داسې یوه کړنلاره دې و ټاکل شي چې د زون په سطح کار وکړي په دې لړ کې یو رییس او یو منشي دومره ګټور نه تماميږي باید چې اجراییه کمیټه د زون په سطح انتخاب او په کار پیل وکړي.
- د ښوونې او روزنې بهیر هلته داسې دی چې کاملا ټول شی په پاړسي دي او د پښتنو د بچیانو لپاره په سیمه کې په خپله ژبه د تعلیم سهولت نشته باید چې په دې اړه هڅې وشي، تماسونه و نیول شي او زموږ ستونزې راکمې کړل شي.
- داسې کسان دې د پښتو ژبې د تدریس لپاره نه ګمارل کیږي چې په پښتو ژبه نه پوهیږي بلکی په دې هکله که ممکنه وي نو سمینارونه دې جوړ شي او معقول خلك دې د همدې موخې لپاره په کار و ګمارل شي.

**د پکتیا د ولایت استازی/ ډاکتر محمد هاشم مصور**

د افغان ادبي ټولنو جرګه یو داسې نوښت دی چې نوم به یې د هیواد په تاریخ کې په زرینو کرښو لیکل کیږي.

د پکتیا په اړه باید ووایم چې دغه ولایت د علم یو داسې ټاټوبی دی چې ۵۰ کاله وړاندې هلته د وړانګې په نوم یوه جریده خپریده او د صدیق روهي، سلیمان لایق او مولوي نصرالله منصور په څیر ادبي څیرې لري چې پښتو ادب ته یې درانه خدمتونه سر ته رسولي دي.

پکتیا ولایت ۹ کلتوري ټولنې لري او ۱۱ خپرونې چې د ننښتر، غوړګه، سلیمان غر، واوره، زرکه او داسې نورې د یادولو وړ دي

د دې ولایت کلتوری یون په دې توانیدلی چې د په دې څو وروستیو کلونو کې تر ۳۰ عنوانه زیات مختلف کتابونه چاپ او نشر کړي د سپینې شګې او سپین غر په ټولنو کې نه یوازې د دې ولایت ادبي کړۍ برخه لري بلکې له سرحده اخوا پښتانه هم ورته راځي او عړیتوب پکې لري.

په دې ولایت کې د انځیرو کلتوري ټولنه په خپله خبرونه را وباسي او نورو رسنیو ته یې تهیه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پکتیا د ولایت کلتوري یون توانیدلی دی چې د دې ولایت په مرکز ګردیز کې ټولې دولتي لوحې پښتو ته واړوي او د غیر متوازن فرهنګي پرمختګ څخه مخنیوی وکړي.

په خواشینی سره باید وویل شي چې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې د کارډلې فعال غړی او د پکتیا د ولایت استازی ښاغلی ډاکتر محمد هاشم مصور د جرګې د بنسټ ایښودونکې غونډې څخه څه موده وروسته په سیمه کې د یوې ناوړه پیښې له امله د شهادت لوړ مقام ته ورسیده روح یې دې ښاد او یاد یې دې تل وي. د افغان کلتوري ټولنو جرګې د شهید مصور په نامه یو خپرنیز بنسټ رامنځته کړ چې د ماشوم ادب ته ځانګړی شوی دی او تر دې مهاله یې څو کتابونه چاپ کړي دي.

## د پکتیکا د ولایت استازی/ محمد آصف ننګ

له حمد او ثنا وروسته نوموړي وویل:

زه به د حاجی مشال نیابت وکړم لازمه خو دا وه چې هغه راغلی وای او دلته یې تاسو ته د دې ولایت په هکله خپل راپور ویلی وای خو خیر دلته غرښته کټوازۍ هم شته ده چې په ولسي جرګه کې د دې ولایت یوه تکړه وکیله ده، امین کټوازی هم حضور لري او علم ګل سحر هم موږ د خپل ولایت بولو.

پکتیکا د سره خط یو ولایت دی او اوس مهال باید وویل شي چې ۱۶ پښتون میشته ولایتونه د خطر د سره خط په لیکه کې ولاړ دي او ۱۲ بد ولایتونه دی چې اوس مهال د ملي جبهې د زیاتو ملاتړو ولایتونه ګڼلی شو.

توکل په خدای دا حقیقت به هم ووایم: د زندانونو وضع په دې ډول ده چې سیاسي بندیان یې ۹۵٪ په سلو کې پښتانه دي خو یوه عجیبه موازنه داسې برابره ده چې د افغانستان په اوسني دولت کې ۹۵٪ په سلو کې دولتي چارواکي او مامورین په تاجکو او غیر پښتنو پورې تړاو لري.

د پښتنو په هکله داسې تبلیغ کیږي چې پښتانه کله هندوستان ته ولاړل او هغه ځای یې فتح کړ نو سومنات یې ورته مات کړ او چې کله انګریزان هلته ولاړل نو سړکونه او د ریل ګاډي پټلۍ یې ورته جوړې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پکتیکا خلك سره له دې چې وضع هلته دومره ښه نه بریښي خو هیله من دي او دغه هیله یې په ټنده کې وجود لري چې کله خو به د پرمختګ لړۍ هلته ور ورسیږي.
غاټول کلتوري ټولنه، مشعل کلتوري ټولنه، پکتیکا غږ اونیزه، پکتیکا غږ رادیو او داسې نور د دې ولایت کلتوري فعالیتونه دي چې د پکتیکا غږ اونیزه محمد حلیم فدایي چلوله او اوس مهال خپرونې نه کوي او د پکتیکا غږ رادیو اړوند کارونه ظاهر کریم کتوازی پرمخ بیایي.
ستونزې ډیرې په ولسوالیانو کې دي چې د دې ستونزو د لرې کولو لپاره ډیر وخت ته اړتیا شته ده. بل دا چې پکتیکا د لویو ښارونو او مرکز څخه زیاته فاصله لري او مطبوعات ژر نه ورته رسیږي. همدارنګه په دې ولایت کې د چاپ مرکزونه هم وجود نه لري. د دې سره سره سیاسي ستونزې هم په سیمه کې وجود لري.
یو وړاندیز کوم هغه دا چې زموږ په ولایت کې دې هم یوه داسې غښتلې غونډه لکه د منې ګل او نوور په څیر جوړه او د هیواد د نورو سیمو څخه دې هم لیکوالان ورته دعوت شي، ادبي بنډارې دې وکړي، ستونزې دې را وسپړي او د هغه لپاره دې حل لارې و لټول شي.

## د پیښور استازی/ جلال امرخیل

کله چې په افغانستان کې د سولې نوی بهیر پیل شو نو په پیښور کې حالات داسې شول چې د شاعرانو او لیکوالانو زیاتره برخه کابل ته راغلل او هغه ادبي غونډې چې هلته به کیدلې په ټپه و دریدې. باید وویل شي چې په هیواد کې د سولې د بهیر له راتللو څخه د مخه افغان ادبي بهیر، افغان فرهنګي ټولنې، افغان ادبي انجمن او یو شمیر نورو کلتوري ټولنو منظمې غونډې او پروګرامونه درلودل خو دغه بهیرونه هغه مهال د یوې مودې لپاره په ټپه و دریدل له نیکه مرغه ورته ووایو که څنګه چې د هیواد زیات شمیر شاعرانو، لیکوالانو او ادیبانو له پیښور څخه کابل ته خپلې کډې را بار کړې او خپل هیواد ته راستانه شول. خو په پیښور کې هستوګن افغان لیکوالو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځای له لیکوالو سره یو ځای یو ځل بیا په پېښور کې د ادبي غونډو د جوړېدو اړتیا محسوس کړه او خپلې هلې ځلې پیل کړې او د خوشحال په عالي لیسه کې یې د شهزاده شیرین زوی، احمدشاه وردګ، نصرت الهام او داسې نورو لیکوالو په نوښت غونډې پیل کړې او څلور نوې ادبي ټولنې رامنځته شوې چې د سیدجمال الدین افغان، افغان فرهنګي ټولنه، اصلاحي ټولنه یې د یادولو وړ دي چې د پېښور په مختلفو ځایونو کې خپلو کلتوري فعالیتونو ته دوام ورکوي.

**د تخار د ولایت استازی/ بادري صاحب**

زه د تخار د اوسیدونکو پښتنو له ډلې څخه یم او زما مسلك ریاضي او فزیك دی خو له خپلې ژبې سره بې ساري مینې زه دې ډګر ته راوستلی یم چې له تاسو سره یو ځای د کلتوري هڅو په بهیر کې یو ځای برخه واخلم.
د شمالي ولایتونو او په هغه ځای کې د هستوګنو پښتنو په هکله د نورو له خوا د بې عدالتۍ په اړه زه له بغلان څخه د ښاغلي بسیم او له بلخ ولایت څخه د ښاغلي انجنیر صاحب فاروق خپلواك خبرې تاییدوم. زه باید ووایم چې د احساس او مینې په تکل سړی له نورو سره ځي او د ادب لاره تعقیبوي. زه یو ډاکتر ته ورغلم او راته ویې ویل چې دلته پښتانه شته دي؟ ما ورته وویل چې هو. نو هغه وویل چې دا څرنګه پښتانه دي چې په خپله مورنۍ ژبه نه پوهیږي او د چا چې خپله ژبه نه وي زده نو هغه هیڅ دي او زه به هیڅ مرسته ورسره و نه کړم.
د پښتو څخه لرې محیط په پښتنو باندې ژوره اغیزه عورزوي او هلته په تخار کې حالات داسې دي چې د پښتون احساس یوازې د سلام په ورکولو سره درك کولای شي. د دې ستونزې د حل لاره چې هلته دې پښتو وده وکړي دغه وروښه دي چې امکانات لري دوی دې د هغو پښتنو لاسنیوی وکړي. هلته په تخار کې د پښتنو فیصدي ښه زیاته ده خو له بده مرغه چې ٩٨٪ پښتانه د بې سوادۍ په تورتم کې شیې ورځې تیروي او که لږ نیم او نیم ګور سواد څوك لري نو هغه بیا ټول په پاړسو دی چې له هره پلوه زموږ په پښتنو وروښو اغیزې پرې باسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ وکولای شول چې د لیکوالانو انجمن هلته رامنځته کړو چې درې کمیټې لري یوه یې د پښتو، بله یې د دري او بله یې د ازبکي ژبې د ودې لپاره کار کوي.
هلته داسې امکانات نشته لکه دا نور ولایتونه یې چې لري خو کوشش کوو چې د خپل وس مطابق یو څه وکړو.

**د خوست د ولایت استازی/ نصیر احمد روښان**

د خوست کلتوري وضع داسې ده چې په مرکز کې ستونزې نشته خو په ولسوالیو کې زموږ کلتوري بهیر له یو شمیر داسې ستونزو سره کله نا کله مخ کیږي چې یادونه یې نه کوم.
د تیرو پنځو کلونو په جریان کې د خوست په ولایت کې ۲۲ ټولنې رامنځته شوې چې په مرکز او ولسوالیو کې لسګونه جریدې او نورې رسنۍ را ویستلې او مشاعرې یې جوړې کړې دي د خوست د ځوان ادبي خوځښت په وسیله هره اونۍ هلته مشاعرې جوړیږي او د خوست د خپلواکې ټولنې په وسیله د علامه سیدجمال الدین افغان ۱۱۰ تلین په مناسبت علمي سیمنار جوړ شوی. دوه میاشتې وړاندې د صدیق روهي ۱۱ تلین په مناسبت علمي سیمنار جوړ شوی او د افغانانو د فرهنګ د پراختیا لپاره ګامونه ایښودل شوي دي.
د خوست د پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځی هم د کلتوري چارو د غوړیدو او سمون په لاره کې فعال ګامونه اخلي او وخت پر وخت مشاعرې دایروي چې اوس مهال د دې پوهنتون نوم د شیخ زاهد په نوم نومول شوی دی.
په دې تیرو دریو کلونو کې خوست ادبي بهیر ۲۲ عنوانه کتابونه چاپ کړي ۲۰ ادبي غونډې یې جوړې کړې او د اونیزو خپرونو شمیر یې له ۱۵ اوړي.
د خوست په ولایت کې د دولتي رادیو تلویزیون تر څنګ درې نورې خپلواکې رادیویي خپرونې هم کار کوي او د نړیوالې میډیا ځینې مرکزونه هم په کار بوخت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوست د ولایت په ولسوالیو کې زیاتره ادبي غونډې او مشاعرې د ښوونځیو په انګړونو کې جوړیږي خو د زموږ کلتوري بهیر د ولسوالیو په سطح د ځینو ستونزو سره مخ دی لکه د مناسب کتابتون نشتوالی، د امکاناتو محدودیت، د کلتوري چارو په سمون کې نمیګړتیاوې، تخنیکي ستونزې د دفتري تجهیزاتو او وسایلو نشتوالی یې عمده ستونزې ګڼل کیږي.

همدارنګه د چاپخونې د نشتوالي له کبله د خوست د ولایت مطبوعات یا خو کابل او یا هم پیښور ته د چاپ لپاره وړل کیږي چې هم زیات مالي لګښت پرې راځي، هم مو وخت مصرفوي، تکلیف غواړي او د لارو له تکلیف سره مخ وو.

په ۱۳۸۳ کال کې د دې ولایت ټولو کلتوري ټولنو د خوست د خپلواکې فرهنګي ټولنې تر نوم لاندې سره غونډې شوې او د دې ټولنې لارښودې شورى ته یې یو یو کس ور معرفي کړ خو له یو څه وخت وروسته موږ په دې و نه توانیدو چې خپل یووالی سره و ساتو نو بیرته هرې ټولنې خپل کار په جدا جدا توګه پیل کړ خو اوس مهال بیا ټاکنې تر سره شوې او د بشپړ یووالی لپاره کار روان دی.

له مرکز څخه چې کوم پلاوی راغلی وو د هغه په نوښت بیا د خوست ټولو فرهنګي ټولنو په ګډه استازی ورته معرفي او دوستانه اړیکې له سره جوړې شوې.

په خوست کې ۹۸٪ پښتانه او دوه سلنه نور وګړي ژوند کوي او موږ په مطبوعاتو کې له عدل څخه کار اخیستی او زموږ د خپرونو ۹۸٪ پښتو او دوه سلنه په دري خپرونې کوو چې د عدالت یو غوره مثال ګڼل کیږي او موږ په خوست کې هستوګن لږکی ته د دوی د نفوس په انډول خپل حق ورکړی دی.

بیا هم ستونزه په دولتي ادارو کې ده ځکه چې هلته د مکاتبې په لړ کې د پښتو لیکنو برخه کمزورې ده او موږ هلې ځلې کوو چې د هغه ځای د دفترونو ژبه سوچه پښتو شي.

د خوست د شیخ زاهد پوهنتون ۸ پوهنځیو زیات فارغین ورکړي چې په فرهنګي هڅو کې یې هم خپله پیاوړتیا څرګنده کړې ده، پنځه شورى ګانې لرو، سیاسي سازمانونه هم شته دي او د ادب سره د ټولو مینه د ستایلو وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زابل د ولايت استازی/ حبيب ګل ستانيزی

په زابل کې هم د لوی خدای په فضل کلتوري هڅې ګړندۍ او د ښه والي په لوري روانې دي. موږ د شيخ متي او ترنک په نامه کلتوري ټولنې لرو چې لاسته راوړنې مو په لاندې ډول دي:

- د بادام ګل کلنۍ مشاعره چې سږ کال يې څلورمه غونډه دايره شوه
- د ترنک په نوم مهالنۍ خپرونې
- زابل محلي راديو خپلې خپرونې په منظمه توګه کوي
- عبدالمنان هنر د سورساندې په نوم باندې د سيمې د شاعرانو او د خپرنديه شعرې ټولګې جوګه شو.
- سيد زابلي شعري ټولګه چاپ شوه او د دې وياړ لرو

وړانديزونه:

- دولت دې د خپل کاري پلان له مخې دزابل په ولايت کې کلتوري هڅو ته پراختيا ورکړي.
- دولت دې د هر ولايت د ماستر پلان له مخې ښاروالۍ ته امر وکړي چې د کلتوري ټولنو لپاره ځمکه په پام کې و نيسي او د هغوی په اختيار کې يې دې ورکړي.
- شهيد مړوند ټولګه چې د لالونو تر نامه لاندې يې  د سيمې د شاعرانو ژوند ليک او شعرونه پکې را ټول کړي دي يو ښه ابتکار ګڼل کيږي او موږ يې له ابتکار څخه مننه کوو.

### د زابل  ولايت فرهنګي ټولنې

| ګڼه | ټولنه | د ټولنې مشر | ګرځنده ټيليفون |
|---|---|---|---|
| ۱ | ترنک ادبي ټولنه | فقير الله درويش | |
| ۲ | شيخ متي ادبي ټولنه | حبيب ګل ستانيزی | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غزني د ولايت استازی/ اسدالله جلالزی

د غزني په ولايت کې کلتوري چارې په لاندې ډول دي:

بايد ووايم چې په دې ولايت کې د امنيتي ستونزو له کبله کلتوري هڅې هغه ډول نه دي چې بايد وای او د پښتيا سره مخ دي خو بيا هم ځينې ټولنې شته دي چې استاد غلام جيلاني، پسرلي، انيس، قره باغ، شلګر، اجرستان او يو شمير نورې ټولنې يې د يادولو وړ دي.

د خپرونو نومونه يې لونګ، زمزمه، مرسله، غزنوني او غزني اونيزه ګڼل کيږي.

په غزني کې پښتانه اکثريت دي او د فرهنګي ټولنو تر منځ يووالی موجود دی خو پاملرنه نه راته کيږي.

زموږ اساسي ستونزه د مسلکی کدرونو نشتوالی دی او بايد ووايو چې په هغه غزني کې دغه نشتوالی محسوس کيږي چې يو وخت د هيواد پلازمينه، د شاهانو انګړ او د لرغوني تاريخ درولودونکی دی.

بل دا چې غزني ته پښتو کتابونه نه وړل کيږي او نه ورته رسيږي او موږ د يوه پښتو کتابتون د جوړيدلو سخته اړتيا محسوسوو. په دې لړ کې د امين کټوازي په مرسته د استاد پسرلي د ځيړن غونډې په مناسبت ځينې کتابونه غزني ته راوړل شول حتی د هغه ځيړنغونډې پر مهال په ټول غزني کې د هيواد د خوږ ژبي شاعر محمد صديق پسرلي صاحب يو کتاب هم نه پيدا کيدو چې ښاغلي امين کټوازي له کابل څخه ورسره راوړو. موږ په دې لړکې د پښتو کتابونو مرستې ته سخته اړتيا لرو.

يو خو پښتو چاپ شوي کتابونه غزني ته نه رارسيږي بل دا چې د دې ولايت د فرهنګيانو د را غونډيدو لپاره مناسب ځای نشته دی.

د غزني په ولسواليو کې فرهنګي غونډې کيږي خو دا چې ولسوالی له يوې او بلې څخه ډيره فاصله لري نو يوه مناسبه همغږي په دې هکله وجود نه لري.

د ښاغلي امين کټوازي او علم ګل سحر په مرسته او هڅو د يوې هستې د بنسټ ډبره کيښودل شوه او د استاد پسرلي کتابتون يې غزني ته را انتقال کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوچیانو د لیلیې لپاره هم ښاغلي امین کټوازي صاحب د څو پایې کمپیوټرونو مرسته وکړه.
په غزني کې د میوند په نامه د فرهنګیانو اتحادیه جوړه شوه خو په شریکه توګه کار نه دی شوی، علت یې دا دی چې دې اتحادیې پښتنو لیکوالو ته پاملرنه و نه کړه او هغه یې سره یوې خوا ته کړل او د اتحادیې نوم یې هم له میوند څخه د (ملت واحد) نوم ته واړاوه.

## د کابل د ولایت استازی/ نذیر احمد نذیر

ښاغلي نذیر احمد نذیر د کابل د ولایت ګزارش په دې ډول وړاندې کړ:
په کابل کې څه نا څه ۱۵ پښتو ادبي ټولنې موجودې او په کار بوختې دي، فرهنګي چارې سر ته رسوي او غونډې را بولې چې د افغان ادبي بهیر اونیزه غونډه د دې هڅو په لړ کې تر ټولو مهمه ګڼل کیږي چې په منظم ډول غونډې کوي چې د ګډونوالو شمیر یې تر ۱۵۰ پورې رسیږي.
په کابل کې یو شمیر مجلې خپریږي چې مهمې یې ګوربت، څولۍ، لپه او داسې نورې ګڼلی شو.
په کابل کې ۱۴ بیلابیل عنوانونه کتابونه چاپ او خپاره شوي دي او په پلازمینه کابل کې ۲۵۰ افغان لیکوال ژوند کوي.

**ستونزې او ګواښونه:**

- د ادبي غونډو او سیمنارونو لپاره د ځای نشتوالی
- د ښځو لپاره د ځانګړې کلتوري ټولنې نشتوالی
- د پښتو کتابونو د عامه کتابتون نشتوالی

**حل لارې او وړاندیزونه:**

- په کابل کې د ښځو د کلتوري ټولنې لپاره همدا نن د بنسټ ډبره کیښودل شي او یوه ټولنه دې ورته تاسیس شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د مالي سرچينو د تامين لپاره دې له حکومتي چارواکو او ملي سوداګرو سره منظم تماسونه ټينګ او په دې هکله دې د همغږۍ يو تړاو رامنځته شي.

**د کنړ د ولايت استازی/ قادرشاه قادر**

د پښتو ژبې د کلتورې ودې په لاره کې موږ نه يوازې د دې هيواد د هغو غليمانو څخه ګيله لرو چې موږ ته يې مخامخ او زموږ په شا کې سنګرونه نيولي او په کمين کې راته ناست دي بلکي پښتو ژبه له پښتنو څخه هم سر ټکوي چې په خپله د خپلې ژبې ضد او د دې ژبې د پرمختيا لاره يې خنډ کړې ده. که څوک د خپل کلتور د ودې لپاره کار کوي نو متهم کيږي. زه وړانديز کوم چې دغه ورونه دې له حکومتي چارواکو سره رابطه ټينګه کړي او هغه څوک دې د حاکمانو په حيث ولايتونو ته نه استوي چې د سيمې له ژبې، کلتور، دودونو او رواجونو څخه ناخبره وي.

د کنړ ولايت د سيدجمال الدين، ډاکتر کبير ستوری، بهاوالدين مجروح، مستوره شال، هاشم زماني او يو شمير نورو نومتو ادبي او علمی شخصيتونو ټاټوبی دی.

په کنړ کې ادبي بهير او لاسته راوړنې په دې ډول دی چې يو شمير فرهنګي ټولنې لري چې نومونه يې دا دي:

- سيد جمال الدين افغان فرهنګي ټولنه
- د ځوانانو اسلامي ټولنه
- شيګل
- اسمار
- فرهاد
- شپول
- د ځوانانو خپلواکه ټولنه
- ځوان ادبي بهير
- عبدالخالق اخلاص ټولنه
- څوکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ملي ارمانونه
- د درمنو ژورنالیستانو افغاني ټولنه

رسنۍ او خپرونې:

- کنړ غږ
- خوځښت
- غنچه
- ستوری
- کنړ اونیزه
- کنړ مجله
- آفاق
- سپرغۍ

ښاغلي قادرشاه قادر زیاته کړه چې ما د کنړ په یوه مهمه اداره کې درې کاله یوازې د دې مقصد لپاره سکرتریت وکړ چې دولتي مکاتبه په پښتو وکړم او په دې ولایت کې اوس مهال زیات دولتی مکتوبونه په پښتو لیکل کیږي.

**د کندز د ولایت استازی/ غلام حیدر حیدر**

موږ په داسې یوه حالت کې قرار لرو چې ستونزې مو ځوک نه اوري خو له ستونزو سره مقابله په کار ده. د کندز د ادبي او کلتوري ټولنې بنسټ په ۱۳۸۴ کال کې کیښودل شو او په دوو لویو ولسوالیو کې چې د دشت ارچي او چاردرې په نومونو یادیږي زموږ فعالیتونه په ښه توګه دوام لري.

د ځانګې ادبي کلتوري ټولنه چې د وزیرمحمد ګل خان مومند په نامه یې همدا نن لویه مشاعره دوام لري او د تیلفون د لارې یې ماته د مشاعرې د بهیر یوه برخه را واورله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل دا چې پسرلی ادبي ټولنه هلته هره اونۍ مشاعره کوي او د ریدي ګل لویه کلنۍ مشاعره په کندز کې جوړیږي چې د منې ګل، نارنج ګل او باداګل له مشاعرو سره یې خپله همغږي ښودلې ده او هر کال د کندز په ولایت کې جوړیږي.
د کندز ولایت د پسرلي صاحب، اکبر اکبر، ننګ یوسفزي، منهاج الدین ګهیځ، عسکر، عبدالقیوم، سعدالدین شپون او داسې نورو ادبي ستو ټاټوبی ګڼل کیږي.
د کندز ولایت یو شمیر خپرونې لري چې نومونه یې په دې ډول دي: سوغات، سنځله، افغانستان امروز، میدیوتیک خپرونه چې ټکی پښتو نشته پکې، بوستان، وطن غږ، هندوکش، کندز، نګین او بصیرت.
په کندز کې دوې راډیوګانې فعالې دي او خپلې خپرونې کوي چې زهره او جیحون په نومونو یادیږي او عبدالشکور دوست یې چلوي.
ملي راډیو تلویزیون هم هلته خپرونې کوي خو پښتو خپرونې نه خپروي.
په کندز کې عامه کتابتون وجود نه لري د فرهاد دریا ورور میرویس ناشر وغوښتل چې یو کتابتون جوړ کړي خو هغوی وویل چې تاسو لومړی کتابونه پیدا کړی نو بیا به موږ کتابتون درته جوړ کړو خو موږ وایو چې تاسو لومړی د کتابتون ودانۍ جوړه کړی نو بیا به موږ ورته کتابونه راوړو چې  نوموړې موضوع په همدې ټکو کې تراوسه پاتې ده او کتابتون نه دی جوړ شوی.
موږ هیله لرو چې د کندز ولایت ته د لیکوالو او ژورنالیستانو علمي، سیاحتي او ادبي سفرونه وشي. په کندز کې د میدیوتیک دفتر د داسې سفرونو په لړ کې له نورو ولایتونو څخه لیکوالان بیایی چې له خوست څخه یې یو کلتوري پلاوی بیولی وو خو هلته یوازې دري ژبي خلک ورښیي او هیڅ پښتون لیکوال یا ژورنالیست نه ورښیي بلکي د میدیوتیک دفتر او چارواکي له پښتو سره زیات تعصب لري.
میدیوتیک له نوور ولایتونو څخه راغلیو پلاوو ته داسې انځوروي چې دلته ګڼې یو پښتون هم نشته په داسې حال کې چې د کندز د اوسیدونکو ٪۶۵ اوسیدونکي ټول پښتانه دي.
باید وویل شي چې د کندز په مرکز کې ٪۶۵ او په ولسوالیو کې ٪۵ پښتانه ژوند کوي خو په دې ولایت کې د ۲۵۰ لیسو او ښوونځیو څخه یوازې ۱۰ په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تدریس کوي او د نورو ټولو تدریس په دري ژبه دی چې په ظلم او ناروا سره په پښتنو باندې تحمیل کیږي.
بل دا چې د دې ولایت دولتي لوحې ٪۱۰۰ پارسي دي او پښتو لوحه به قطعا هلته و نه ګورې حتې د سپین زر تصدي یې هم پارسي ته اړولې او لیکلي یې دي ( تصدي سپین زر کندز) زه حیران یم چې دا سپین زر یې ولې په دې لوحه کې پرې ایښي دي د شیرخان لیسې لوحه یې په (لیسه شیرخان) باندې واړوله انګریزي په لوحه کې لیکي د هندي فلمونو د لوبغاړي شاروخان او هندي نجونو عکسونه په لوحو کې ټینګوي خو له پښتو ژبې سره یې بې پایانه تعصب را نښلولی دی.

## د کندهار د ولایت استازی/ انجنیر شیرشاه رشاد

د کندهار د ولایت کلتوري ټولنو په استازیتوب تاسو ټولو ته سلامونه وړاندې کوم او دهغو کسانو لپاره د لوی خدای ج له دربار څخه اجر غواړم چې په دې لاره کې یې هلې ځلې کړې دي. په دې لړ کې د لویو ملي او کلتوري پریکړو کول د وخت اړتیا او یو مهم کار دی خو تر دې لا مهمه خبره دا ده چې موږ څومره کولی شو خپلې پریکړې عملي جامه ور و پوښو او هغو ته ژمن پاتې شو.
په کندهار کې ۸ کلتوري ټولنې وجود لري چې د بینوا، هیواد، میوند، ویښ ملګري، اراکوزیا، علامه رشاد او داسې نورو نومونو یادیږي.
په همدې ولایت کې درې هنري ټولنې شته دي چې کندهار، ننداره او عزیزي سینما په نومونو یادیږي البته د سینما څخه مطلب یوازې هغه سینما نه ده چې صحنې ښکاره کوي بلکې دلته خبره د هنري کړنو ده.
په کندهار کې ۱۲ خپرندویه ټولنې شته دي او په دې څو کلونو کې یې ۹۸ مختلف عنوانونه پښتو کتابونه چاپ کړي دي چې ۳۱ ټوکه کتابونه بینوا، ۲۲ ټوکه نارنج، ۱۱ ټوکه هیواد، ۹ ټوکه علامه رشاد، ۱۱ ټوکه AF او یو ټوک سورغر خپرندویه ټولنې چاپ کړي دي. همدارنګه د اطلاعاتو او کلتور ریاست ۱۳ اثره او د پوهنې ریاست ۱۰ اثر کتابونه په چاپ رسولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار پنځه مجلې لري چې په خپل وخت خپرېږي او نومونه یې ښکلا، رڼا او نور دي او د اونیزو نومونه یې سورغر، هڅه، خوځښت او طلوع افغان دي.
په تیرو څو کلونو کې په کندهار کې ۱۲ علمي سمیناورنه جوړ شوي او څو دولتي راډیوګانې او تلویزیون کار کوي چې نومونه یې هیواد، ملي، افغان آزاده راډیو او داسې نور دي.
په کندهار کې د ځوانانو د روزنې لپاره ۱۴ شخصي مرکزونه په کار بوخت دي او په مختلفو ساحو کې ځونان روزي. همدارنګه د دې ولایت په سطح ۷ بریښنا پاڼې او ویبلاګونه هم د پښتو ژبې د چوپړ لپاره د انټرنیټ په نړۍ کې په کار بوختې دي.
یوه ستونزه هلته دا ده چې اکثره فرهنګیان خپلو پریکړو ته ژمن نه دي که دغسې یو امکان جوړ شي نو د راتلونکو پرمختګونو لپاره به ډیر ښه وي.
په آخر کې یوه لنډه یادونه کوم هغه دا چې هغه حرکتونه، کلتوري هڅې او سیاسي خوځښتونه چې دلته په پلازمینه کې را منځته کیږي داسې دې نه کوي چې بیرته د دې ښار په کوڅو کې له منځه ولاړې شي او کارونه یې یوازې په دې ښار پورې محدود وي بلکي خپلې هڅې دې افغانستان شموله کړی نو بیا به یې اغیزې زیاتې وي.

## د کندهار ولایت فرهنګي ټولنې

| ګڼه | ټولنه | د ټولنې مشر | ګرځنده ټیلیفون |
|---|---|---|---|
| ۱ | ښنوا فرهنګي ټولنه | عبدالاحمد محمدیار | ۰۷۰۰۳۱۱۲۷۹ |
| ۲ | هېواد کلتوري ټولنه | واصل حسن یار | ۰۷۰۰۳۰۶۰۸۵ |
| ۳ | میوند کلتوري ټولنه | عبدالنافع همت | ۰۷۰۸۱۹۸٤٥۱ |
| ٤ | هینداره کلتوري بنسټ | غوث الدین فروتن | ۰۷۰۳۰۳۰٥٤ |
| ٥ | ویښ ملګري فرهنګي ټولنه | عبدالجبار ترنګ | ۰۷۰۰۳۱۲۷٤٦ |
| ٦ | علامه رشاد اکاډمي | انجنیر شېرشاه رشاد | ۰۷۹۹۸٥۰۳۳٤ |
| ۷ | احمد شاه بابا علمي او ادبي ټولنه | عبدالباقي پوپل | ۰۷۰۰۳۰٤٦۰۱ |
| ۸ | پنجوایي ادبي ټولنه | خلیل احمد خارن | ۰۷۰۰۹٦۰۰٥۰ |
| ۹ | اراکوزیا افغان کلتوري او فرهنګي ټولنه | محمد نسیم | ۰۷۰۰۳۰۰۱٦۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | کندهار نندارہ او فلم مرکز | فضل احمد انیس | ۰۷۰۰۲۱۶۲۱۹ |
| ۱۱ | د لوی کندهار د زده کوونکو ټولنه | عبیدالله تسل | ۰۷۰۰۳۰٤۱۱۱ |
| ۱۲ | شمله فرهنګي ټولنه | جان محمد صالح | ۰۷۰۰۳۲۹۱۲۰ |

## د هلمند ولایت فرهنګي ټولنې

| ګڼه | ټولنه | د ټولنې مشر | ګرځنده ټیلیفون |
|---|---|---|---|
| ۱ | بست فرهنګي ټولنه | بریالی هلمند | ۰۷۹۹۰۶۱۳۲۵ |
| ۲ | هلمند کلتوري ټولنه | شاه محمد درویش | |
| ۳ | د ښوځوانانو علمي او کلتوري ټولنه | ډاکټر اشرف | |
| ٤ | دهلمنددمحصلینواوزده کوونکوعلمي اوکلتوري ټولنه | عبدالحکیم حکیمي | ۰۷۰۸۲۲۹۰۶۹ |

**د لغمان د ولایت استازی/ الله یار تلاش**

زه باید ووایم چې د لغمان نوم په علمي لحاظ افغانستان شموله دی او زیات علمي خدمتونه یې سر ته رسولي دي.

د پښتو کلتور، هڅې، ادب او د هغه پراختیا د زیات اهمیت وړ ده او په دې لاره کې د هراړخیزو هڅو پیل کول اړین ګڼم.

موږ د لغمان د ولایت کلتوري ټولنې له دې جرګې څخه خپل هراړخیز ملاتړ څرګندوو او د پښتو ادبي بڼ د غوړېدو په لاره کې یې ډېره ګټوره بولو.

ژبه او ادب په ټولنه کې داسې اهمیت لري لکه په بدن کې د روح او ساه اهمیت دی نو له همدې کبله ډېره پاملرنه ورته په کار ده.

د لغمان په ولایت کې اوس مهال ۱۰ مجلې، جریدې او مهالنۍ خپرېږي له بلې خوا ملي رادیو تلویزیون هلته فعال دی او یوه خپلواکه رادیو هم خپرونې کوي.

موږ وایو چې زموږ کلتوري یون دې له تعرض څخه محفوظ وي او په دې لاره کې باید هلې ځلې وکړو او موږ ته هم نه ښایي چې د بل چا په کلتور باندې تعرض وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوګر د ولایت استازی/ سیداحمد حرپیال

د لوګر ولایت درې فرهنګي ټولنې لري او هره اونۍ مشاعره کوي چې د دې ولایت په لسګونو شاعران او لیکوالان ورته راځي او ګډون پکې کوي

په لوګر کې د سنځل ګل په نامه باندې کلنۍ مشاعره جوړیږي چې سږ کال یې دریم کال وو او دغه کلنۍ مشاعره جوړه شوه.

لوګر دوې لویې دودیزې مشاعرې او خپرونې لري مشاعره د سیمې له رادیو څخه هم خپریږي. د لوګر ولایت یوه اونیزه جریده لري چې بده مرغه یوازې ٪۱۰ پښتو وي.

په لوګر کې د اطلاعاتو او کلتور ریاست یوازې تش په نوم باندې دی او نور هیڅ ډول ګټور پروګرامونه نه لري. بل دا چې له پښتو ژبې سره سخت تعصب ښکاره کوي.

د لوګر فرهنګي بهیر د اقتصادي ستونزو سره مخ دی چې دا ستونزه تقریبا د ټول هیواد په سطح عمومیت لري.

موږ وړاندیز کوو چې له موږ سره د اطلاعاتو او کلتور د ریاست په سم جوړولو کې همکاري وشي، زموږ لیکوالان و هڅول شي چې د پښتو د ژبې په خپراوي کې خپله ملي دنده تر سره او زموږ له ښوونځیو سره د پښتو ژبې د کتابونو په تهیه کولو کې مرسته وشي.

د جمعې د لمانځه د ادا کولو او د غرمې د ډوډۍ د صرف کولو لپاره د وقفې اعلان

## د ننګرهار د ولایت استازی/ محمد آصف شینواری

د ننګرهار د ولایت استازي ښاغلي محمد آصف شینواري د خپلو خبرو په لړ کې وویل چې د هیواد په سطح د پښتو د کلتور او ادب د خپراوي په لاره کې ډیر حساب د ننګرهار په ولایت باندې کیږي رښتیا هم چې ننګرهار د علم او ادب زانګو ده او د دې ولایت کلتوري هڅې په لاندې ډول بیانوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننګرهار ولایت ۵۰ کلتوري ټولنې لري چې په ګڼ شمیر یې په اونۍ کې مشاعرې تر سره کوي او دغه ټولنې د دې ولایت په مرکز جلال آباد او د دې ولایت په مربوطو ولسوالیو کې په کلتورۍ هڅو بوختې دي.

په ننګرهار کې لومړي ځل لپاره د غزل شپه جوړه شوه چې د هیواد په کلتوري تاریخ کې یو نوی نوښت ګڼل کیږي.

په جرمنې کې د پښتنې ودې د کلتوري ټولنې سره په همکارۍ په دې ولایت کې د غازي امان الله خان او حمزه شینواري په یاد علمی سمینارونه جوړ شوي دي. همدارنګه د بادام منور سندغاړي سمینار هم جوړ شوی دا خو شوه د هغو عزیزانو او تاریخي شخصیتونو سمینارونه چې له مرګ وروسته یې یادونه شوې ده. خو په ننګرهار کې دا دود د لومړي ځل لپاه مات شو چې یوازې د تللیو عزیزانو، ادبي ستو او تاریخي رجالو یادونه دې وشي بلکې دلته د ژوندیو شخصیتونو، د هغوی په ژوند او حضور کې د هغوی یاد غونډې او ځیرنغونډې هم شوي دي.

د هغو شخصیتونو نومونه دا دي چې په ژوند یې یاد غونډې جوړې شوي دي: علامه مرحوم عبدالشکور رشاد، استاد عبدالله بختانی خدمتګار، پاینده محمد کتوال، برکت الله کمین مجددي، استاد محمد صدیق پسرلی، استاد سعدالدین شپون، درویش دورانی، حبیب الله زړه سواند، خاطر اپریدی او همدارنګه د علامه رشاد د مړینې د ځلویښتمې سمینار.

په ننګرهار کې ۱۰ هنري ټولنې جوړې شوې دي چې ۳۰ هنري او ۱۰ نور فلمونه یې تهیه کړي دي او هغه کتابونه چې په تیرو پنځو کلونو د ننګرهار د مختلفو کلتوري ټولنو له خوا چاپ او خپاره شوي دي شمیر یې ۱۰۰ ټوکه د مختلفو عنوانونو کتابونو ته رسیږي.

په ننګرهار کې ۱۰ دولتي او نادولتي کتابتونونه وجود لري او تر ۱۰ پورې بریښنا پاڼې او ویبلاګونه جوړ شوي دي.

د ننګرهای کلتوري بهیر په دې توانیدلی چې د هسکې مینې او چپرهار په ولسوالیو کې د ښوونځیو د زده کوونکو لپاره د زده کړې وړیا کورسونه جوړ او مختلف مضامین ورته تدریس کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ننګرهار کې تر ۷۰ زیاتې خپرنیزې او غړیزې زسنۍ فعالیت کوي او د ځوانانو لپاره لنډمهالي ژورنالیستکي کورسونه جوړ شوي دي.
په ننګرهار کې د سیال په ژوند علمي سمینار په دې لنډ وخت کې جوړ شوی او ادبي فعالیتونه د پرمختګ په لوري د خوځیدو په حال کې دي.
د ننګرهار د کلتوري بهیر په مخه کې پرتې ستونزې:

- د ۵۰ بیلابیلو کلتوري ټولنو لپاره مناسبه همغږي وجود نه لري او زیاتره یې په خپله لاره رواني دي.
- ځان غوښتنه او شهرت په دې لاره کې د کلتوري پرمختګ لاره ډب کوي چې د ننګرهار ادبي بهیر ورسره مخ دی ځکه په هغسې یوه ماحول کې بیا چارې په خپل وخت سر ته نه رسیږي.
- کلتوري جرګو ته د ځینو حکومتي او سیاسي چارواکو د لاسونو اوږدیدل چې له د خپلې اصلي دندې له مسیر څخه یې باسي او د چوپلوسی پدیدې ته په دې ولایت کې پراختیا ورکوي. متاسفانه چې ځینې کړۍ د کلتور په جامه کې د چوپلوسۍ په رنځ ککړې دي.
- د ګډو غونډو لپاره د مناسب ځای نشتوالی
- د ځینو ټولنو په راس کې د بې تجربې کسانو راتلل

وړاندیزونه:

- د ښه او باوري پرمختګ لپاره د مناسبې همغږۍ شته والی او ځینې فرهنګي ټولنې دې په یو بل کې مدغم شي.
- د دولت له خوا دې فشار راوړل شي چې هره ټولنه باید ورسره راجستر وي څو خپل فعالیتونه د قانون په چوکاټ کې سم کړي او د مشکل د حل واک ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ننګرهار ولایت کې دخپرنیزو رسنیو لست

| شمیره | درسنۍ نوم | مسوول مدیر | ټلیفون شمیره | دتاسیس کال | تیراژ | تګلورې | څرنګوالې | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مینه مجله | عزت اله څواب | ۰۷۰۰۶۰۹۵۵۳ | ۱۳۸۱ | ۳۰۰۰ ټوکه | سیاسي کلتوري فرهنګي | دوه میاشتینۍ | فعال |
| ۲ | انځور مجله | جلال الدین اقبال | ۰۷۰۰۶۰۵۲٤۱ | ۱۳۸۳ | ۱۰۰۰ ټوکه | = = = | = = | = |
| ۳ | قلموال جریده | شیرعلم امله وال | ۰۷۰۰۶۰۳۷۷۱ | ۱۳۸۳ | ۵۰۰۰ ټوکه | سیلسي | میاشتینۍ | نیمه فعال |
| ٤ | پښتونستان | | | ۱۳۸٦ | ۱۰۰۰ ټوکه | = = | اونیزه | فعال |
| ٥ | رښتین جریده | جعفر حسن | | | | ادبي | | نیمه فعال |
| ٦ | راز مجله | جما الدین منصور | ۰۷۰۰۶۲۰۷۹٥ | ۱۳۸٤ | ۱۰۰۰ ټوکه | کلتوري | دوه میاشتینۍ | غیر فعال |
| ۷ | ډایمنډ انګلیسي مجله | نصیر مومند | ۰۷۰۰۶۲٦۱٦۱ | ۱۳۸٤ | ۱۰۰۰ ټوکه | تعلیمي | = = | فعال |
| ۸ | څوانانو غږ جریده | فهیم سیرت | | ۱۳۸٤ | ۱۰۰۰ ټوکه | = = = | | غیر فعال |
| ۹ | څراغ مجله | محمد شعیب غروال | | | ۱۰۰۰ ټوکه | هر اړخیزه | | = |
| ۱۰ | هار مجله | ریحان اله رحیمي | ۰۷۰۰۶۰٦۰۱۰ | ۱۳۸٤ | ۱۰۰۰ ټوکه | هراړخیزه | مهالنۍ | فعال |
| ۱۱ | نرۍ مجله | فضل الهادي فضلیار | ۰۷۰۰۶۲۰۲۷۹ | ۱۳۸٤ | ۱۰۰۰ ټوکه | = = = | = = | = |
| ۱۲ | ایمل مجله | مراد لایق | | ۱۳۸٤ | = = | = = = | دوه میاشتینۍ | = = |
| ۱۳ | څوانانو غږ | شیر حسن کمالزې | ۰۷۰۰۶۱۲۱۹۷ | ۱۳۸۱ | = = | | | غیر فعال |
| ۱٤ | ښاښۍ مجله | خبر لوڅ | ۰۷۰۰۶۰۵۳۷۷ | ۱۳۸۳ | = = = | طنزیه | مهالنۍ | فعال |
| ۱٥ | ژوند مجله | ډاکتر مصلح | ۰۷۹۹۲٥۱٥۰۲ | | = = = | | | |
| ۱٦ | تلوسه مجله | زرخان څارن | ۰۷۰۰۶۲۳٦۹۳ | | = = | سیاسي –کلتوري | مهالنۍ | فعال |
| ۱۷ | ګڼون مجله | ازمون | ۰۷۰۰۶۰۰٥٦٤ | ۱۳۸٥ | = = = | معیوبینو ته ځانګړې | دوه میاشتینۍ | فعال |
| ۱۸ | تور غر مجله | واسیع انتظار | ۰۷۰۰٦٤۲۱٦٦ | ۱۳۸٤ | = = = | هراړخیزه | مهالنۍ | فعال |
| ۱۹ | کاروان مجله | جعفر احمدي | ۰۷۰۰۶۰۰٥۳۹ | ۱۳۸۲ | = = = | | | |
| ۲۰ | انعام مجله | نجیب اله | ۰۷۰۰۶۱۱٥۲۰ | ۱۳۸٤ | = = | هر اړخیزه | | غیر فعال |
| ۲۱ | رڼا جریده | محمد ابراهیم همکار | ۰۷۰۰٦٤۲٥۳۰ | ۱۳۸٦ | = = = | تعلیمي | مهالنۍ | فعال |
| ۲۲ | څولۍ مجله | بختیار ساحل | ۰۷۰۰۶٥۳۷۹۲ | ۱۳۸٤ | | | دوه میاشتینۍ | غیر فعال |
| ۲۳ | تحکیم ثبات | | | | | | | |
| ۲٤ | ننداره مجله | ببرک میاخیل | ۰۷۰۰۶۰۰٥٦۷ | ۱۳۸۳ | ۱۰۰۰ ټوکه | هنري | درې میاشتینۍ | غیر فعال |
| ۲٥ | ولس غږ | نجیب نایل | ۰۷۷۸۸۱۷۲٥۷ | | = = = | هراړخیزه | دوه میاشتینۍ | = |
| ۲٦ | غوښتنه | لطیف مل شینوارې | ۰۷۹۹۲۷٦٥٥۹ | ۱۳۸۲ | = = = | = = = | مهالنۍ | = = |
| ۲۷ | ملاتړ اخبار | لاروې | ۰۷۰۰۶۰٦۳۰٤ | | | | | = = |
| ۲۸ | انګازه مجله | سید قیاس سیدي | ۰۷۰۰۶۰۷۷٦٦ | ۱۳۸٥ | = = = | اقتصادي | مهالنۍ | فعال |
| ۲۹ | پرمختګ مجله | عزت اله ساغر | ۰۷۰۰۶۲۸۸٦٥ | ۱۳۸٥ | = = = | = = = | درې میاشتینۍ | = = |
| ۳۰ | شایق اخبار | زرخان څارن | ۰۷۰۰۶۲۳٦۹۳ | ۱۳۸۱ | ۵۰۰۰ټوکه | هر ازخیزه | اونۍ درې ځلې | فعال |
| ۳۱ | خادک جریده | خالد مومند | | ۱۳۸٦ | ۱۰۰۰ ټوکه | = = = | مهالنۍ | فعال |
| ۳۲ | هڅه جریده | عزت اله عزیز | ۰۷۷٥۸۲۸۸۹٥ | ۱۳۸۰ | ۱۰۰۰ ټوکه | کلتوري | = = = | فعال |
| ۳۳ | اوښکه جریده | عطامحمد هیله من | ۰۷۰۰۷۱۲٦۸۱ | ۱۳۸٤ | ۱۰۰۰ ټوکه | هراړخیزه | مهالنۍ | غیر فعال |
| ۳٤ | حق جریده | حضرت عثمان | | | | حقوقي | | نیمه فعال |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | thelight | عبد الاحد | ۰۷۰۰۶۰۴۱۹۳ | | ۱۰۰۰ ګڼې | تعلیمي | مهالنۍ | فعال |
| ۳۶ | غلبیل مجله | سرتیر | | ۱۳۸۴ | = = = | طنزیه | = = = | غیر فعال |
| ۳۷ | علامه رشاد جریده | عبداله خار | ۰۷۰۰۶۲۶۵۴۶ | ۱۳۸۵ | = = = | تعلیمي | = = = | فعال |
| ۳۸ | ننني افغانستان مجله | سردارولي څرک | ۰۷۰۰۶۳۵۷۸۷ | ۱۳۸۵ | ۲۰۰۰ ګڼې | هراړخیزه | مهالنۍ | فعال |
| ۳۹ | څپه جریده | اباسن بهیر | ۰۷۰۰۶۲۶۵۶۵ | | ۱۰۰۰ ګڼې | = = = | = = | غیر فعال |
| ۴۰ | سبا سپیدې مجله | نقیب احمد اتل | ۰۷۰۰۶۴۸۱۵۵ | ۱۳۸۶ | ۲۰۰۰ ګڼې | = = = | = = = | فعال |
| ۴۲ | رڼا مجله | طاهر سابې | ۰۷۰۰۹۱۱۹۱۴ | ۱۳۸۵ | ۲۰۰۰ ګڼې | = = = | = = = | = = |
| ۴۳ | ډانډس مجله | اور لړوني | | ۱۳۸۵ | ۱۰۰۰ ګڼې | طنزیه | = = = | = = |
| ۴۴ | ننګرهار مجله | امراله امید | ۰۷۰۰۶۰۳۴۸۱ | | ۱۰۰۰ ګڼې | هر اړخیزه دولتي | درې میاشتینۍ | = == |
| ۴۵ | ننګرهار ورځپاڼه | غلام رسول راسخ | ۰۷۰۰۶۸۸۰۶۰ | ۱۲۹۸ | | = = = = | اونۍ کې درې ځلې | فعال |
| ۴۶ | خادم مجله | ډاکټر نورشاه کاموال | ۰۷۷۷۶۳۸۳۰۴ | ۱۳۸۵ | ۱۰۰۰ ګڼې | سیاسي کلتوري | مهالنۍ | فعال |
| ۴۷ | هیله مجله | استاد اسمعیل یون | ۰۷۰۰۶۰۳۴۸۴ | ۱۳۷۶ | ۱۰۰۰ ګڼې | هراړخیزه | دوه میاشتینۍ | غیر فعال |
| ۴۸ | غوټۍ مجله | عبد المقتدر | ۰۷۰۰۸۵۳۳۳۷ | | ۱۰۰۰ ګڼې | = = = | = = = | فعال |
| ۴۹ | ګلاب مجله | نوید بشر یار | ۰۷۰۰۶۲۸۹۲۲ | ۱۳۸۶ | ۱۰۰۰ ګڼې | هر اړخیزه | مهالنۍ | فعال |
| ۵۰ | توکل جریده | سید الیاس صداقت | ۰۷۰۰۶۱۴۰۹۴۱<br>۳۸۵ | ۱۳۸۵ | ۱۰۰۰ ګڼې | = = = | = = = | = = |
| ۵۱ | ولسي هنداره | حمید اله مشکور | ۰۷۰۰۶۱۶۵۷۰ | ۱۳۸۵ | ۱۰۰۰ ګڼې | = = = | = = = | فعال ولایتي |
| ۵۲ | ښوونه روزنه | احسان اله طوفانزې | ۰۷۰۰۶۳۹۲۶۸ | ۱۳۸۵ | = = = | تعلیمي | = = = | فعال معارف |
| ۵۳ | ښوونکې غږ | تاج الدین چپاو | ۰۷۰۰۶۹۶۷۵۴ | | = = = | = = = | = = = | غیر فعال |
| ۵۴ | احسان مجله | | | | | | | = = |
| ۵۵ | سپیشل المپیک | حاجي خدمت | | | | | | = = = |
| ۵۶ | برګ سبز | | | | | | | = = = |
| ۵۷ | لوئ ننګرهار | اسداله حصارشاهیوال | ۰۷۰۰۶۰۵۶۱۶ | ۱۳۸۵ | ۱۰۰۰ ګڼې | هر اړخیزه | | = = |
| ۵۸ | ډالۍ | حفیظ اله تراب | ۰۷۰۰۶۱۱۰۶۸ | | | | | = = |
| ۵۹ | مرسته | | | | | | | = = |
| ۶۰ | مشرق | محمداله علمي | ۰۷۰۰۶۲۰۴۹۹ | | | | | = = |
| ۶۱ | مراد | فضل حق مراد | ۰۷۰۰۶۰۶۴۴۰ | ۱۳۸۵ | ۱۰۰۰ګڼې | هراړخیزه | مهالنۍ | نیمه فعال |
| ۶۲ | تمدن | | | | | سیاسي علمي | | غیر فعال |
| ۶۳ | پوهه | | | | | علمي | | = = |
| ۶۴ | سمون جریده | نوراغا څواک | ۰۷۰۰۶۰۷۰۸۹ | | | سیاسي کلتوري | | = = |
| ۶۵ | ملنګ جان | غلام غوث حیدري | | ۱۳۸۳ | | = == = = | | نیمه فعال |
| ۶۶ | څرېکه جریده | یوسف غیرت | | | | تعلیمي | | فعال |
| ۶۷ | معلم | | | | | | | غیر فعال |
| ۶۸ | افغان کیبل | انجنیر همایون | | ۱۳۸۲ | | تلویزیوني خپروني | | فعال |
| ۶۹ | شایق کیبل | انجنیر شایق | | ۱۳۸۵ | | = = = = | | = = |
| ۷۰ | اسیا کیبل | | | ۱۳۸۵ | | = = = = | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د وردګو او میدان د ولایت استازی/ ګل آغا احمدي وردګ**

تر ټولو لومړی د وردګو او میدان د ولایت د کلتوري کړیو او ولس نیکې هیلې تاسو ټولو ښاغلیو او آغلیو ته وړاندې کوم.

د لوی خدای (ج) د ځانګړې مهرباني له مخې او د سیمې د فرهنګپالو خلکو د زیار په بنسټ د افغانستان د نورو ولایتونو په څیر د وردګو او میدان په ولایت کې هم د هیواد د سولې او پرمختګ د نوي دور له پیل کیدو سره جوخت یو شمیر فرهنګي خوځښتونه را ټوکیدلي او خپل کار ته دوام ورکوي. دا چې زموږ هیواد د یوه لوی ناورین له تیریدو وروسته د بیا رغونې په لوري ګامونه پږدي نو طبیعي ده چې د هر مثبت کار پیل کول او فعالیت به د ګڼو مثبتو ټکو تر څنګ له یو شمیر ستونزو، ګواښونو او مشکلاتو څخه خالي نه وي چې د وردګو او میدان د ولایت کلتوري یون هم په سیمه کې د ګڼو مثبتو پایلو په درلودلو سره د ځینو ستونزو او ګواښونو سره لاس په ګریوان دی چې وروسته به یې یادونه وشي. دا دی په دې ځای کې د وردګو او میدان او میدان د ولایت هغه د کلتوري راپور بشپړه بڼه ستاسو مخې ته پږدم چې په همدې مناسبت مې برابر کړی دی.

**سریزه**

د وردګو او میدان سیمه د هیواد له هغو مرکزي سیمو څخه شمیرل کیږي چې د دې هیواد په تاریخ او هر اړخیز ژوند کې یې ټاکونکی رول لوبولی چې د انګریزانو په وړاندې د غازي محمدجان خان مبارزه د داسې یوه تاریخي رول غوره بیلګه ګڼلی شو. په همدې توګه د دې ولایت د تشکیل څخه وروسته هم یو زیات شمیر ادبي او فرهنګي ستو لکه ارواښاد محمد ارسلان سلیمي، اوراښاد عبدالجلیل وجدي، ارواښاد پوهاند عبدالقیوم وردګ، ارواښاد مولوي عبدالرب احدي وردګ، محترم استاد حبیب الله رفیع او په سلګونو سیاسي چارواکو، د پوهنتون استادانو، روحانیونو، عالمانو ګڼ شمېر علمي، فرهنګي او کلتوري شخصیتونو نه یوازې په سیمه ایزه بلکي د هیواد په کچه خپل تاریخي او کلتوري رول ادا کړی دی. همدارنګه هڅه یې کړې ده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمې د کلتور او فرهنګ د بڼ ګلانو ته د غوړیدو زمینه کړي چې د دوی له هڅو څخه په الهام اخیستلو سره نن دغه سیمه د کلتور په ډګر کې د ګڼو رنګینو هڅو شاهده ده.

د کورنیو جګړو پر مهال او له هغه څخه د مخه د روسي یرغل په وړاندې د مبارزې پر پېر په دې ولایت کې خورې ورې فرهنګي هڅې روانې وې. د ځینو جهادي تنظیمونو فرهنګي کمېټو په دې ولایت کې خپلې خپرونې درلودې. په چک ولسوالۍ کې همدې ولسوالۍ د فرهنګیانو په نوښت یوه خپرونه د روسي یرغل پر مهال د خپریدو جوګه شوه چې ښاغلي شېرباز کمین زاده یې مسوولیت پر غاړه درلود. په جغتو ولسوالۍ کې د جهادي تنظیمونو فرهنګې کمیټې فعالې وې او د سیمې د کلتوري کړیو په وسیله د یوه کتابتون بنسټ کېښودل شو چې وروسته بیا په همدې ولسوالۍ کې د ګوربت عالي لېسې ته ډالۍ شو. په سیدآباد او دایمرداد ولسوالیو کې د ورته بهیر د غښتلي کولو لپاره راز راز هڅې شوې دي چې په سیمه کې یې د کلتوري یون د غوړیدلو لپاره غیږه زمینه برابره کړې ده. د کورنۍ جګړې پر مهال وردګو په چک ولسوالۍ کې د حضرت عمر فاروق د ښوونځی له خوا د العروت الوثقی په نامه یوه جریده په ګستتنر ماشین خپریده خو د طالبانو په پیر کې دغه هڅې په ټول ولایت کې هغومره محسوسې نه وې لکه چې ښاییدل.

خو د فرهنګپالو خلکو د زیار له مخې د نورو ولایتونو په څېر د وردګو او میدان په ولایت کې هم د هیواد د سولې او پرمختګ د نوي دور له پیل کیدو سره جوخت یو شمېر فرهنګي خوځښتونه را ټوکیدلي او خپل کار ته یې دوام ورکړی دی. دا چې هیواد د یوه لوی ناورین له تېریدو وروسته د بیا رغونې په لوري ګامونه بړدي نو طبیعي ده چې د هر مثبت کار پیلول او فعالیت به د ګڼو مثبتو ټکو تر څنګ له یو شمېر ستونزو او ګواښونو څخه خالي نه وي چې د وردګو کلتوري یون په سیمه کې د ګڼو مثبتو پایلو په درلودلو سره د ځینو ستونزو او ګواښونو سره لاس په ګرېوان دی چې وروسته به یې یادونه وشي. د خپل رپورټ په لومړي سر کې مناسب ګڼم چې هغو ټکیو ته اشاره وکړم چې د فرهنګي فعالیتونو په نتیجه کې د وردګو د ولایت په برخه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وردګو اومیدان کلتوري ټولنې

د وردګو په ولایت کې په لنډو ټکیو کې د کلتوري او مدني ټولنو یادونه په دې ترتیب سره کولی شو:

1. د غازي محمد جان خان ټولنه
2. د جغتو مدني او کلتوري بهیر
3. میدان ځوانان ټولنه
4. خواخوږی ادبي او کلتوري ټولنه
5. د ګوربت ادبي ټولنه
6. د وردګو ځوانانو ټولنه
7. د وردګو د محصلینو ټولنه
8. د وردګ او میدان مدني ټولنه
9. عهد کلتوري ټولنه
10. ځلاند کلتوري مرکز
11. چڪ ادبي بهیر
12. یووالي غږ ټولنه
13. میدان ملي خپرندویه ټولنه
14. شاه قباد ولي فرهنګي ټولنه
15. دریځ ادبي او کلتوري ټولنه
16. استقلال فرهنګي مرکز
17. نرخ ځوانان ټولنه
18. آیینه فرهنګي ټولنه
19. سلمان فارس ادبي ټولنه
20. مهر ادبي ټولنه
21. د پښتني خویندو د کلتوري ودې ټولنه
22. د وردګو کلتوري یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مثبت ټکي او لاسته راوړنې

د وردګو او میدان کلتوري بهیر د خپل فرهنګي ژوندانه په اوږدو او د تیرو شپږو کلونو په بهیر کې د ټولنې لپاره ګڼ مثبت ټکي او لاسته راوړنې درلودلې دي چې د ګرانو لوستونکو د پاملرنې لپاره وړاندې کیږي.

**لومړی:** د وردګو کلتوري یون په دې توانیدلی دی چې په دې ولایت کې ګڼې ادبي ټولنې او فرهنګي بنسټونه رامنځته او د سیمې د فرهنګي کړیو، لیکوالو، شاعرانو او ادیبانو تر منځ یوې مثبتې سیالۍ ته لاره پرانیزي. همدارنګه نوموړې سیالۍ د پښتو ادب په ګلبڼ کې د زیاتو نوو ګلونو غوړیدو ته لاره پرانیستې ده.

**دویم:** د وردګو د کلتوري یون د هڅو په پایله کې زموږ د سیمې پاخه لیکوالان په خپل کار کې ګړندي شوي، ځوانو لیکوالو خپل سفر په مثبته لاره سم کړی او د ادب په ګلبڼ کې ډیرو نوو غوزو سرونه را اوچت کړي دي چې د یوه ښه او رنګین راتلونکي زیری له ځان سره لري لکه د کلتوري هڅو رنګین ډګر ته د یو زیات شمیر ځوانانو مخه کول، د یو شمېر ګټورو کتابونو او رسنیو خپراوی ته لاره هوارول، په ځوان کهول کې د عمومي بیدارۍ د حس ځواکمنتیا، د کتابتونونو تشکیل او په دې ډګر کې د یوې مثبتې سیالۍ پاتې کیدل چې راتلونکی نسل به یې له اوسني فرهنګي یون څخه په میراث وړي.

**دریم:** د وردګو کلتوري یون په دې توانیدلی چې د ولایتي چارواکو، لویو ادبي سټو او عامو خلکو پاملرنه خپلې خواته ورجلب او په سیمه کې یو شمیر بریالۍ ادبي او ټولنیزې غونډې تر سره کړي چې په سیمه کې د جغتو د مدني او کلتوري بهیر مشاعرې او په هغه کې د خلکو ونډه د دې ادعی د پخلي لپاره یو غوره ثبوت ګڼل کیږي. همدارنګه په کابل کې د افغانستان د پرمختګ او بیارغونې تر نامه لاندې د لویې مشاعرې تدویر، له محصلینو سره خواخوږي او ګڼو علمي سمینارونو جوړول د نوموړي یون له نورو نوښتونو څخه دي چې په کار لویدلي دي.

**څلورم:** د وردګو کلتوري یون د منې ګل دودیزه مېله لري چې هر کار د پسرلي په دویمه میاشت کې جوړیږي، دغه مېله لا تر اوسه ابتدایي بڼه لري، هیله ده چې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر وخت وده وکړي. په دغه مېله کې چې بېلابېلې برخې لري نه یوازې د وردګو د ولایت فرهنګپال او فرهنګیان پکې ګډون کوي بلکې د هیواد له ګوټ ګوټ څخه خلك پکې ګډون کوي.

**پنځم:** د وردګو او میدان کلتوري یون په دې توانیدلی چې یو شمېر مجلې، اخبارونه او مهالنۍ خپرې کړي چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

- ګوربت مجله
- وردګ جریده
- جغتو مهالنۍ
- میدان ځوانان مجله
- عهد مجله
- ګودر مجله (چې د ښځو چارو ته ځانګړې شوې ده او له چك څخه خپرېږي)
- سیدآباد رادیو
- دریځ مجله
- وړانګه مجله
- ملي هدف ( د اطلاعاتو او کلتور د ریاست خپرونه)
- پرمختګ
- ځلانده راتلونکی مجله
- شپېلۍ مجله

د مجلو او جریدو تر څنګ یو شمیر کتابونه هم چاپ شوي دي چې د خپرنیز ارګان له مخې یې په دې توګه یادونه کوو:

دولتي خپرنیز ارګان:

1ـ منې ګل،
2ـ رنګینه تابلو،
3ـ د ولایت د مقام پیغامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



4_ آتمه منې ګل،

د کتابونو تر څنګ د اطلاعاتو او کلتور د ریاست له خوا د ملي هدف، پرمختګ او ځلانده راتلونکي ځانګړې ګڼې دوه دوه ځلې چاپ شوې دي.

د ښښتني خویندو د کلتوري ودې ټولنه:

1ـ د طالبانو په منګولو کې

د ګوربت فرهنګي ټولنه:

1ـ د ښاپیریانو وطن

- د وردګو او میدان د ولایت ملي رادیو تلویزیون هم تازه پخپلو خپرونو پیل کړی دی

د خپرونو د نشر په اړه باید وویل شي چې د مختلفو اقتصادي، سلیقوي، ټولنیزو او یو شمیر نورو عواملو له کبله په منظم ډول نه خپرېږي او دغه ستونزه د یوې مشترکې پالیسۍ د نشتوالي له کبله تقریبا د ټول هیواد فرهنګي یون ته ور پیښه ده.

**شپږم:** د وردګو او میدان کلتوري یون په دې توانیدلی چې د خپل ادبي، ټولنیز، کلتوري، پوهینز او هر اړخیز فعالیت په نتیجه کې د سیمې د عامو خلکو، پوهانو، ادبي ستو او حکومتي چارواکو تر منځ ښې اړیکې رامنځته او د یوې روښانه ټولنې د جوړیدو په لومړیو بنسټونو د اعمار ګوتې ووهي.

**اووم:** د وردګو او میدان کلتوري یون په هیواد کې د تاوتریخوالي په له منځه وړلو او د سولې په راوستلو کې تر خپله وسه مثبت کردار ادا کړی او هیله من دي چې د افغانستان ټول وګړي د سولې، روغې، رفاه، امن،سکون او پرمختګ په پلوشو کې خپل ژوند ته سمون ورکړي.

**آتم:** د وردګو او میدان کلتوري یون د سیمې په مختلفو مناسبتونو خپلې فرهنګي غونډې جاري ساتلې، ښه کار ته یې ښه ویلي او ناوړه اعمال یې محکوم کړي دي.

**نهم:** د وردګو او میدان کلتوري یون د دې ولایت د ښوونې او روزنې له بهیر سره غاړه پر غاړه مخ په وړاندې روان دی او د ښښتني کلتور په ډګر کې د نوو را ټوکیدلو ګلانو په پالنه او روزنه کې یې خپله ونډه اخیستې او اخلي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لسم:** د دوردګو او ميدان كلتوري يون په سيمه كې د علمي مسابقو په دايرولو، د سپورتي لوبو په جوړولو او ځينو نورو ادبي ګامونو په پورته كولو سره په دې توانيدلی چې د سيمې د ځوان نسل په زړونو كې ځان ته ځای و مومي، هغوی د نشيي توكو له استعمال څخه را وګرزوي او د يوه سالم چاپيريال خوا ته يې رهبري كړي.

**ستونزې او ګواښونه**

د افغانستان د نورو ولايتونو په څير د وردګو او ميدان د ولايت كلتوري يون هم له ګڼو لاسته راوړنو سره سره د يو شمير ستونزو او ګواښونو سره مخ دی چې په دې ډول يې يادونه كيږي:

**لومړی: د امنيت ستونزه**

سره له دې چې د وردګو او ميدان د ولايت كلتوري يون په هر حالت كې خپل حضور او فعاليت ته دوام وركولی شي او له هيچا سره په سياسي اختلافاتو كې ځان شريك نه ګڼي خو بيا هم په سيمه كې د امنيت خرابوالی د دوی په فعاليتونو باندې نيغه اغيزه كوي چې په تيرو پنځو كلونو كې د تيرو دريو كلونو په پرتله دوه وروستي كلونه د دې ولايت د كلتوري يون د فعاليت لپاره دومره ښه نه وو.

**دوهم: د پانګې ستونزه**

كلتوري فعاليتونه هغه مهال په يوه سيمه كې د غوړيدو ښه چانس تر لاسه كوي چې د فرهنګي ټولنو اقتصادي ستونزې تر يوه حده پورې حل وي خو فكر كوم چې له دې ستونزې سره نه يوازې د وردګو كلتوري يون لاس په ګريوان دی بلكې د هيواد په ګوټ ګوټ كې زياتې فرهنګي كړۍ اوس مهال له دې ستونزې سر ټكوي او په دې نه دي توانيدلي چې د مالي ستونزو له امله په مناسبه توګه خپلو هيلو ته د عمل جامه ور و پوښي.

**دريم: د همغږۍ د نشتوالي ستونزه**

بايد وويل شي چې د هيواد د نورو سيمو په څير اوس مهال د وردګو او ميدان د كلتوري يون تر منځ هم مناسبه همغږي وجود نه لري او همدغه خبره د دې سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ده چې د ټولنو چارواکي له يو بل سره سمه پيژندګلوي حاصله نه کړي، د يو بل په موخو خبر نه شي او په دې لاره کې خپلې ګټورې تجربې سره شريکې نه کړي.

**ځلورم: د فرهنګي شخصيتونو تر منځ د بيلتون پالنې ستونزه**

زه فکر کوم چې دا ستونزه نه يوازې د وردګو او ميدان د ولايت فرهنګي يون ته متوجه ده بلکي د ټول هيواد په سطح عموميت لري چې د فرهنګي ټولنو د يوه مناسب چوکاټ، ژمنې. ټاکلې لارې، پاليسۍ، د غړو صفاتو او داسې نورو بنسټونو د نشتوالي له کبله ډير ژر يوه ادبي ټولنه څو نورې کوچنۍ ټولنې زيږوي چې دغه عمل نه يوازې د فرهنګي يون د کار د وروسته والي باعث کيږي بلکي د ټولنې ځواک په وړو وړو نانديزو مسايلو سره ويشل کيږي چې له ګټې يې تاوان ډير وي او دغه کار په ټولنه د فرهنګي بنسټونو اعتبار ته هم سخته صدمه رسوي.

**پنځم: د فعاليتونو د مسووليت ستونزه**

زياتې کلتوري ټولنې له يوه داسې حالت سره مخ دي چې په دې حقيقت خبره سم خبر نه دي چې د کار ساحه يې کومه يوه ده؟ په کومو ځانګو کې خپل فعاليتونه بايد تنظيم کړي او څرنګه وکړای شي چې د خلکو زړونو ته لاره و باسي او هغوی د خپلو هيلو په شاوخوا باندې راټول کړي.

**شپږم: د يوې ګډې پاليسۍ او ستراتيژۍ د نشتوالي ستونزه**

د وردګو او ميدان کلتوري يون يوه ګډه، عمومي او همغږې پاليسي نه لري چې د هغه له مخې خپلو فعاليتونو ته سمون ورکړي او د مثبتو اغيزو سره يې مله کړي.

همدارنګه داسې يوه مشترکه استراتيژي وجود نه لري چې د لنډمهالو او اوږدمهال پلانونو درلودنکې وي څو د ټولنې د افرادو د روزنې په لاره کې يې په کار ولګوي.

**شپږم: په حکومت کې د ټولنو د رسميت ستونزه**

په سيمه کې خو فرهنګي ټولنې زياتې دي او نورې هم د جوړيدو په حال کې دي خو دا معلومه نه ده چې کومې يې رسمي او له حکومت سره راجستر دي. بله خبره دا ده چې د يوې ټولنې د راجستر کيدل هم ځانګړي شرايط غواړي او په دې لاره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ګامونه نه پورته کیږي چې د حکومت پالیسي د سختۍ پر ځای د سهولت پر خوا روانه شي.

**اووم: د کتابونو د چاپ ستونزه**

اوس مهال الحمد لله د وردګو او میدان ولایت داسې لیکوالان لري چې په لسګونو کتابونه یې لیکلي او د چاپ کیدو آرمان یې کوي خو د کتابونو د چاپ په هکله د یوې مشترکې تګلارې د نه موجودیت له کبله زیات لیکوالان د خپلو کتابونو چاپ یوازې د آرمان په هنداره کې ګوري.

**آتم: له مطبوعاتو سره د مینې او علاقې د نشتوالي ستونزه**

په ښوونځیو، علمي او کلتوري مرکزونو کې داسې یوه پالیسي نه تر سترګو کیږي چې زموږ له زده کوونکو، محصلینو، استادانو، باسواده او عامو وګړو سره د مطالعې، له نوو پیښو څخه د خبریدلو او د هیواد له مطبوعاتو سره د علاقې حس را و پاروي. د نوموړي حس په را پاریدلو سره زموږ د وګړو د معلوماتو زیرمه بډایه کیږي، د عمومي بیدارۍ خواته سوق کیږي، د لیکوالۍ حس یې پیاوړی کیږي، له روانو حالاتو او نوو پیښو خبریږي او د دې جوګه ګرزي چې د هراړخیز پرمختګ په لوري ګامونه پورته کړي. له بلې خوا د کلتوري حس په پیاوړي کیدو سره زموږ د فرهنګي ټولنې مطبوعاتو ته داسې مارکیټ پیدا کیږي څو خپل تخلیقي او څیړنیز آثار هلته د پلورلو لپاره وړاندې کړي، د خپلې خپرونې عمر ډیر او د خپلې کلتوري ټولنې د ځواکمنتیا په لوري ګامونه کښیږدي. څکه تر څو به یوازې په مرستو بسنه کیږي بلکې باید هره خپرونه خودکفا شي او دغه اصل له مطبوعاتو سره د خلکو د مینې او علاقې د احساساتو په راپارولو ترلاسه کیدای شي.

**وړاندیزونه**

په سیمه او هیواد کې د کلتوري هڅو د سمون لپاره د وردګو او میدان د ولایت کلتوري یون لاندې وړاندیزونه کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی:** د یوې داسې استراتیژۍ جوړیدو ته اړتیا لیدل کیږي چې د کلتوري ټولنو د سمون لپاره اوږد مهالي او لنډمهالي پلانونه ولري او د خپلو پلانونو د عملي کولو لپاره په موثرو ګامونو سمباله او د سیمې د شرایطو سره سمه پر مخ ولاړه شي.

**دوهم:** د یوې داسې پالیسۍ موجودیت ته اړتیا ده چې د فرهنګي ټولنو فعالیت د سیمې د خلکو تر منځ د سولې، روغ نیت او ورورګلوۍ بنسټونه غښتلي کړي او په ټولنه کې لازم پرمختګ ته وده ورکړي. همدارنګه داسې چارې د خپل فعالیت په دایره کې راولي چې د ټولنې لپاره د نیکمرغۍ په سمسورو ګامو باندې سمبالې وي.

**دریم:** د داسې بنسټونو ځواکمنتیا ته اړتیا لیدل کیږي چې له مخې یې په سیمه کې کلتوري ټولنې پیاوړې شي او په ډاډه زړه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي. همدارنګه هیڅ ډول سیمه ایزې ناندرۍ د دوی په فعالیتونو ناوړه اغیزه و نه کړي.

**څلورم:** د ګڼورو رسنیو، کتابونو، مجلو او داسې نورو اړوندو موادو د منظم چاپ لپاره د مناسبې پانګې د پیداکولو په لارو چارو داسې غور په کار دی چې همیشنی حل له ځان سره ولري.

**پنځم:** د وردګو او میدان کلتوري یون اړینه ګڼي څو د فرهنګي ټولنو د ګڼورو علمي او فرهنګي تماسونو له لارې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د کلتوري ټولنو سره خپلې تجربې شریکې او هراړخیز تړاو قایم کړي.

**شپږم:** د هیواد له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د فرهنګي ډلو تګ او راتګ، په ادبي غونډو کې منظم ګډون، ګډه خپل منځي همکاري پیاوړې کول او د ادبي ټولنو د چارواکو تر منځ هراړخیزه پیژندنه په هیواد کې د ادبي بهیر د پیاوړتیا او د ادب د ګلونو تر منځ د غوره اړیکو د ځواکمنتیا بو غوره اساس دی چې د وردګو کلتوري یون یې وړاندیز کوي.

**اووم:** له حکومتي چارواکو، مدني ټولنو، خبري رسنیو، ملي سوداګرو، علمي ستړو او د هیواد د ټولو پرګنو له مطرحو اړخونو سره یو ځای باید د پرمختګ په لاره کې ګډې هلې ځلې وشي څو د کلتوري ټولنو له خوا همیشنۍ اړیکې ورسره تامین وي او د هغوی مرستې خپل لوري ته را جلب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**آتم:** د ورد ګو او میدان کلتوري یون لازمه ګڼي چې د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره د کلتور د پیاوړتیا په لاره کې ګډ کار او هر اړخیزه همکاري وشي او د هغه همکاري هم د ځان خواته راجلب کړي. همدارنګه د خپلو تجربو له مخې نوموړي وزارت ته وخت پر وخت ګټورې مشورې ورکړي.

**نهم:** له هیواد څخه بهر دې له افغان فرهنګي کړیو، علمي شخصیتونو او ادبي بنسټونو سره پراخو اړیکو ته پراختیا ورکړل شي او د امکان په صورت کې دې د هغوی له لارې د کلتوري بهیر د پیاوړتیا په موخه او د تجربو د شریکو له کبله د میلمه پالو هیوادونو له فرهنګي یون سره ارتباطاتو ته پراختیا ورکړل شي.

**لسم:** د انټرنیټ او نوې ټکنالوجۍ پر مټ دې د پښتو ژبې د ودې او موثرو بریښنا پاڼو جوړولو ته زیاته پاملرنه وشي. همدارنګه نوی کلتوري نسل دې د دغه لویې آسانتیا له اهمیت څخه خبر کړای شي. په همدې توګه ټولې فرهنګي ټولنې دې د انټرنیټ له لارې له یو بل سره وصل شي.

**یوولسم:** په هیواد کې د غوړیدلو ادبي ټولنو ډیر زیات تمرکز دې د هیواد د نوي نسل روزلو ته وقف شي چې په دې لړ کې د هیواد د ښوونځیو، لیسو، پوهنتونونو او هر ډول تعلیمي بنسټونو له زده کوونکو، محصلینو او استادانو سره باید اړیکو ته پراختیا ورکړي، د ستونزو حل ته مشترک حل و مومي، علمي مسابقې ورته برابرې او د لیکوالۍ لوري ته په هڅولو کې دې مرسته ورسره وکړي.

**دولسم:** د ښه کیفیت په دردلو سره له نورو څخه د ژباړې چارو ته سمون، د غوره کتابونو چاپ ته پیاوړتیا او د موثرو خپرونو نشر ته باید زیاته پاملرنه وشي.

**دیارلسم: د** هیواد کلتوري یون ته پکار دی چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د کتابتونونو جوړیدو، د مطالعې د فرهنګ د غوړیدو او له کتابونو سره د خلکو د مینې د پیدا کیدو په لاره کې هلې ځلې وکړي.

**څوارلسم:** وړاندیز کیږي چې په هیواد کې هره یوه فرهنګي ټولنه دې د خپلو فعالیتونو د سمون څرګندولو لپاره یوه ارزښتناکه بریښنا پاڼه یا ویبلاګ جوړ کړي او خپل اړین معلومات دې پکې خوندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایله:

د وردګو او میدان کلتوري یون د هیواد د کلتوري بنې له مهمو څانګو څخه ګڼل کیږي چې د مناسبې ودې لپاره یې د زیاتو ګټورو ګامونو پورته کولو ته اړتیا لیدل کیږي. د دې راپور په ترڅ کې د نوموړي کلتوري یون لنډه پیژندنه، لاسته راوړنې، ستونزې او ځینې وړاندیزونه ځای په ځای شوي چې د ګرانو لوستونکو پاملرنه ورته را اړوو. همدارنګه باید وویل شي چې د وردګو او میدان کلتوري یون د خپلو غوړیدو په لومړي پړاو کې قرار لري او لرې نه ده چې د سیمې او هیواد په کچه به یوه لوی علمي او کلتوري غوړیدو ته لاره پرانیزي.

## د وردګو او میدان د ولایت د کلتوري ټولنو لیست

| شمیره | د ټولنې نوم | مسوول | د تیلفون شمیره | بریښنالیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د وردګو کلتوري یون | ګل آغا احمدي وردګ | ۰۷۹۹۳۰۱۸۳۳ | gulaghaa89@gmail.com |
| ۲ | د غازي محمد جان خان ټولنه | احسان الله آرینزی | ۰۷۰۰۸۰۲۰۰۳ | mailaryanzai@yahoo.com |
| ۳ | د ګوربت فرهنګي ټولنه | حفیظ الله غښتلی | ۰۷۰۰۲۰۲۱۳۷ | ghashtalai@yahoo.com |
| ۴ | د وردګو ځوانانو مدني ټولنه | شیرشاه عزیزي | ۰۷۷۴۶۸۵۸۰۲ | sher.azizi@yahoo.com |
| ۵ | د یووالي عږ کلتوري ټولنه | امان الله نصرت | ۰۷۹۹۴۳۸۵۷۵ | aman_nasrat@yahoo.com |
| ۶ | د وردګو ټولنیز مرکز | سلطان مسعود مایار | ۰۷۰۰۰۷۴۳۱۹ | |
| ۷ | د وردګو ځوانانو د پوهې ټولنه | رحمت الله | ۰۷۰۸۲۸۵۰۰۵ | |
| ۸ | د جغتو مدني او | مدیر متین | ۰۷۹۹۸۷۹۷۱۶ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | کلتوري بهیر | | | |
| ۹ | میدان ځوانانو ټولنه | همت الله امین زی | ۰۷۷۷۰۶۵۸۴۲ | h.aminzay@gmail.com |
| ۱۰ | رفیع کلتوري ټولنه | محمد خان حقمل | ۰۷۷۹۵۲۱۲۸۳ | |
| ۱۱ | چک ادبي بهیر | محمد عالم عزیزي | ۰۷۹۹۵۹۴۲۳۶ | |
| ۱۲ | لمر کلتوري ټولنه | امین الله حبیبي | ۰۷۰۰۰۵۶۶۹۲ | |
| ۱۳ | دریځ کلتوري ټولنه | محمد اجمل هوډمن | | sherai1980@yahoo.com |
| ۱۴ | عهد کلتوري ټولنه | حیات الله همت | ۰۷۷۲۲۲۳۶۲۹ | |
| ۱۵ | وردګ ځوانان ټولنه | حمید ناصري وردګ | ۰۷۰۰۹۸۹۶۹۶ | hameednasry@yahoo.com |
| | | | | |

**د هرات د ولایت استازی/ ثواب الدین مخکښ**

هغه مشکلات او ستونزې چې کلتوري ټولنو ته په مخ کې خنډونه را ولاړوي په ټول هیواد کې شته دي او تقریبا ورته والی سره لري خو په هرات کې ستونزه دا ده چې هلته افغانیت او افغاني هویت تر سوال لاندې دی.

هلته داسې پښتانه شته دي چې په پښتو یوه خبره هم نه شي کولای خو د ملي جذبې د موجودیت له کبله یې د کاروبار لوحې ټولې په پښتو لیکلې او په دې هکله کار کوي.

په هرات کې زیات پښتانه قومونه پراته دي او هغوی تر اوسه پورې خپل ملي او قومی اصالت ساتلی دی خو هلته تر اوسه پورې یوه پښتو کلتوري ټولنه وجود نه لري او زه تاسو ته زیری درکوم چې ډیر ژر به د سپینې ادې په نوم یوه پښتو کلتوري ټولنه جوړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرات کې داسې ناوړه تبلیغ او پښتانه په دې تورن دي چې ګواکي سیاسي اخلاق نه لري او دوی د دې توانایي نه لري چې یوه ګنډه او یا غوټه هم پرانیزي، په خپل منځکې سره جوړ شي او خپل منځي ستونزې په خپله حل کاندي.

ډاکتر حمیدالله نیازي او تیمورشاه یوسفزي په دې هکله هڅه کړې ده چې د پښتنو په هکله دغه ناوړه انګیزه او لرلید ته بدلون ورکړي.

که تاسو دا درې واړه زونه هیر کړی، هرات ته پاملرنه و نه کړی نو زه خبرداری درکوم چې هلته د میشتو پښتنو قومونو او افغانانو هویت له منځه تلونکی دی ځکه چې د هغه ځای په کتابتونونو کې یو پښتو کتاب هم وجود نه لري.

زما په نظر باید په دوو برخو کې ډیر کار وشي.

لومړی: باید موږ ټکنالوجی را کلکه کړو او له دې آسانتیا څخه په پراخه پیمانه کار واخلو څو پښتو په نړیواله سطح مطرح او پرمختګ وکړي.

دویم: ټول ملګري استادان او ادبي کړی دې د لوستو او نالوستو خلکو تر منځ فاصله راکمه کړي او هغوی ته دې داسې یو فکر ورکړل شي چې موږ له تاسو څخه بیل نه یو.

موږ توانیدلي یو چې په دې لړ کې څلور بریښنا یا خو جوړې کړو او یا هم د جوړولو په حال کې قرار لري چې ډیر ژر به د افغان کلتوري جرګې ګډونوالو ته معرفي شي.

یوه مهمه لاسته راوړنه چې موږ یې لرو هغه دا چې موږ توانیدلي یو چې له لومړي ټولګي څخه تر ۱۲ ټولګي پورې د پښتو د لوست د کتابونو لغات جمع او دري ته یې ترجمه کړو. همدارنګه له دې کتابونو مو ۹۰۰۰ ټوکه چاپ کړي او د هیواد په مختلفو سیمو کې مو پر ښوونځیو ویشلي دي. په آخر کې یو ځل بیا وایم چې په هرات کې له هغو ځوانانو څخه ملاتړ څرګند کړی چې د پښتو ژبې د ژوندي ساتلو لپاره هلې ځلې کوي او همیشنی اړیکې ورسره و ساتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په عربي هيوادونوکې د پښتو کلتوري ټولنو استازی

**عبدالله صادق**

زما يو نيم کال وشو چې زه له سعودي عربستان څخه راغلی يم لکن د له هغوی سره مې دايمي اړيکې شته دي او هميشه يې احوال اخلم. همدارنګه د فکر رفتار تيز دی او زما سره هغه پخواني يادونه زما د ذهن په زيرمه کې پراته دي او هميشه راسره په ژوندۍ او متحرکه توګه حرکت کوي.

زه به دې حقيقت ته ګوته ونيسم چې ما به هغه مهال فکر کاوه موږ څرنګه کولای شو چې په ستونزو غالب شو؟ هلته مسلکي کسان او څېړونکي نه وو تللي او نه هم د ژبې لوی لوی ماهران زموږ په منځ کې موجود وو او که وو هم نو د يوې ځانګړې طبقې خلکو سره به اړيکې درلودې او د هغوی ملګري به يې کوله.

موږ به کله کله هلته دعمر مختار فلمونه ليدل چې څرنګه يې مبارزه کوله او د پردي استعمار سره د مقاومت په موخه جوړ شوي وو خو فکر به مې کاوه چې آيا موږ هم داسې وياړلي لرو؟ موږ هم تاريخ لرو او موږ هم کولای شو چې د خپلې مبارزې په لړ کې له ستونزو څخه په امان شو؟ زه به عمر مختار څه کړم؟ افلاطون به څه کړم؟ دا خو د نورې نړۍ خلك دي زه بايد په خپلو وياړونو پسې وګرزم.

زه په همدې سوچونو او فکرونو کې غرق تللی وم چې د رحمت شاه سايل د يوه شعر يوه مصرۍ مې په کوم موټر ولګيده چې کوم پښتون ډريور پرې ليکلې وه دا مصرۍ نه وه د ستېنګر مزايل وو چې زه يې وويشتم لمبه يې زما را وپاروله او يو ځاني خوځښت يې زما په بدن کې په خوځيدو راووست. پيل مو وکړ په کوټو به ګرزيدم د پښتنو په جونګړو او مزدورانو به ګرزيدم او د پښتو ادب خوا ته به مې را بلل. ځينو ځينو خو به دا هم ويل چې دا ځل مو چيرې خرڅوی او په کوم نوم مو خرڅوی حتی ځينو ځينو خو زموږ په وړاندې ناوړه تبليغات پيل کړل.

په همدې لړ کې وو چې ځينو به ويل دا خو په نوې بڼه اخوانيزم دی، موږ بيا پر چا خرڅوي، په نوې بڼه نشنليزم دی، يا به يې ويل دا سندرغاړي او ډمان دي مه کوه خپل کار به کوي. خو موږ له خپل ستيج څخه په دې و توانيدلو چې د سعودي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنه کې میشت پښتانه خپلو ملي ارزښتونو ته پاملرنه وکړي او پوره پنځه کاله په دې لړ کې زیار و باسي او پښتو ته خدمت وکړي.

د سعودي په ټولنه کې ډیر سخت بنسټونه حاکم دي هغه دا چې هغه مهال به یو بهرنی مزدور د کفیل له اجازې پرته د حج او یا عمرې د اداکولو په موخه حرم ته نه شو تللای. حتی د کفیل له اجازې پرته به د دې دولت د یوه ښار څخه بل ښار ته هم نه شو تللای خو موږ په همداسې سختو حالاتو کې یوه منظمه کلتوري ټولنه او اداره جوړه کړه. خو زه بیا هم وایم چې له موږ سره به هغه کسان ملګري وو چې غریب او مزدوري یې کوله، په خاورو به ککړ پکړ راغلل او د پښتو ادبي دیرې ته به یې خپل حضور لازمي ګڼلو. هلته زموږ مجلسونو ته مالدار سړی هیڅکله نه دی راغلی.

لاسته راوړنې مو دا دي چې موږ په دې وتوانیدو چې یو شمیر ارزښتمن کتابونه چاپ کړو.

په آخر کې دورمره وایم چې یوه ښه اداره او منیجمنت کولای شی چې ستونزو ته په ښه شکل ځواب ووایي او داسې یو شکل رامنځته کړي چې د قبول وړ وي. موږ ته په کار دي چې په دې لړ کې هغه اداره په کار واچوو چې Total Quality Management ورته ویل کیږي او د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته ترتیب او په کار یې پیل کړی دی.

زه د افغان کلتوري ټولنو د جرګې د جوړیدو نوښت ستایم او موږ باید خپلې هڅې سره شریکې کړو.

**د خویندو استازې**

**پروین فیض زاده ملال**

زه د ښاغلي نذیر احمد نذیر خبره تاییدوم چې پښتني ښځې باید فعالې شي او د اجتماعي طریقې معیار دا دی څومره چې فعالې وي نو ښې وي او په تولنه کې خپل کردار ادا کولی شي. دا خاموشي او رکود به تر کومه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال د تاسف وړ دی او موږ باید د تاسف له حالت څخه ووزو. په کابل کې ادبي ټولنه جوړول، یوې او بلې ته د خویندو لاس ورکول ښه کار دی او نن یې وخت دی چې باید په دې هکله بندوبست وشي او دغه ټولنه جوړه شي.
که ښځې فعالې نه شي نه آبادي په لاس راتلای شي او نه خپل حقونه ترلاسه کولی شو. زه په کراچۍ کې اوسیږم خو تر څو پورې چې دلته یم نو له تاسو سره په دې هکله کلکه همکاره یم.
مخکې د رڼا په نوم یوه مجله وه چې لینا شریفي یې مسووله مدیره وه. سپوږمۍ وردګ، صفیه حلیم، مستوره شال او څو نورې نومیالې ښځې یې لیکوالې وې خو د ښځو په هغه ټولنه کې چا فعاله ونډه وانه خیستله چې بیرته خاموشه شوه.
نو د دې ټولنې په اړوند چې تاسو یې وړاندیز کړی دی باید ووایم چې راځی همدا نن یې بنسټ کښیږدی او خپلو فعالیتونو ته سمون ورکړی غونډې پیل له افغان ادبي بهیر او رشاد کره کتنې څخه په دې اړوند همکاري وغواړی او له هغوی څخه هیله لرم چې منظمه همکاري راسره وکړي.

## په کړنلاره او تشکیلاتو باندې د بحث پیل

### اول الرحمن رودوال

د مجلس په دې برخه کې په کړنلاره باندې بحث پیل شو او د دې کار د تنظیم چارې د ښاغلي اول الرحمن رودوال پر غاړه وې او کړنلاره یې د غونډې په ګډونوالو باندې توزیع کړه او د جرګې ګډونوال یې په آتو کاري ګروپونو سره وویشل چې هر ګروپ په ځانګړې توګه په کړنلاره باندې بحث وکړي.
په کړنلاره باندې د کاری ګروپونو په وسیله تر یو نیم ساعت بحث وروسته مجلس بیرته خپل عادي شکل غوره کړ د کاري ګروپونو استازو د خپل کار لنډ لنډ راپور وړاندې او په کړنلاره یې د سمونونو او بدلونونو په بهیر باندې ځغلنده نظر واچاوه.
همدارنګه د کړنلارې هغه ټکي په ګوته شول چې د بدلون او سمون چارې یې غوښتې او په دې لړ کې د هر کاري ګروپ استازي د خپل کاري ګروپ پایله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډې ګډونوالو ته بیان کړه. باید وویل شي چې د هر ګروپ لپاره مارکر قلم او د سپین کاغذ لویې تختې ویشل شوې وې چې هر کاري ګروپ خپل نظریات په داسې خط پرې لیکلي وو چې لویه کچه یې درلوده او په نوبت سره یې خپل نظرونه وړاندې کړل.

## په کړنلاره باندې د بحث پایله

### ډاکټر محمد ابراهیم شینواری

ډاکټر محمد ابراهیم شینواري د کړنلارې په اړه د کاري ګروپونو د نظریاتو نچوړ او پایله د غونډې ګډونوالو ته واوروله چې د ګډونوالو له خوا تصویب او و پتیل شوه چې د کاري ګروپونو د نظریاتو په نظر کې نیولو سره به کړنلاره د یوې پنځه کسیزې ډلې په وسیله او د وروستی بڼې په توګه بیا لیکل کیږي. همدارنګه ډاکتر ابراهیم شینواري صاحب د جرګې تشکیلات بیان او له یو لړ بحثونو وروسته د رایو په اتفاق سره استاد عبدالله بختانی خدمتګار، استاد حبیب الله رفیع، استاد سعدالدین شپون، استاد محمد صدیق پسرلی، استاد نصرالله حافظ، آغلې پروین فیض زاده ملال او خوږ ژبی شاعر پیرمحمد کاروان د لارښودې شورا د غړو په توګه و ټاکل شول. په همدې توګه ۷۰ کسان د صلاکارې شوری، ۲۰ کسان د کاري ډلې او ۵ کسان د مالي کمیټې د غړو په توګه معرفي شول. چې تر تشکیلاتو وروسته د راتلونکی کار د کاري پلان په اړه هم د خبرو یوه توده لړۍ تر سره او ښاغلي ډاکتر خوشحال روهي د پښتو ژبې هغه ځانګې په ګوته کړې چې باید کار ورته وشي چې ډېر مهمې یې د پښتو ژبې د ژباړې چارو ته وده او د معلوماتي تکنالوجی پر مټ د پښتو ژبې پرمختګ پکې شامل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سلاکارۍ شورى د مشر په توګه

### د استاد محمد آصف صمیم ټاکنه

د افغان کلتوري ټولنو جرګې ټولو ګډونوالو د هیواد نوموتی لیکوال او د افغان کلتوري کلتوري ټولنو د جرګې د تدارک غړی ښاغلي استاد محمد آصف صمیم د همدې کمیټې د غړي ډاکتر خوشحال روهي په وړاندیز د جرګې د سلاکارۍ شورى په توګه د رایو په اتفاق انتخاب کړ. په همدې مناسبت استاد د جرګې له ټولو استازو څخه مننه وکړه چې نوموړی یې د سلاکارۍ شورى د مشرۍ لپاره ګومارلی او د دې مهمې دندې په سپارلو یې ورته ویاړ و باښه.

## د مجلس ارزونه

### استاد حبیب الله رفیع د لارښودې شورى غړی

ډېر خوښ یم چې په یوه ښکلې لاره مزل پیل شوی دی او دا مزل به هرو مرو د بري څوکې ته رسیږي. اکثریت هیڅکله او په هیڅ ځای کې محروم کیدلی نه شي خو متاسفانه چې زموږ پښتو ژبه له همداسې یوه تور ستم سره مخ ده او موږ د خپله لاسه د مصلحتونو ښکار شوي یو. د میرویس هوتکي نیکه د حکومت ژبه پښتو وه، د شاه حسین په دربار کې به هره اونۍ ادبي غونډې کیدې او د هغه وخت د نارنج په شاهي ماڼۍ کې یو کتابتون هم موجود وو.

جغرافیایي موفعیت اساس دی، نوموړی غورزنګ د کورنیو شخړو ښکار شو، نادرافشار د احمدشاه بابا تر راتلو پورې د دربار ژبه له پښتو څخه پاړسي ته واړوله او احمدشاهي تاریخ داسې وایي چې درباریان زیاتره له ایران څخه راغلي وو چې متاسفانه همدغه ډول یو دربار ادامه پیدا کړه.

پیرمحمد کاکړ د خپل عصر د پښتو ژبې یو ستر ادیب وو او واکمنو نه وو منلی ځکه نوموړي غوښتل چې د دربار ژبه دې پښتو وي هغه له تیمورشاه څخه سر ټکولی او د شهزاده سلیمان ملاتړ یې په دې خاطر کړی دی چې هغه وعده کړې وه چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرې واک ورته و رسیږي نو د دربار ژبه به پښتو ته اړوي. د هغه وخت د معرفت الافغاني تطبیقي ګرامر د ښاغلی پیرمحمد کاکړ په دور کې رامنځه شو او فرمان ورکړه، فرمان واخله او داسې نورې جملې پکې لیکل شوې دي. خو کله چې تیمورشاه راغی نو شاولیخان یې وواژه، خپل ورور یې بندي کړ، د وروڼو له ویرې یې پایتخت کابل ته و لیږداوه او د پیرمحمد کاکړ هیله له خاورو سره خاورې شوه.

د امیر شیرعلیخان په وخت کې سیدجمال الدین افغان د دربار د پښتو کولو کوښښ وکړ، زیات کلیمات یې د ملکي او نظامي ادارې لپاره رامنځته کړل، پښتو مرکه په قانون کې رسمي بڼه خپله کړه او څه ناڅه پرمختګ په دې هکله رامنځته شو.

ارتجاعي دور، اغتشاش او د غلو حکومت بیا هم هغه هلې ځلې په باد لاهو کړې چې تر دې د مخه د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره شوې وې.

کله چې په افغانستان رڼا شوه د نادرشاه په وخت کې په کندهار کې پښتو انجمن په کار پیل وکړ له دې وروسته په ۱۳۱۶ هجري لمریز کال پښتو ټولنه رامنځته شوه او کینه دوزانو به د نفرت په سترګه ورته کتل. په هر صورت د سردار شهید محمد داود خان تر حکومت پورې پښتانه لیکوالان او ادیبان د وخت حکومتونو ته اړ وو او لورینې ته یې اړ وو. خو د دا ودخان حکومت په دې باره کې بیا څه ګامونه پورته کړل.

د اړ دوړ وخت او د بحران درې لسیزې وطن وران شو، خراب شو او ډیر تاوانونه رامنځته شول خو یو کار وشو چې پښتو د ولس لاسته و لویده او ځوانان د پښتو په نوشته کولو و روزل شول. اوس پښتو داسې خوره شوې ده چې هیڅ راز قوت یې مخنیوی نه شي کولای او نه هم چاته د ګدایۍ ضرورت شته.

دغه جرګه په داسې وخت کې جوړه شوه چې سختې مرحلې تیرې شوې دي د ګټلو وخت دی او په هیواد کې د ننه ګڼ شمیر کلتوري ټولنې جوړې او خپل خپل نشرات لري. د کلتوري ټولنو د جوړیدو دور په نړۍ کې ډیر پخوانی دی، لرغونی دی او پرمختللی دی او زموږ په هیواد کې هم اوږده سابقه لري.

اوس دا دي وینو چې ټولې پښتو ټولنې سره یو شوې او د پښتو لپاره یې کار پیل کړ، پسرلی صاحب، ولایتي استازي او له بهر څخه د دې بهیر د لارویانو پیغامونه د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل لپاره یو ښه زیری گڼلی شو. اوس مهال د پښتني ادبي ټولنو یو داسې بهیر غزیدلی چې څوک یې هم مخه نه شي نیولای نو سره کوشیر شی، سره یو شی، سره ټول شی، بنیادي خدمت وکړی بیا کله هم مظلومیت او محکومیت احساس نه کړی.
په کړنلاره کې یوه ماده چې د ښوونځیو په اړه پکې اضافه شي چې دا دي پښتو وي، دا ټولنې دې پښتو وي او د پښتو د فرهنگ د غوړیدو لپاره دې لاره هواره کړي. په سمتي، ژبنی او قومی اساساتو د گوندونو جوړول زموږ په اساسي قانون کې ناروا او جرم دي خو اوس په لسگونو داسې گوندونه او په سلگونو داسې اشخاص شته دي چې د همداسې اساساتو په بنا یې گوندونه جوړ کړي دي.
خو د فرهنگي ټولنو په هکله داسې ماده نشته او نه داسې کوم بند پکې شته دی نو باید چې د پښتو د پراختیا لپاره په خلاص مټ کار وکړو. که گیله لري نور دې هم دا کار وکړي، دا گناه نه ده او د افغاني ژبو د ودې لپاره به یو ښه فرصت وي.
په آخر کې تاسو ټولو ته د دې جرگې د ټوکیدلو مبارکي وایم .
د غونډې په دې برخه کې د ماښام د لمانځه لپاره د وقفې اعلان وشو

**د باتور اندود ننداره**

**همایون عالمیان او د هغه اړونده لوبډله**

د ماښام د لمانځه تر اداکولو وروسته د ښاغلي همایون عالمیان او د هغه د لوبډلې له خوا د باتوراندود د لوبو ښکلې نندارې تر سره شوې چې د لیدونکو د زیاتې پاملرنې سبب په خوښۍ او چکچکو سره یې بدرگه کړې.
د دې لوبې بنسټ ایښودونکی ښاغلي همایون عالمیان دی ۳۱ کال عمر لري او د ۱۳۵۴ هجری لمریز کال د پروان د غوربند د درې د سیاه گرد په ولسوالۍ کې زیږیدلی دی. خپل تحصیلات یې په ایران کې کړي او دغه لوبه یې د ۱۵ کلونو په جریان کې جوړه کړې او همایون عالمیان یې موسس گڼل کیږي.
د لوبو تر اجرا وروسته ښاغلی همایون عالمیان د باتوراندود د لوبې په اړه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۵ کالونو راهیسې زما سره دا فکر وو چې داس یوه رزمي لوبه ایجاد کړم چې بشپړه افغاني بڼه ولري نو د باتوراندود د جوړولو په هکله فکر راسره وو. دا لوبه یوازې سپورتي بڼه نه لري بلکې کلتوري او فرهنګي بڼه هم لري.
زه په ۱۳۸۲ کې له ایران څخه خپل هیواد ته راستون شوم، په ۱۳۸۳ کې مې د دې لوبې وړاندیز حکومتي چارواکو ته ورکړ، په ۱۳۸۴ کې هغه په رسمي ډول تصویب شو، په ۱۳۸۵ کې یې امتحاني دوره پیل او په ۱۳۸۶ کې د المپیک رسما د المپیک د لوبو په کتار کې داخله شوه.
د دې لوبې د کوماندې او پرمخ بیولو لپاره ما ۳۰۰ پښتو کلیمې جوړې کړې دي چې د علومو اکادمی تصدیق کړي او د دې لوبې د کوماندې او هر څه کلیمات ټول سوچه پښتو دي.
باتواندود لوبه څلور برخې لري
لومړی: ژوب لوب چې یوه رزمي لوبه ده او درې برخې لري چې نیم واک، ټول واک او پراخ واک ورته ویل کیږي.
دوهم: چل لوب چې مختلف فورمونه لري
دریم: اتڼ لوب چې د ملی اتڼ په بڼه اجر کیږي
څلورم: ویشت لوب چې د لیندې، غیشي او نورو څیزونو په وسیله ویشتل کوي او ویشتل پکې زده کیږي.
د پورتنیو لوبو هره یوه ځان ځانته بیل قوانین لري چې د خپلو قوانینو له مخې اجرا کیږي.
باتوراندود په کابل کې د یو مرکزي دفتر سربیره چې د همدې ښار د آتمې ناحیې د سیاسنګ په سیمه کې موقعیت لري د کابل په مختلفو سیمو کې څلور نور فرعي دفترونه هم لري او ډیر ژر ده چې د هیواد په ولایتونو کې هم د خپل د همدې لوبې د رواج او سمون لپاره دفترونه پرانیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تفريحي پروګرام

### ټوکې ټکالې، ټنګ ټکور او مشاعره

د باتوراندود له ننداريې وروسته لومړی د ټوکو او ټکالو پروګرام پيل شو چې د افغانستان وتليو کوميډيانو او خنده مارانو لکه عابد، شاه محمد ياري او قسيمي صاحب پکې خپلې ټوکې وکړې او د ليدونکو په شونډو يې د خندا وړانګې ميلمنې او د ټولې کاري ورځې ستړيا يې ور څخه هيره کړه. چې وروسته مشاعره پيل چې د هيواد زياتو شاعرانو خپل خواږه شعرونه، غزلونه او نظمونه د جرګې ګډونوالو ته واورول.
تر مشاعرې وروسته د ټنګ ټکور پروګران پيل شو چې د هيواد وتلي سندرغاړي حفيظ ګردش په خپل مينه ناک غږ خوږې غزلې وويلې او د غونډې د ګډونوالو له مسلسلو چکچکو سره بدرګې کيدې.
د افغان کلتوري ټولنو جرګه د شپې څه د پاسه يوولس بجې د دعايې په لوستلو سره پای ته ورسيده.

### د افغان کلتوري ټولنو د ګډې جرګې ويندويان

د افغان کلتوري ټولنو د جرګې د لومړۍ غونډې ويندويان د سهار له خوا هر يو غوث الدين فروتن، عبدالجبار څپاند او خاطره اسحق زی وو چې ډير اغيزمن شکل يې پروګران د خپل ټاکلی مهال ويش سره سم وړاندې کړ او له ماښام څخه وروسته بيا د ويندويۍ چارې دل افروز څيرک، نذير احمد نذير او ذبيح الله احساس ته ور و سپارل شوې چې مجلس يې بيا هم په ډير منظم شکل او د پروګرام سره سم په خپل کنترول کې وساته او د خوندورو شعرونو او مطالبو سره سم يې مجلس ته د ښکلاوو يوه نه هيريدونکې ښه ورکړې وه. چې د افغان کلتوري جرګې ګډونوال له ټولو ښاغليو ويندويانو څخه د دوی د غيزمنې دندې د سر ته رسولو له کبله د زړه له کومې مننه کوي او دوی ته په خپل کلتوري ژوند کې د لا زياتو برياوو غوښتونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پایله**

د افغان کلتوري ټولنو د جرګې لومړۍ غونډه تیره جمعه چې د ۱۳۸۶ کال د زمري دمیاشتې له ۲۶ نیټې سره برابره ده د خپل مهال ویش له مخې د سهار په ۹ بجو او دیرشو دقیقو پیل او د همدې ورځې له ماښام څخه وروسته څه د پاسه په ۱۱ بجو پای ته ورسیده.

د افغان کلتوري ټولنو د جرګې په لومړۍ غونډه کې له پرانیستونکو ویناوو، پیغامونو، ولایتي ګزارشونو سربیره پر هغو ټولو مسایلو تفصیلي بحث وشو چې په اجندا کې شاملې وې او په زیاتو مسایلو کې د افغان پوهانو، لیکوالانو، شاعرانو او ولسي استازو تر منځ د مشترک نظر د موجودیت له کبله د جرګې لومړۍ غونډه په خپلو ټاکلو موخو کې د بري په لوري ګامونه اوچت او د راتلونکو بریاوو د لاسته راوړولو لپاره یې د خپل یون لومړی پړاو په بریالۍ توګه پر مخ روان کړ. همدارنګه و پتیل شوه چې د افغان کلتوري ټولنو دوهمه او راتلونکې غونډه به په لویه کچه سره جوړیږي او هڅه به وشي چې د ولایتونو د کلتوري ټولنو ټول اړوند لیکوالان کارکوونکي ګډون پکې ولري.

# د افغان کلتوري ټولنو جرګه

## تګلاره

**سریزه**

د افغان کلتوري ټولنو جرګه په هېواد کې د کلتوري ټولنو د همغږۍ او ټولولو یو مرکز دی، چې د ۱۳۸۶ کال د زمري د میاشتې په ۲۶ نېټه د ۲۴ ولایتونواو کابل ښار د موجودو او فعالو کلتوري ټولنو د ۳۰۰ تنو استازو له خوا تاسیس شوه.

په جرګه کې ټولې هغه آزادې او ناپیېلې افغاني کلتوري ټولنې غړیتوب لري ،چې د جرګې موخې او کړنلاره مني او دهغو د پلي کولو لپاره له نورو ټولنو سره په همغږۍ هلې ځلې کوي . په ټولنو کې به لویه او وړه ، کمزورې او پیاوړې په پام کې نه نیول کیږي او ټولې ټولنې به خپل هویت او استقلالیت ساتي . دکلتوری ټولنو دهمغږی جرګه به ددی زمینه جوړه کړي چې :

دټول هیواد په کچه کلتوري ټولنې او اشخاص یو د بل له تجربو خبر شي اود کارونو د کیفیت په لوړولو کې یو له بل څخه زده کړه وکړي . د هیواد او ولایتونو هغه کمزورې سیمې وپیژندل شي ، چې کلتوري هڅې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې پکې نشته او یا کمزورې او ټکنی دي. دفردي او ډله ییزو اړیکو او نیټ ورک له لارې د مناسبو کارونو لپاره مناسب اشخاص وپېژندل شي، وروزل شي او وګومارل شي. او دژبې او ادب دپرمختیا اود فکري ودې زمینې برابرې شي.
د افغان کلتوري ټولنو جرګه د اسلام سپیڅلي دین داحکامو ، د افغنستان د اساسي قانون او نورو نافذو قوانینو پّه رڼاکې د لاندې کړنلارې له مخې کار کوي، چې په ۵ څپرکیو او ۴۱ مادو کې جوړه شوې ده:

## دافغان کلتوري ټولنو د جرګې تګلاره

### لومړی څپرکی

**هدفونه**

لومړۍ ماده: په یوه واحد اسلامي، ملي – افغاني نظر دټولو فرهنګي کړنو او کړیو راټولو ل .
دویمه ماده: دافغانانو کلتوري اومدني متوازن پرمختګ
دریمه ماده: دهیواد ټولو خلکو ته د متناسبو او مساوي کلتوري زمینو رامنځته کول
څلورمه ماده: دپوهنې عامول ، دنجونو ښوونې او روزنې ته خاصه پاملرنه اود لویانو زده کړې
پمځمه ماده: دځوانانو د ذهني اوعلمي سویې لوړول
شپږمه ماده:هیوادوال په قانون پوهول ، دقانون درناوي او منلو ته یې هڅول او دقانون په چوکاټ کې دخپلو کلتوري حقونو دغوښتنې لپاره یې تیارول
اوومه ماده:د ولس د مثبتو دودونو پیاوړي کول او له منفي دودونو سره مبارزه.
اتمه ماده: د انساني حقونو او وجایبو په باب د عامه پوهاوي لوړول :

i. فردي ازادي
ii. دښځو حقونه
iii. دماشوم پالنه

نهمه ماده: دروغتیایي کلتور ، نظافت او ورزش هڅول
لسمه ماده: هیواد د ژبو پرمختیا اودقانون په چوکاټ کې یې په ښوونځیو ،پوهنتونونو ،ادارو، سوداګریزو او عامه چارو کې رواجول
یوولسمه ماده: دټول هیواد د کلتوري هڅو او فعالیتونو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول.

جرګه به خپلې موخې د لاندې پالیسیو په چوکاټ کې لاس ته راوړي:
دولسمه ماده: کلتوري هڅې به له سیاسي هڅو جلا وي، دکوم ځانګړي ګوند او ځانګړي سیاسي نظر لپاره به کار نه کوي ، خو د غړو لپاره به ترټولنې بهر د مستقل سیاسي فعالیت حق محفوظ وي.
دیارلسمه ماده: خپل کلتوري حقونه به د قانوني او حقوقي موازینو په چوکاټ کې غواړي
څوارلسمه ماده: دافغانستان لوړې ملي ګټې او د اولس خیر به په هر قدم کې په پام کې نیول کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځلسمه ماده: دتیرو ستونزو په باب دلانجمنو بحثونو پر ځاې به روښانه راتلونکې ته ډیره پاملرنه کیږي او له نن څخه به ورته دمنظمو پلانونو له مخې کار پیل کیږي

شپاړسمه ماده: دکار بنسټ به مشوره او د پریکړو معیار به اکثریت وي

اووه لسمه ماده: کارونه به په عملي او واقعبینانه ډول پلانیږي او په یو وخت کې به هغومره کارونه پیلیږي چې د عملي کیدو امکان ولري

اته لسمه ماده: په اولس کې کلتوري بیدارئ او پورته هدفونو ته درسیدلو لپاره به له بیلابیلو لارو کار اخستل کیږي :

1. دکلتوري جرګو عامول ، هڅول او زیاتول چې دمنظمو کړنلارو او تګلارو له مخې به خپل کار پر مخ بیایي
2. دادب او فرهنګ بیلابیل صنفونه روزل ، پالل او پرمخ بیول
3. کتابونه او نورې خپرونې لیکل ، چاپول او ویشل
4. دروزنې پروګرامونه جوړول او ځوانان په سیستماتیک ډول روزل
   - په لیکوالئ کې
   - په ژورنالیزم کې
   - په شعر،هنرونو او تخلیقي ادبیاتو کې
   - په سینما او تیاتر کې
   - په وینا کولو کې
   - په اداره کولو ، سمبالښت او لارښوونه (Leadership) کې
   - دپوهاوي په مهارتونو (Communication) کې
   - په کمپیوټر او معلوماتي تکنالوجئ کې
   - په تاریخ ، بشر پیژندنه ، اروا پوهنه او ټولنپوهنه کې
   - دپوهې په نورو څانګو کې
5. په ملي او نړیواله کچه علمي ، فرهنګي او څیړنیزې غونډې جوړول
6. درسنیو له ټولو چینلونو څخه د افغانانو د کلتوري ودې لپاره کار اخېستل
7. دښوونځیو دپیاوړتیا پروګرامونه جوړول
8. دعلمي څیړنو تر سره کول او دهیواد ، سیمې او نړئ دتاریخ ، کلتورونو او تمدنونو په باب معلومات راټولول او خپرول
9. دقومي جرګو ، اولسي اصلاحي ټولنو او شوراګانو سره یوځای د ټولنیزو اصلاحاتو رواجول او هڅول
10. د کلتوري هڅو او ټولنیزو اصلاحاتو د بري لپاره له دیني عالمانو سره ګډ کار ، د دوی د مرستو جلبول او افغان ځوانان داسلام ددین په اساسي احکامو پوهول.
11. دکتابتونونو عامول او هڅول.

## دویم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غړیتوب

نولسمه ماده: په ټولنه کې ښلابېلې کلتوري ټولنې په خپله خوښه غړیتوب تر لاسه کولای شي، ازاد او مستقل اشخاص هم د ټولنې غړیتوب حاصلولای شي.

شلمه ماده: په جرګه کې ټولې هغه آزادې او ناپیېلې افغاني کلتوري ټولنې غړیتوب لري ،چې د جرګې موخې او کړنلاره مني او دهغو د پلي کولو لپاره له نورو ټولنو سره په همغږۍ هلې ځلې کوي

یوویشتمه ماده: په ټولنه کې غړې ټولنې د افغان کلتوري ټولنو جرګې پر غړیتوب سربیره خپل هویت او استقلالیت ساتي او د قانون په چوکاټ کې به فعالیت کوي.

## دریم څپرکی
## د جرګې جوړښت

د افغان کلتوري ټولنو جرګه لاندې جوړښت لري:

### الف : لویه غونډه :

دوه ویشتمه ماده: لویه غونډه د جرګې تر ټولو واکمن مقام دی ، چې د ولایتي جرګو له استازو، دجرګې له لارښودې شورا ، سلاکارې شورا ، کار ډلې او مالي کمېټې له غړو څخه جوړېږي . لویه غونډه په کال کې لږ ترلږه یو ځل جوړېږی او لاندې دندې او واکونه لري :

۱ ـ د جرګې د نوم او نښان تصویب او بدلول

۲ ـ د کړنلارې او کاري پلان جوړول ، تصویب او بدلون

۳ ـ د لارښودې شورا، سلا کارې شورا ، کارډلې او مالي کمېټې ټاکل

۴ ـ د سلاکارې شوراکارډلې او مالي کمېټې د رپوټونو اورېدل او دترسره شویو کارونو ارزول

۵ ـ د نورو مهمو کلتوري مسایلو په اړه پرېکړه

### ب : لارښوده شورا :

درویشتمه ماده: لارښوده شورا د لویې غونډې له خوا ټاکل کیږی . لارښوده شورادوه لویو غونډو ترمنځ دجرګې ترټولو واکمن مقام دی چې  د جرګې دورځنیو چارو په باب لارښوونه ،څارنه او ارزونه  کوي او په مهمو غونډ و کې د جرګې استازیتوب کوي .

څلیرویشتمه ماده: لارښوده شورا  لاندې دندې او واکونه لري :

۱ ـ د کاري پلان د پلي کېدوڅارنه

۲  ـ د کار ډلې دکړنو رپوټ اورېدل

۳ ـ کارډلې ته لازمې لارښوونې او ورسره مرسته

۴ ـ د مالي کمېټې ټاکل

۵ ـ د لویې غونډې رابلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج: سلا کاره شورا :

پنځه ویشتمه ماده: د جرګې سلاکار مقام دی ، چې له کار ډلې او مالي کمېټې سره یو ځای په هرو درو میاشتو کې لږترلږه یوځل غونډه کوي . سلا کاره شورا د جرګې له غړو او یا له هغې ځخه بهر له هغو فرهنګیانو او فرهنګپالو ځخه جوړیږي ، چې کولی شي دجرګې د چارو په سمون ، سمبالښت، ځارنه او ارزونه کې رغنده برخه واخلي .

## د: کار ډله :

شپږویشتمه ماده: کارډله له هغو فرهنګیانو ځخه جوړیږي ، چې په خپله خوښه او منظم ډول د جرګې ورځنۍ چارې سمبالوي . د کارډله په دوو اونیو کې لږترلږه یو ځل غونډه کوي

اوه ویشتمه ماده: کارډله لاندې دندې او واکونه لري :

۱ ـ په منظمه توګه د لویې غونډې او لارښودې شورا له خوا ورسپارل شوې دندې پلي او تعقیبوي

۲ ـ د لارښودې شورا پریکړې او وړاندیزونه ولایتي جرګو ته رسوي

۳ ـ په ولایتونو کې د کاري پلانونو پلي کېدل په منظمه توګه ځاري

۴ ـ له ولایتي استازو سره منظمې اړیکې ساتي

۵ ـ د ولایتي استازو وړاندیزونه او ستونزې لارښودې شورا ته رسوي او له اړتیا سره اقدام کوي

۶ ـ کار ډله د چارو د ښه سمون لپاره په خپلو کې دندې وېشي او وظیفوي کمېټې جوړوي

۷ ـ که چېرې د کار ډلې غړي له معقول عذر پرته په دریو پرله پسې غونډو کې ګډون ونه کړي ، د لارښودې شورا په تایید له کار ډلې ځخه ایستل کیږي

## ه: ولایتي جرګه :

اته ویشتمه ماده: ولایتي جرګه د ولایت په کچه د ټولو آزادو کلتوري ټولنو له استازو ځخه جوړیږي او لږترلږه په هرو شپږو میاشتو کې یو ځل غونډه کوي .

نهه ویشتمه ماده: ولایتي جرګه لاندې دندې او واکونه لري :

۱ ـ د چارو د ښه سمون لپاره په هرو شپږو میاشتو کې دوه تنه په نوبتي توګه ټاکي او لارښودې شوراته یې ورپېژني

۲ ـ ولایتي کاري پلان پلی کوي او پلي کېدل یې ځاري

۳ ـ د استازو کاري رپوټ اوري

۴ ـ لارښودې شورا ته مشورې او سپارښتنې ورکوي

و: ولایتي استازي:

دیرشمه ماده: هره ولایتي شورا له خپل منځ ځخه یو استازی ټاکي، چې لاندې دندې تر سره کوي:

یودیرشمه ماده: ولایتي استاز ي لاندې دندې او واکونه لري :

۱ ـ د ولایتي جرګې غونډې سمبالوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ ـ د جرګې له کارډلې سره اړیکې ساتي
۳ ـ د ولایت ستونزې او وړاندیزونه لارښودې شورا او کار ډلې ته رسوي
۴ ـ د لارښودې شورا پرېکړې او وړاندیزونه غړو ټولنو ته رسوي
۵ ـ د لویې غونډې له خوا د تصویب شویو پرګرامونو په پلې کولو کې هڅې کوي
۶ ـ د ولایت په کچه د کلتوري ټولنو تر منځ همغږي رامنځته کوي
۷ ـ په لویه غونډه کې د ولایتي جرګې په استازیتوب ګډون کوي
۸ ـ کولی شي لارښودې شورا او کارډلې ته ځان او یا بل څوک کاندید کړي

## څلورم څپرکی
## مالي چارې

دوه دیرشمه ماده: د ټولنې مالي سرچینې په لاندې ډول دي:

1. د غړو ګډون ونډه ونډه
2. د هیواد دننه ملي پانګوالو او فرهنګپالو د خپلې خوښې بسپنې
3. د ټولنې د خپرونو د خرڅلاوو له لارې

درې دیرشمه ماده::ټولنه د مالي چارو د تنظیم لپاره یوه مالي کمېټه لري چې د جرګې دلویې غونډې له خوا ټاکل کیږي .

څلور دیرشمه ماده: مالي کمېټه پنځه تنه غړي لري،

پنځه دیرشمه ماده: مالي کمېټه لاندې دندې پر مخ بیایي :

۱ ـ مالي پالیسي جوړوي او لارښودې شورا ته یې وړاندې کوي
۲ ـ مالي امکانات جلبوي
۳ ـ منظم مالي سیستم جوړوي او بانکي حساب پرانیزي
۴ ـ د مالي چارو اسناد ساتي او دقیق رپوټ چمتو کوي
۵ ـ د مرستو د جلبولو لپاره همکاران پیدا کوي

شپږ دیرشمه ماده: جرګه په مرکزکې یو بانکي حساب پرانیزي، همدا راز دنورو ځانګو لپاره هم بانکي حسابونه پرانیزي.

اووه دیرشمه ماده: له بانکي حساب څخه د پیسو د رااېستلو لپاره د جرګې د مشرتابه په اجازه د مالي کمېټې له غړو څخه درې تنو ته واک ورکول کیږي ، چې له دوی څخه به لږترلږه دوه تنه لاسلیک کوي .

اته دیرشمه ماده: دټولنې غړي هره میاشت سل افغانۍ ګډون ونډه ورکوي.

## پنځم څپرکی
## بیلابیل حکمونه

نهه دیرشمه ماده:جرګه به مهالنۍ خپرونې لري چې دجرګې کاري رپوټونه اودعلمي ، کلتوري او ادبي مسایلو په باب به تحلیلي او معلوماتي مطالب خپروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلوېښتمه ماده: جرګه به د پوهنې/ علومو په بیلابیلو برخو کې ځانګې جوړوي چې د منظمو کړنلارو له مخې به کار کوي.
یوڅلوېښتمه ماده :ټولنه یو نښان لري چې په لاندې ډول تشریح کیږي:

# پښتو او د ژباړې اړتیا د سمینار راپور

لیکنه او ترتیب: ګل آغا احمدي وردګ

**سریزه**

د افغان کلتوري ټولنو جرګې او پښتو مرکې د (پښتو او د ژباړې اړتیا) تر عنوان لاندې د تیرې جمعې په ورځ چې د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال د لیندۍ د میاشتې ۲ او د ۲۰۰۷ میلادي کال د نوامبر دمیاشتې ۲۳ نیټه وه د کابل ښار د ستاره په هوټل کې د یو شمیر لوړ رتبه حکومتي چارواکو، د ملي شورى د غړو، افغان کلتوري ټولنو د جرګې د استازو، سلګونو لیکوالانو، شاعرانو، ژورنالیستانو او یو شمیر بهرنیو میلمنو په ګډون یو ورځنی سمینار رابللی وو چې د ژباړې په هکله د علمي مقالو، ویناوو او یو لړ مهمو پریکړو سره یې خپل کار بشپړ کړ.
غونډه له غرمې مخکې د سهار په لسو بجو د صدیق الله رښتیا له خوا د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه چې ورپسې د هیواد ملي سرود و غږول شو او له هغه وروسته رئیسه هیئت په خپلو ځایونو کښیناستل چې محترم استاد نصرالله حافظ، محترم استاد محمد صابر خویشکی، محترم پوهنمل غلام نبي فراهي، محترم حاجي عزیزالرحمن، محترم پوهاند رسول امین او محترمه انجنیر راضیه نعیمي وو. له دې وروسته په ترتیب سره د غونډې پرانیستونکې وینا، د ژباړې په هکله علمي مقالې، درنو ژباړونکو ته مډالونه ، د افغان کلتوري ټولنو د جرګې د ویب پاڼې پرانیستنه، د شهید مصور د کلتوري بنسټ د کار د پیل اعلان، د ژباړې د مهالنۍ د چاپ اعلان، د جرګې له خوا د ژباړې د درې غوره کتابونو لپاره د جایزو اعلان، د دیرشو په شاوخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنوانونو د کتابونو د چاپ ژمنه، د ژباړې استراتيژي، د کاري ګروپونو کار او نور رنګارنګ پروګرامونه يو پر بل پسې تر سره شول.

**د غونډې لنډ راپور**

پرانيستونکې وينا د ښاغلي ډاکتر محمد ابراهيم شينواري له خوا وړاندې او د سمينار ګډونوالو ته يې ښه راغلاست ووايه. ښاغلي ډاکتر محمد ابراهيم شينواري زياته کړه چې ژباړه د ملتونو، فکرونو او تمدنونو د يووالي وسيله او د نړۍ د مختلفو وګړو تر منځ کلتوري اړيکې سره شريکوي.

نوموړي د خپلو خبرو په لړ کې اضافه کړه د افغانستان معاصر تاريخ کې د ژباړې اهميت له بل هر وخت څخه زيات تر سترګو کيږي ځکه چې په دې هکله د يوې اغيزمنې استراتيژۍ او موثرو عملي ګامونو د نشتوالي له کبله ۷۰ ميليونه پښتانه له علمي څيړنو او ادبي شهکارونو څخه محروم دي چې بايد وروسته له دې داسې نه وي بلکي دغه لويه نقيصه جبران شي.

شينواري صاحب همدارنګه د خپلو خبرو په ترڅ کې د پښتو او د ژباړې د اړتيا سمينار د يوه ورځني کار اجنډا شرح او له هغو ادارو او اشخاصو يې مننه وکړه چې په دې لار کې يې زحمت ويستلی او ونډه يې اخيستې ده چې په دې لړ کې عزيزي بانک، ودان موسسه، خوست والي، اسرار کريمزي، محبوب الله محبوب، قلم ټولنې او داسې نورو اشخاصو او موسساتو نومونه د يادولو وړ دي چې خپلې مالي، فرهنګي، اداري، تخنيکي او هر اړخيزې مرستې يې په دې لاره کې کړي دي.

د سمينار دويم ويناوال د اطلاعاتو او کلتور د وزارت مرستيال ښاغلي نبي فراهي وو چې هغه هم د خپل وزارت له لوري د ژباړې له بهير سره د بشپړ ملاتړ اعلان وکړ او ويې ويل چې سږ کال به دغه وزارت د دوو څخه تر درې عنوانه داسې کتابونو د ژباړې او چاپ لګښتونه مني چې د افغان کلتوري ټولنو جرګه او د پښتو مرکه يې نوموړي وزارت ته وړانديز وکړي. همدارنګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت به د دې کال په پای کې هغه بهترين ژباړل شوي اثر ته يوه غوره جايزه ورکوي چې ستاسو د ټاکلې کميټې له خوا ورته معرفي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مقالې او ویناوال:**

د سمینار په لړ کې د ژباړې په هکله دغه لاندې علمي مقالې او ویناوې واورول شوې:

- د ژباړې په اړه مقدماتي بحث د نورالحبیب نثار مقاله
- ژباړه یوه دیني او ملي اړتیا د محمد حسن حقیار مقاله
- ترلې ټولنه، ژباړه او پرانستې ټولنه د عبدالغفور لیوال مقاله
- ماشیني ژباړه د اسرار کریمزي مقاله
- د ژباړې لاربښود د اسدالله غضنفر وینا
- د ژباړې استراتیژي د ډاکتر محمد اکبر اکبر مقاله
- د نانسي ایچ دوپري ژوندلیک د عبدالجبار څپاند لیکنه
- ابو محمد هاشم سرواني ژوندلیک د استاد حبیب الله رفیع لیکنه
- د ډاکتر خوشحال روهي وینا
- د پوهاند رسول امین وینا
- د انجنیر احمد شاه احمدزي وینا
- د استاد محمد آصف صمیم وینا
- د ډاکتر پښتونیار وینا
- د استاد اڅک وینا

**مډالونه او ستاینلیکونه**

لومړی د مشهور ناروېژي افغان پوه ګیورګ مورګنسترن په نوم د سرو زرو مډال د امریکا او سیدونکې آغلې نانسي ایچ دوپري د هغو کلتوري خدماتو له کبله ورکړ شو چې د افغانستان لپاره یې د خپل متوفی خاوند سره په ګډه تر سره کړي او اوس هم په دې لاره کې هڅې کوي. مډال د هغه استازې حسینه شیرجان ته استاد نصرالله حافظ په لاس ورکړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم مډال د لومړي افغان ژباړن ارواښاد ابو محمد هاشم سرواني په نوم د سرو زرو مډال نامتو افغان ليکوال او ژباړن ښاغلي محمد زبير شفيقي ته د سعودي د سفارت د مرستيال ابراهيم سعيد الحازمي په لاس ورکړ شو چې اوس مهال د ويسا د ورځپاڼې د مسوول مدير په توګه دنده اجرا کوي او تر ۴۰ عنوانه زيات کتابونه يې له بهرنيو ژبو څخه پښتو ته را ژباړي چې خورا مهم سلسله يې د نسيم حجازي ناولونه دي چې خورا زيات مينه وال او لوستونکي يې خپل ځان ته روبللي دي.

**مرستې او ژمنې:**

استاد محمد اسماعيل يون د هغو کسانو او موسساتو نومونه په لاندې ډول اعلان کړل چې د ژباړې په بهير کې پښتو ته د را ژباړل شوو کتابونو د چاپ ژمنه کوي:

- داود شينواری — يو عنوان کتاب
- يما کرزی — يو عنوان کتاب
- د اطلاعاتو او کلتور وزرات — درې عنوانه کتابونه
- غلام نبي فراهي — يو عنوان کتاب
- شاه محمود مياخيل — يو عنوان کتاب
- ميرويس ياسيني — يو عنوان کتاب
- عارف نورزی — يو عنوان کتاب
- عبدالله لغمانی — يو عنوان کتاب
- علی اکبر ژوندی — يو عنوان کتاب
- فاروق وردګ — يو عنوان کتاب
- احسان الله کامه وال — دوه عنوانه کتابونه
- ډاکتر محمد اکرم خپلواک — درې عنوانه کتابونه
- حاجي محمد ظاهر قدير — څلور عنوانه کتابونه
- ډاکتر ابراهيم شينواری — يو عنوان کتاب
- نجيب الله امرخيل — يو عنوان کتاب
- محمد اسماعيل يون — يو عنوان کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



- انجنیر احمد شاه احمدزی                    یو عنوان کتاب
- عبدالجبار نعیمي                    درې عنوانه کتابونه
- استاد زرین انځور او په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه به هر کال پنځه هغه کتابونه چاپوي چې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې او پښتو مرکې په نوښت به ژباړل شوي وي.

**د نغدي جایزو اعلان:**

د افغان کلتوري ټولنو جرګه او پښتو مرکه په پام کې لري چې د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال دریو هغو غوره ژباړل شوو کتابونو ته نغدي جایزې ورکړي چې چاپ شوي وي، د ژباړې کمیټه یې د نغدي جایزو وړ وګڼي او سږ کال ژباړل شوي وي:

لومړۍ جایزه: ۳۵۰۰۰ افغانۍ

دوهمه جایزه: ۲۵۰۰۰ افغانۍ

دریمه جایزه: ۱۵۰۰۰ افغانۍ

د دې امکان هم شته چې د مالي امکاناتو د زیاتیدو په صورت کې د دې جایزو مبلغ له یاد شوي رقم څخه نور هم لوړ شي.

**د ژباړې د انستیوت وړاندیز:**

ښاغلي ډاکتر محمد اکبر اکبر د خپلې مقالې د وړاندې کولو په لړ کې د پښتو ژباړې د یوه داسې انستیتوت د جوړیدو وړاندیز وکړ چې د ژباړې په نړیوالو معیارونو برابر او همیشني شکل ولري چې د سمینار د ګډونوالو د مثبت غبرګون سره مخ شو.

ښاغلي ډاکتر اکبر زیاته کړه چې که دغه انستیتوت جوړیږي نو نوموړی حاضر دی چې ۳۰۰۰ امریکایي ډالره نغدي مرسته ورسره وکړي چې ښاغلي پوهاند رسول امین هم له نوموړي انستیتوت سره د خپلې مرستې اعلان وکړ او ویې ویل چې هغه به ۳۰۵۰ امریکایي ډالره له دغه انستیتوت سره د هغه د جوړیدو په صورت کې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جرګې د ويب پاڼې، ژباړې د مهالنۍ او مصور بنسټ پرانيستنه:

د پښتو ژبې د سمينار په لړ کې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې ويب پاڼه رسما پرانيستل شوه چې د هيواد د ځوان کمپيوټرپوه ښاغلي اسرار کريمزي په هڅو رامنځته او ډول ډول کلتوري توکي به و لري. مينه وال کولای شي چې د لاندې آدرس له لارې هغه ته لاس رسي پيدا کړي البته اوس مهال تر کار لاندې ده:

www.garga.net

www.garga.org

همدارنګه د ژباړې د يوې مهالنۍ د جوړيدو او چاپ اعلان هم وشو چې په نږدې راتلونکي کې به د جرګې له خوا چاپ شي.

په همدې توګه د شهيد مصور د بنسټ پرانستنه هم و شوه او رسما يې په کار پيل وکړ چې د ماشومانو د ادب لپاره به کارکوي او نوموړی بنسټ د همدغه شهيد د کورنۍ او د هغه د فرهنګپال ورور ډاکتر محمد اکرم خپلواک له لوري د شل زره امريکايي ډالرو په پانګې سره پيل شو چې د افغان کلتوري ټولنو له جرګې سره يې کړې ده. د پرانيستې وينا يې د ښاغلي علم سحر له خوا د سمينار ګډونوالو ته واورول شوه.

**ګډ کار او کاري ګروپونه:**

د سمينار کار له غرمې وروسته هم ادامه پيدا کړه او د ژباړې د استراتيژۍ د رامنځته کولو په موخه د غونډې ګډونوال په ۸ ګروپونو تقسيم او په هغه طرح يې خپل نظريات څرګند کړل چې ښاغلي ډاکتر محمد اکبر اکبر وړاندې کړې وه او يوه لړ ګټور وړانديزونه يې رامنځته کړل چې د دې استراتيژۍ په بهاينه کې به ترې کار واخيستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ژباړې د کمیټې تشکیل:**

د ژباړې د یوه ورځني کار په ترڅ کې د ژباړې د یوې کمیټې د تشکیل اعلان وشو چې نوموړې کمیټه به د ژباړې چارې څارې او په دې هکله به د جرګې د نورو غړو سره د مشورو او ګډ کار له لارې ټول هغه اړوند کارونه پر مخ بیایي چې د پښتو ژبې په ژباړه پورې تړلي وي. باید وویل شي چې د دې کمیټې غړیتوب په خپله خوښه دی او کیدای شي چې په راتلونکي کې یې شمیره نوره هم زیاته شي.

**د سمینار پای او دعا:**

سمینار د هیواد د مشهور شاعر ښاغلي پیرمحمد کاروان په دې دعاییه جمله پای ته ورسیده چې: پښتو زموږ مور ده، په موږ حق لري، خدای دې زموږ دغه مور په عزت لري او لوی خدای دې زموږ په وطن کې هر اړخیزه سوله او امن راولي. آمین

## د افغان روغتیایي بنسټ لومړۍ غونډه

ګل آغا احمدي وردګ

د افغان کلتوري ټولنو د ګډې جرګې د روغتیایي بنسټ لومړۍ غونډه د تېرې جمعې په ورځ چې د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال د مرغومې ۷مه او د ۲۰۰۷ میلادي کال د ډسمبر ۲۸مه نېټه وه د کابل ښار په ستاره هوټل کې د هېواد د لسګونو ډاکټرانو، روغتیاپالانو، لیکوالانو، شاعرانو، د جرګې د غړو او له جرمني څخه د راغلي مشر مېلمه ښاغلي ډاکتر همایون همت په ګډون جوړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مشران مېلمانه:**

د مشرانو مېلمنو لپاره ټاکل شوي ځای ته ښاغلی ډاکتر صاحب همایون همت، ډاکتر محمد بشیر نورمل، ډاکتر محمد اکبر اکبر او ښاغلی اسدالله غضنفر ور وبلل شول.

**د غونډې پیل**

غونډه تر غرمې وروسته په دوو بجو د قرآن کریم د تلاوت او ملي سرود په اورولو سره پیل شوه ،چې د همدې ورځې تر پنځو بجو پورې یې دوام وکړ.
د پرانیستونکې وینا په توګه ښاغلي نورالحبیب نثار د جرګې د جوړېدو د تاریخي لرلید په اړه د غونډې ګډونوالو ته رڼا واچوله اود هغه اهمیت په باب یې خبرې وکړې ، چې له مخې یې د جرګې روغتیایي بنسټ جوړېږي. همدارنګه نوموړي هغه اړتیاوې هم په ګوته کړې ، چې د هېواد په پوهنتونونو کې د طب او نورو پوهنځیو محصلین د خپلو زده کړو پر مهال ورسره مخ وي او د ژباړې د بهیر په چټکتیا یې ټینګار وکړ. همدارنګه د طبي علومو د ژباړې ضرورت یې څرګند او د دې بنسټ د جوړېدو په لاره کې یې د ښاغلي ډاکتر صاحب خوشال روهي او ډاکتر صاحب همایون همت رول د قدر وړ و باله.

**د ویناوالو خبرې:**

ډاکتر صاحب اختر محمد اکبري د غونډې د اجنډا په هکله خبرې وکړې او ویې ویل ، چې دا څو کاله کېږي چې ډاکتر همایون همت د امریکا غږ آشنا راډیو له لارې په ډېره آسانه او روانه پښتو د اورېدونکو روغتیایي پوښتنو ته ځوابونه وایي او د همدې لارې یې په هېواد کې د (Toxoplasmosis) ناروغی له امله د سقط د زیاتو واقعاتو مالومات تر لاسه کړل، په داسې حال کې چې د نوموړې ناورغی د درملنې په هکله یې ګټورې مشورې له اورېدونکو سره شریکې کړې ویې ټیله ، چې د ناروغی د رښتیني تشخیص، شتون او څومره والي په اړه د څېړنو لپاره خپله هېواد ته راشي او په دې اړه د لومړي لاس مالومات تر لاسه کړي. همدارنګه د ډاکټر صښب همت هدف په هېواد کې د میشتو ډاکټرانو سره د تجربو شریکول، د ناروغیو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی درملنې په اړه ګڼور وړاندیزونه، د ډاکترانو او د طب د څانګې محصلینو پوښتنو ته ځوابونه او د نویو پرمختګونو په اړه دوی ته مالومات ورکول شامل دي.
ډاکتر دوران فیضان د خپلو خبرو په ترځ کې د هېواد روغتیایي حالت ته د ځینو ارقامو په وړاندې کولوسره یوه ځغلنده کتنه وکړه او هغه ستونزې یې په ګوته کړې ، چې په دې څانګه کې زموږ هېواد ورسره مخ دی او بیا یې د خپلو وړاندیزونو یوه لړۍ وړاندې کړه.
نوموړي وړاندیز وکړ ، چې د روغتیا په څانګه کې د عامو وګړو د زده کړې کچه لوړه شي، د زده کړې مواد دې په ساده ژبه ورته وړاندې او د طب زده کړیالانو ته دې د ژباړې له لارې په پښتو ژبه د زده کړې زمینه برابره شي. نوموړي همدارنګه د ډاکټرانو لپاره د ټرېننګونو د جوړولو په اړه د یوې ځانګړې ټګلارې د جوړېدو غوښتنه هم وکړه ، چې په دې لاره کې د ډاکتر صاحب همایون همت او ډاکتر نعیم عظیم د مرستې غوښتونکی شو.

وروسته ډاکتر صاحب همایون همت وویل: ډېر خوشحاله یم ، چې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې په څنګ کې د روغتیایي بنسټ جوړېدل وینم او ستاسو ټولو هڅې په دې لاره کې د ستایلو وړ دي. نوموړي وویل ما چې له خلکو سره د راډیو له لارې د خپلو مالوماتو د شریکولو پروسه ولیده نو ماته پته ولګېده ، چې زموږ ولس څومره تږی دی څو د روغتیایي زده کړو لړۍ ورته ورسیږي. موږ باید هغه وېره له خپل ذهن څخه لرې کړو ، چې ولس ته د ریښتیني خدمت او مالوماتو وړاندې کولو پر مهال راته مخې ته درېږي او په خپل ټول جرئت او ریښتینې توګه د خپل ولس خدمت ته متې را ونغاړو. ډاکټر صېب همت زیاته کړه: په دې ملت کې د مشر او کشر ورور تفکیک په کار دی او هغه پانګه چې نړیوال یې د مرستې په نوم لګوي د دې ملت حق دی او موږ باید له دې حق څخه په مثبته توګه او د خپلو ملت د هوساینې په لاره کې ګټه واخلو. زه دا خبرې دلته هم کوم، نړیوالو ته یې هم کوم، زموږ معامله د نړیوالې ټولنې سره ده او د خپل مشترک دښمن د ملا د ماتولو لپاره خبرې ورسره کوو. موږ لاندې ټکو ته ګوته نیسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ برخه: د تحقیق په لار کې د ځینو چارواکو مرسته نه کول،

دوهمه برخه: ژبه د کلتور د پرمختګ ډېوه، بنسټ او زموږ شریکه مور ده، د هغې خدمت اوعلمي کول راته په دې لاره کې یو اساسي ټکی ښکاري په دې فرهنګیانو او طبیبانو سربېره باید موږ نور پوهان او د ولسونو حقیقي استازي چې د اسلام د اصولو او زموږ د ټولنې د ارزښتونو په رڼا کې د هغوی حقیقي استازیتوب کوي، هم راشریک کړو.

دریمه برخه: ستاسو تجربې، پوهه، خولې، هلې ځلې او قرباني ده چې دغه کار ته به سمون ورکوي، زه د یوه عادي غریب افغان په نوم بحث کوم او هېڅ امتیاز نه غواړم. د ولس په صف کې درېدل د ځان لپاره ویاړ ګڼم، امتیاز به نه وي بلکې نیمګړتیاوو ته به علمي لارې او ځواب پیدا کوو. که کوم طبي بنسټ جوړېږي، هلته به امتیاز نه وي، ټول به ولس ته د خدمت په لار کې سره لاسونه ورکوي.

زه د افغانستان د خوشحالی، روغتیا او سعادت لپاره راغلی یم او ویاړ کوم چې ستاسو سره په دې مبارک مجلس کې ګډون کوم په افغاني چوکاټ کې به د طبي پوهې تهداب جوړوو.

## آزاد بحث:

په آزاد بحث کې ښاغلیو هر یوه ډاکتر اکبر اکبر، ډاکتر امیرمحمد جلالي، ډاکتر محمد بشیر نورمل، ډاکتر نجیب الله امرخېل، پوهاند حمیدالله امین، ډاکتر نعیم عظیم، ډاکتر فریدون بارکزی، ښاغلي اول الرحمن رودوال، ډاکټر نصرت رسا، ډاکټر اختر محمد اکبري، ښاغلي میاخېل او یو شمېر نورو خپل نظریات څرګند او د غونډې ګډونوالو ته یې خبرې وکړې ، چې د هغوی د خبرو لوی ټکي او وړاندیزونه په لاندې ډول خلاصه کېږي:

- د ژباړې په هکله دې ډېرې هڅې وشي څو روغتیایي علمي کتابونه پښتو ته را وژباړل شي او د محصلینو ستونزو ته د حل لاره و موندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نوي مېتودونه او نوي مواد دې په کار و لوېږي څو زموږ ډاکتران په نويو معلوماتو سمبال شي.
- د لويو درسي کتابونو په ځای دې واړه جېبي کتابونه وژباړل شي او د ژباړې ژبه يې بايد ډېره ساده وي، همدارنګه د ژباړې لپاره يوه کميټه او ښه ژباړونکي په کار دي.
- هغو استادانو ته دې علمي قناعت ورکړل شي چې غواړي د تدريس پر مهال يوازې خپل ليکل شوي پخواني کتابونه تدريس کړي ، څو له نوو مېتودونو کار اخېستلو ته لاره هواره شي.
- انټرنېټ هم د نوو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره يوه ښه وسيله ده او محصلينو ته له هغه څخه د خپلو درسونو په لاره کې د پراخې استفادې سپارښتنه کېږي.
- دغه بنسټ دې د ډاکترانو او ليکوالو يو منظم تشکيل ولري چې لومړيتوبونه په ګوته کړي.
- لومړيتوبونه دې مشخص او هغه مواد دې په خپله ژبه تهيه شي چې د لومړيتوبونو پر بنسټ ولاړ وي.
- دغه بنسټ دې د کمپيوټر د مايکروسافټ په څېر د طبي اصطلاحاتو لپاره د پښتو ترمينالوجی، الفاظو او مترادفو کليمو په جوړولو لاس پورې کړي او د دې لپاره دې يوه کاري ډله په کار وګوماري.
- دغه بنسټ وړانديز کوي چې د طب محصلين دې په ښه او اساسي ډول انګريزي ژبه زده کړي ځکه چې دغه ژبه د معاصرو علومو لويه زېرمه ګڼل کېدای شي.
- بايد د طبي زده کړو او له پښتو سره د همغږي کولو لپاره يو داسې اغېزمن سېستم جوړ شي چې خلکو ته په خپله ساده ژبه معلومات وړاند کړي.
- يو با صلاحيته کميسيون دې جوړ شي او دغه کميسيون دې له تجربه لرونکو اشخاصو او پوهانو سره ملاقات و کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د طبي خدماتو د وړاندې کولو او په پښتو ژبه د تدریس د چارو سمون لپاره دې یو مالي صندوق جوړ او ګډونوال دې ورسره مرسته وکړي.
- علمي کنفرانسونه دې را وغوښتل شي او په مشخصو موضوعاتو دې بحث وکړي.
- د بنسټ لپاره ثابت ځای په کار دی ، څو د اړوندو اشخاصو او مینه والو پر مخ پرانیستی وي ، چې په دې لړ کې طبي بنسټ ته ښاغلي ډاکتر نجیب الله امر خېل په خپل روغتون کې د یوې خونې د ورکولو اعلان وکړ.
- کله چې د طب په برخه کې په کمیت باندې خبرې کیږي نو باید په دې هکله کیفیت ته هم پاملرنه وشي.
- راځئ ، چې له ځانه پیل وکړو لومړی خپل بزنس کارتونه او لوحې پښتو کړو
- د موخو ټاکل، د لومړیتونو تشخیص، امکانات او د پانګې برابرول هغه ټکي دي ،چې د طبي بنسټ په رامنځته کولو کې مرسته کوي.
- ډاکټر امیر محمد جلالي د خپلو خبر په ترځ کې د یوې طبي ډکشنرۍ د ژباړې خبر ورکړ ، چې د ده په وینا یې څو کاله دمخه ژباړلې ده خو د اقتصادي ستونزو له کبله لا تر اوسه په CD باندې ده او لا چاپ شوې نه ده. په دې اړه داکټر همایون همت ژمنه وکړه ، چې که چېرې نوموړې ډیکشینري د صلاحیت لرونکې کمېټې هوکړه تر لاسه کړي، د چاپ لپاره به یې عملي ګامونه واخیستل شي.
- طبي نوي ژورنالونه دې وژباړل شي، د چاپ تر څنګ دې د انټرنټ له لارې خپاره او یو برېښنایي پر لیکه کتابتون دې جوړ شي.
- هڅه دې وشي ، چې داسې کتابونه راوژباړل شي چې له چاپ وروسته د پلورلو لپاره مناسب وي تر څو بنسټ وکولاې شي اقتصادي پیاوړتیا ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمېټې ټاکنه:**

ورپسې د مجلس له ګډونوالو څخه د يوې کمېټې د جوړېدو اعلان و شو ، چې دا کمېټه به په ګډه د طبي بنسټ کارونه پر مخ بيايي خو دغه کمېټه به هغه وخت بشپړه شي ، چې د هېواد د مختلفو کچو له پوهانو او روغتياپالانو سره هم کتنې وشي او هغوی هم په دې بهير کې ونډه واخلي.

بايد وويل شي ، چې د نوموړي غونډې د ويندويۍ چارې د ښاغلي ډاکتر منقادالرحمن رودوال او د راپور ليکنې مسووليت د ګل آغا احمدي وردګ پر غاړه وو.

همدارنګه د نوموړې غونډې د جوړېدو لپاره د افغان کلتوري ټولنو د جرګې کاري ډلې غړو لکه ښاغلي عبدالرحمن الفت، ښاغلي ملنګ ابراهيمي، استاد اسدالله غضنفر، ډاکتر دوران فيضان، ښاغلي محبوب الله محبوب، ښاغلي ګل آغا احمدي وردګ، ډاکټر محمد ابراهيم شينواري، ښاغلي عبدالودود پښتونخځار، ډاکتر اختر محمد اکبري، ډاکتر خوشال روهي، ښاغلي عزت الله شمسزی، ښاغلي اسرار کريمزی، ښاغلي عبدالجبار څپاند، استاد نورالحبيب نثار، ښاغلي اول الرحمن رودوال، ښاغلي زاهد تراب او ډاکټر منقاد الرحمن رودوال هم خپلې هلې ځلې کړي دي چې له ټولو څخه مننه کوو او د لوی خدای (ج) له دربار څخه ورته اجر غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دافغان روغتيايي بنسټ

# تګلاره

**سريزه:**

افغان روغتيايي بنسټ په هېواد کې دطبي ټولنو او اشخاصو د راټولولو يو مرکز دی چې د طبي کارکوونکيو اوټولنو علمي، څېړنيزې، خپرنيزې چارې او کړنې تنظيم او هماهنګوي، چې د ۱۳۸۶ کال د مرغومې د مياشتې په ۷ نېټه د يو زيات شمير طبی ټولنو د ۱۱۰ تنو استازو او ۸۰ مستقلو روغتيايي کارکوونکيو له خوا تاسيس شو.

. افغان روغتيايي بنسټ به د طبي څېړنو، غونډو، سيمينارونو، ورکشاپونو، روزنيزو پروګرامونو، خپرونو او نورو لارو څخه په هيواد کې د طب او رنځپوهنې د پراختيا او پرمختيا په برخو کې کار او هڅې کوي. افغان طبي مرکز به طب او رنځپوهنې په برخه کې د نړۍ نوې برياوې او تجربې راليږدوي او په پای کې به د هيوار والو د ښې او بشپړې روغتياد تامين لپاره کارکوي.

افغان روغتيايي بنسټ د اسلام سپيڅلي دين داحکامو ، د افغانستان د اساسي قانون او نورو نافذو قوانينو پّه رڼاکې د لاندې کړنلارې له مخې کار کوي چې دوه ديرش مادې او پنځه څپرکي لري:

## لومړی څپرکی

**هدفونه:**

لومړۍ ماده: په يوه واحد مرکز دټولو طبي او روغتيايي اشخاصو، کړنو او کړيو راټولو ل .

دويمه ماده: د طبي او روغتيايي څېړنو او مطالعاتو پرمختګ

دريمه ماده :د طبي او روغتيايي زده کړو د زمينو رامنځته کول

څلورمه ماده: طبي او روغتيايي پوهنې عامول ،

پمځمه ماده:د طبي او روغتيايي کارکوونکيو د علمي سويې لوړول

شپږمه ماده: دټولنې د وګړو تر منځ د طبي او روغتيايي کړنو رواجول او دودول

اوومه ماده :د ولس په منځ کې د منفي طبي او روغتيايي کړنو او دودونو سره مبارزه.

اتمه ماده: د انسانانو د روغتيايي حقونو او وجايبو په باب د عامه پوهاوي لوړول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهمه ماده: دروغتیایي کلتور ، نظافت او ورزش هڅول
لسمه ماده: طبي او روغتیایي معلوماتو عامول او خپرول
یوولسمه ماده: طبي او روغتیایي خپرونې تقویه کول.
دولسمه ماده: د طبي او روغتیایي مرکزونو تر منځ د هماهنګۍ او تفاهم رامنځته کول.

## دویم څپرکی
## غړیتوب

دیارلسمه ماده: په هیواد کې بېلابېلې طبي او روغتیایي ټولنې په خپله خوښه د افغان روغتیاییبنسټ غړیتوب تر لاسه کوي، ازاد او مستقل اشخاص هم د ټولنې غړیتوب حاصلولای شي.
څوارلسمه ماده: په مرکز کې ټولې هغه آزادې او ناپیپلې طبي او روغتیایي افغاني ټولنې غړیتوب لري ،چې د ددې مرکز موخې او کړنلاره مني او دهغو د پلي کولو لپاره له نورو ټولنو سره په همغږۍ هلې ځلې کوي
پنځلسمه ماده: په ټولنه کې غړې ټولنې د طبي او روغتیایي مرکز پر غړیتوب سربیره خپل هویت او استقلالیت ساتي او د قانون په چوکاټ کې به فعالیت کوي.
شپاړسمه ماده: په ټولنه کې غړیتوب په خپله خوښه دی او غړی باید د روغتیا په برخه کې پوهه، معلومات او تجربه ولري.

## دریم څپرکی
## د مرکز جوړښت (تشکیل)

افغان روغتیایي مرکز لاندې جوړښت لري:
**الف : لویه غونډه** :
اووه لسمه ماده: لویه غونډه د بنسټ تر ټولو واکمن مقام دی ، چې د بیلابیلو ټولنو او مرکزونو له استازو، دمرکز له لارښودې شورا، کار ډلې او مالي کمېټې له غړو څخه جوړیږي . لویه غونډه په کال کې لږ ترلږه یو ځل جوړیږی.
انه لسمه ماده: لویه غونډه لاندې دندې او واکونه لري :
١ ـ د مرکز د نوم او نښان تصویب او بدلول
٢ ـ د کړنلارې او کاري پلان جوړول ، تصویب او بدلون
٣ ـ د لارښودې شورا، کارډلې او مالي کمېټې ټاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ ـ دکارډلې او مالي کمېټې د رپوټونو اورېدل او دترسره شويو کارونو ارزول
۵ ـ د نورو مهمو طبي - روغتيايي مسايلو په اړه پرېکړه

**ب : لارښوده شورا :**

نونسمه ماده: لارښوده شورا د لويې غونډې له خوا ټاکل کيږی . لارښوده شوراددوه لويو غونډو ترمنځ دمرکز ترټولو واکمن مقام دی چې د مرکز دورځنيو چارو په باب لارښوونه ،څارنه او ارزونه کوي او په مهمو غونډ و کې د بنسټ استازيتوب کوي .

شلمه ماده: لارښوده شورا لاندې دندې او واکونه لري :

۱ ـ د کاري پلان د پلي کېدوڅارنه
۲ ـ د کار ډلې دکړنو رپوټ اورېدل
۳ ـ کارډلې ته لازمې لارښوونې او ورسره مرسته
۴ ـ د مالي کمېټې ټاکل
۵ ـ د لويې غونډې رابلل

**ج: کار ډله :**

يوويشتمه ماده: کارډله له هغو طبي – روغتيايي فعالينو څخه جوړيږي ، چې په خپله خوښه او منظم ډول د جرګې ورځنۍ چارې سمبالوي . د کارډله په يوه مياشت کې لږترلږه يو ځل غونډه کوي

دوه ويشتمه ماده: کارډله لاندې دندې او واکونه لري :

۱ ـ په منظمه توګه د لويې غونډې او لارښودې شورا له خوا ورسپارل شوې دندې پلي او تعقيبوي
۲ ـ د لارښودې شورا پرېکړې او وړانديزونه نورو مرکزونو او ټولنو ته رسوي
۳ ـ کار ډله د چارو د ښه سمون لپاره په خپلو کې دندې وېشي او وظيفوي کمېټې جوړوي
۴ ـ که چېرې د کار ډلې غړي له معقول عذر پرته په دريو پرله پسې غونډو کې ګډون ونه کړي ، د لارښودې شورا په تاييد له کار ډلې څخه ايستل کيږي.

## څلورم څپرکی
## مالي چارې

درويشتمه ماده: د مرکز مالي سرچينې په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. د غړو ګډون ونډه
5. د هیواد دننه او بهردملي پانګوالو او فرهنګپالو د خپلې خوښې بسپنې
6. د بنسټ د خپرونو د خرڅلاوو له لارې

څلیرویشتمه ماده: مرکز د مالي چارو د تنظیم لپاره یوه مالي کمېټه لري چې د بنسټ دلویې غونډې له خوا ټاکل کیږي .

پنځه ویشتمه ماده: مالي کمېټه پنځه تنه غړي لري،

شپږویشتمه ماده: مالي کمېټه لاندې دندې پر مخ بیايي :

۱ ـ مالي پالیسي جوړوي او لارښودې شورا ته یې وړاندې کوي
۲ ـ مالي امکانات جلبوي
۳ ـ منظم مالي سیستم جوړوي او بانکي حساب پرانیزي
۴ ـ د مالي چارو اسناد ساتي او دقیق رپوټ چمتو کوي
۵ ـ د مرستو د جلبولو لپاره همکاران پیدا کوي

اووه ویشتمه ماده: بنسټ د هیواد په پلازمینه کې یو بانکي حساب پرانیزي، همدا راز دنورو ځانګو لپاره هم بانکي حسابونه پرانیستلای شي.

اته ویشتمه ماده: له بانکي حساب څخه د پیسو د راایستلو لپاره د بنسټ د مشرتابه په اجازه د مالي کمېټې له غړو څخه درې تنو ته واک ورکول کیږي ، چې له دوی څخه به لږترلږه دوه تنه لاسلیک کوي .

نهه ویشتمه ماده: دمرکز غړي هره میاشت سل افغانۍ ګډون ونډه ورکوي.

## پنځم څپرکی
## بیلابیل حکمونه

دیرشمه ماده: مرکز به مهالنۍ خپرونې لري چې کاري رپوټونه اودطب او روغتیا په برخو کې علمي ، څیړنیز، تحلیلي او معلوماتي مطالب خپروي.

یو دیرشمه ه ماده: مرکز به د طبي پوهنې/ علومو په بیلابیلو برخو کې ځانګې جوړوي چې د منظمو کړنلارو له مخې به کار کوي.

دوه دیرشمه ماده : مرکز یو نښان لري چې په لاندې ډول تشریح کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰۰۸ کال د ژبو نړیوال کال

## د فبرورۍ ۲۱ مه د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ

د فبروري ۲۱ مه د یونسکو له خوا د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په توګه پېژندل شوې ده ، چې هرکال د نړۍ په بېلابېلو هیوادونو کې لمانځل کیږي. پردې سربېره سږ کال (۲۰۰۸ کال ) د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلې له خوا د ژبو د نړیوال کال په نوم نومول شوی دی. ددې کال اساسي شعار دادی چې ژبې مهمې دي. سږ کال د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې ټینګار په ښوونه او روزنه کې د څو ګونو ژبو په کارولو او د مورنۍ ژبې زده کړې ته د خاص اهمیت په ورکولو تمرکز لري.
په افغانستان کې دا ورځ د مدني ټولنې د نهو سازمانونو، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او یونسکو لخوا دکابل ښار د لویې جرګې په تالار کې ولمانځل شوه.

### دغونډې ګډونوالو په پای کې په لاندې ټکیو موافقه وکړه:

### ۱- د پوهنې وزارت دې :

ـ دېر ژر په ټول هېواد کې د اساسي قانون د ۱۶ او ۴۳ مادې له مخې په خپلو مورنیو ژبو د هېواد ټولو بچیانو ته د زده کړې لار هواره کړي . په ۱۳۸۷ تدریسي مهال کې دې د هغو ښوونځیو ملاتړ لا پیاوړی کړي چې په مورنیو ژبو تدریس په کې پیل شوی دی. دنورو ښوونځیو او سیمو یوه دقیقه شمېرنه دې وکړي او ددایمي او افغان شموله حل لپاره دې یو جامع پلان جوړ او عملي کار دې پیل کړي.
– درسي کتابونه دې په ټولو ژبو د تناسب، تعادل، عدالت، د ټولنې عیني واقعیتونو له مخې چاپ او وویشي.
– د ښوونکیو په روزنه کې دې جدي او هر اړخیزه هڅې پیل کړي. د ښوونکیو د روزنې په ټولو مرکزونو کې دې داسې زمینه جوړه کړي چې راتلونکي ښوونکي په دواړو رسمي ژبو تدریس وکولای شي ، همدا راز د درېیمو ژبو ښوونکي دې وروزي.
– د مدني ټولنو او ولسي جرګې، لوړو زده کړو او اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت سره په هماهنګۍ دې ددې کارد عملي کولو د څارنې یوه کمیټه جوړه او مشترک کار دې ورسره پیل کړي.

### ۲ - د لوړو زده کړو وزارت دې:

- د لوړو زده کړو په ټولو موسسو، پوهنتونونو او پوهنځیو کې درسمي او مورنیو ژبو زده کړې ته لار هواره کړي.
- په کابل پوهنتون کې د هېواد په دواړو رسمي ژبو زمینه جوړه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د پوهنې له وزارت سره ددرسي کتابونو په جوړولو او تألیف کې مرسته وکړي.
- دپوهنتون په کادر کې د شاملېدو د نورو معیارونو ترڅنګ دې یو معیار دا وټاکي چې راتلونکی استاد باید په دواړو رسمي ژبو د تدریس قابلیت ولري.

## ۳-د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې :

- دهېواد د ژبو د ساتنې، ملاتړ او ودې لپاره جامع پلانونه جوړ کړي.
- دولتي او نادولتي رسنیو کې د ژبو توازن او تناسب وڅاري او دا دې یقیني کړي چې د ملتونو د ژبو متوازنه، متناسبه او عادلانه وده په پام کې نیول کېږي.
- دملي ټرمینالوژۍ د ساتنې او ملاتړ لپاره ټینګ اقدامات وکړي.
- دهېواد په رسمي ژبو دبشري عقل، پوهې او معلوماتو دخپراوي کار ته وده ورکړي او د بشریت ګډ میراثونه د ولسونو ترمنځ خپاره کړي.

## ۴ -مدني ټولنې دې:

- په حکومت او دولت فشار راوړي چې د ژبو متوازن پرمختګ او ساتنې په برخه کې عملي کارونه وکړي او ټولو افغاني ماشومانو او زده کوونکو ته په مورنۍ ژبه د لومړنیو، منځنیو او لوړو زده کړو په برابرولو کې عملي، چټک او اغېزمن ګامونه پورته کړي.

## ۵- دملګرو ملتونو دفترونه او نادولتي ټولنې دې:

- د افغانستان له دولت او حکومت سره مرسته وکړي چې دافغانستان د ژبو په ساتنه او وده او په مورنیو ژبو د زده کړو برابرولو کې عملي اقدامات وکړي.
- په خپلو خپرونو کې د افغانستان د دواړو رسمي ژبو توازن په پام کې وساتي.

## ۶- ټولې رسنۍ (راډیوګانې، ټلویزیونونه ، خپرونې، ورځپاڼې، جریدې او داسې نور...) دې :

- د افغانستان ټولو ژبو ته د درناوي د عاملو لپاره خپرونې وکړي.
- په ټولو خپرونو کې دمورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې پیغامونه په پام کې ونیسي.

## ۷- د افغانستان ملي شورا دې :

- د قانون جوړوونکي او دقانون پلي کولو د څارونکي په توګه د ټولو ژبو د سالمې، متناسبې او عادلانه ساتنې، تقویې او ودې لپاره حکومت سره په ګډه کار وکړي او حکومت دې مجبور کړي چې د افغانستان بچیانو ته په مورنۍ ژبه د زده کړې حق ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مورنۍ ژبه باندې د زده کړې اهمیت

ډېرو درنو هېوادوالو ! تاسو به خبر یاست ، چې سږکال د یونېسکو له خوا د مورنۍ ژبو کال نومول شوی او د کب دویمه ( د فبرورۍ 21 مه ) نېټه د مورنۍ ژبو نړیواله ورځ ده . که څه هم د پاک الله (ج) سپېڅلي کتاب ، نړیوالو قوانینو ، بشري حقونو او د افغانستان اساسي قانون موږ ته داحق راکړی ، چې په خپله مورنۍ ژبه زده کړې وکړو ، خو د افغانستان چارواکي زموږ دا حق نه مني مګر دا چې خپل حق په کلکه او پر له پسې توګه ترې وغواړو

ــ د افغانستان اساسي قانون که له یوې خوا پښتو او دري د دولت د رسمي ژبو په توګه پېژني ، نو له بلې خوا په ۴۳ ماده کې په څرګندو ټکو کې راغلي ، چې دولت مکلف دی په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عاملولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تأمین لپاره اغېزمن پروګرام طرح او تطبیق کړي او د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کیږي لاره هواره کړي .

ــ د اساسي قانون په رڼا کې دپوهنې ښوونیزه او روزنیزه پالیسي په خپله اوومه ماده کې وایي :« په ښوونځیو کې تدریس په هغوژبوکیږي چې په اساسي قانون کې تسجیل شوې وي . »

دا خبرې یواز ې دافغانستان دقوانینوځانګړنه نه ده ، بلکې نړیوال مهم قوانین هم پدې هکله ځانګړی ټینګار کوي .

ــ د بشر د حقونو دنړیوالې اعلامیې په ۲۶ ماده کې راغلي ، چې میندې او پلرونه حق لري د ماشومانو لپاره یې د ښوونې او روزنې ډول غوره کړي .

ــ د ماشومانو د حقونو تړون ( سي آر سي ) په دېرشمه ماده کې وایي ، چې ماشوم باید له خپلو دې حقونو بې برخې نه شي چې له خپل کلتور څخه خوند واخلي ، خپل مذهب ومني او عملي یې کړي ، او خپله ژبه وکاروي .

ــ د ژبني حقونو نړیواله اعلامیه ( 1996) د دریېمې مادې په دوهم بند کې وایي ،چې هرڅوک حق لري دوی ته د دوی په مورنۍ ژبه او د دوی له کلتور سره سم دزده کړې امکانات برابر شي .

ــ د یونېسکو د مدیرانو جرګې د 2001 کال د دسمبر د اتلسمې نېټې په اعلامیه کې په ډېر صراحت سره وایي :« هر وګړی دا حق لري چې خپل ځان ( او خپل فکر ) څرګند کړي او خپلې چارې او کارونه د خپلې خوښې په ژبه ، په تېره بیا په مورنۍ ژبه کې رامنځته او خپاره کړي .

د ژبو د رنګارنګۍ د هڅونې تر څنګ او ورسره مورنۍ ژبې ته د زده کړې په هر پړاو کې درناوی او د څو ژبو د زده کړې پالنه له تنکي عمره په کار ده . »

ــ د ښوونې او روزنې ډېرو معتبرو څېړنو ثابته کړې ، چې په مورنۍ ژبه زده کړه له ماشوم سره د اعتماد او باور ، لوړ احساساتي لیاقت ، متوازن او حوصله لرونکي شخصیت په وده کې مرسته کوي اوله بلې خوا په ماشوم کې د اروایي عقدو ، ناکامۍ او محرومیت د احساس مخه نیسي . څېړنې همداراز وایي ، چې په مورنۍ ژبه زده کړه له ماشوم سره په چټکه زده کړه ، د اساسي موضوع په ژر اخېستنه او د تفاهم ، پوهاوي او ( آی کیو ) په پیاوړتیا کې ډېره مرسته کوي . د دغو څېړنو له نظره ، له ښوونځي څخه د ماشوم دمورنۍ ژبې ایستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



، عيناً د ماشوم د ايستلو په معنى دي او ټينګار کوي ، چې د ماشوم مورنۍ ژبه هغه وخت ډېره زيان منونکې ده چې له لومړني سره د زده کړې زمينه ورته برابره نه شي .

دري لسيزې وړاندې د کابل نفوس اته لکه و ، خو د وروستيو جګړو له امله چې يو زيات شمېر پښتانه له خپل کلي او کور څخه بې ځايه شوي وو څرنګه چې د دوی په سيمو کې ډېر ورانی شوی او يا اوس هم جګړې رواني دي ، زياتره له بېرته راستنېدو سره په کابل کې مېشته شول ، همداراز له شمال څخه يو زيات شمېر پښتانه د بېلا بېلو ګواښ،نو له امله کابل ته رامهاجر شول . په دې توګه اوس د کابل نفوس څلورنيم مېليونو ته رسيږي .څرنګه چې د دغو پښتنو زياتره ماشومان په دري نه پوهيږي اويا هم په دري ژبه زده کړو کې ستونزې لري ، دوی په وار وار له دولتي چارواکو څخه غوښتنه کړې چې د دوی بچو ته په خپله مورنۍ ژبه د زده کړې امکانات برابر شي . په دې لړ کې :

له ولسمشراو د پوهنې له وزير سره خبرې وشوې او دوی د عملي ګامونو ژمنې وکړې . په بيلابيلو علمي غونډو کې په مورنۍ ژبه دزده کړې علمي او عملي اړخونه وڅېړل شول او دپوهنې وزارت ته رغنده اود عملي کيدو وړ سپارښتنې او وړانديزونه وشول

دهيندارې کلتوري ټولنې له خوا دوه علمي سيمينارونه جوړ شول

دپوهنې وزارت له خوا دهيواد دبيلابيلو ژبو او قومونو دپوهانو مشورتي سيمينار جوړ شو.

دپوهنې وزارت له خوادکابل ښار او ولايت دپوهنې له مديرانو سره مشورتي غونډې تر سره شوې .

د کابل ښار له ښوونځيو څخه احصايې راوغوښتل شوې او پرېکړه وشوه ، چې په ۱۳۸۶ کال کې به په ۲۷ ښوونځيو کې د پښتو نصاب پروسه پلې کيږي او راتلونکی کال به دا لړۍ نوره هم پسې غځيږي .

خو له بده مرغه چې چارواکو او د پوهنې وزارت نه يوازې خپلې ژمنې عملي نه کړې ، بلکې د ګوتو په شمېر يو څو ښوونځيو کې چې دا چار تر سره شوې وه ، هلته هم په لوی لاس خنډونه رامنځته شول :

ـ دغو ښوونځيو ته په پښتو ژبه درسي کتابونه ونه رسېدل

ـ دښوونکيو په ګومارلو کې مرسته ونه شوه

ـ د ښوونځيو او معارف داسې مديران هلته وګومارل شول ، چې له پروسې سره مخالف وو

ـ د پوهنې وزير مسأله په لوی لاس کابينې ته راجع کړه او هلته داسې اندېښنو ته لمن ووهل شوه ، چې ښايي پښتنو ماشومانو ته د دوی د حق په ورکړې سره ملي وحدت ته زيان ورسيږي .په دې مانا ، چې که پښتانه د نورو په ژبه زده کړه کوي بيا ملي وحدت نه خرابيږي .

ـ د پوهنې وزيراوس وايي ، چې زه يوازې په يولسو ښوونځيو کې پښتو نصاب منم اوپه نورو ښوونځيو کې د پښتنو ماشومانو حق ته تيار نه يم .به دې مانا چې د کابل په څلورنيم مېليونه نفوس کې پښتانه يوازې د يولسو ښوونځيو مستحق دي .

د پوهنې دوزير په وينا ، د نورو ښوونځيو لپاره بايد له ولسمشرڅخه احکام واخېستل شي ، مانا دا چې د اساسي قانون له مخې که چېرې پښتانه د خپلو بچو لپاره په مورنۍ ژبه زده کړه غواړي نو بايد له ولسمشر څخه فرمان واخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ په شمال او يو شمېر نورو ولايتونو لکه هرات ، فراه او... کې د پښتنو تعليمي حقونه په بشپړه توګه هېر شوي او يو شمېر ښوونځي ، چې له پخوا څخه يې نصاب پښتو و ، هلته هم د پښتو کتابونو د نشتوالي له امله د تعليم ژبه په دري اړول شوې .
ــ سره له دې چې پښتانه د افغانستان تر نيمايي زيات نفوس جوړوي ، خو د پوهنې وزارت دلايحې له مخې ٪۷۰کتابونه په دري ژبه او ٪۳۰ کتابونه په پښتو ژبه چاپيږي ، په همدې دليل يو زيات شمېر پښتو ښوونځيو ته درسي کتابونه نه رسيږي .

د نجيب الله کابلي د بې منطقه او له تعصبه ډکو څرګندونو په وړاندې يو زيات شمېر افغانانو ( د ولسي جرګې او مشرانو جرګې غړو ، مدني ټولنو ، ټولنيزو سازمانونو ، قومي مشرانو او شورا ګانو ) پراخ ، قوي او له منطقه ډک غبرګون وښود . دا په دې مانا ده ، چې پښتانه په کلکه ، په خپله مورنۍ ژبه زده کړه غواړي .
په هغو ښوونځيو کې ، چې نصاب پښتو شوی ، هلته له تخنيکي ستونزو پرته ( د کتابونو نشتوالی ) نور هېڅ ډول ستونزې نه دي ليدل شوي ، نه ملي وحدت خراب شوی او نه هم چا اعتراض کړی ، بلکې د ماشومانو په زده کړه کې اوچته ښېګڼه راغلې .

**غوښتنې :**

ــ موږ له دولت او په ځانګړې توګه دپوهنې له وزارت څخه غوښتنه کوو ، چې پښتنو ماشومانو ته په ټول افغانستان او په ځانګړې توګه کابل کې په مورنۍ ژبه د زده کړې امکانات برابر شي .
ــ بايد د يوې باصلاحيته او ناپييلې کمېټې له خوا په ټولو ښوونځيو کې دقيقه او بشپړه احصايه واخېستل شي او د هغې پر بنسټ د کابل په 190 ښوونځيو کې د پښتنو ماشومانو لپاره د هرې سيمې له امکاناتو سره سم ښوونځي يا درسي وختونه ( شفټونه ) او يا هم په عين ښوونځي کې ټولګي جلا شي .
ــ پورتنيو ښوونځيو يا ټولګيو ته بايد سمدستي پښتودرسي کتابونه واستول شي
ــ د ښوونکو په تقرر کې مرسته وشي
ــ د پروسې مخالف مديران ګوښه شي
ــ د دغو ټولو چارو د څارنې په موخه د پوهنې وزارت ، ملي شورا او مدني ټولنو يوه باصلاحيته کمېټه جوړه شي .

# د افغان کلتوري ټولنو د جرګې روزنيز ورکشاپ

## ۷/ ۶/ ۱۳۸۷

ترتيب: ګل آغا احمدي وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تیرې پنجشنبې په ورځ د روان ۱۳۸۷ هجري لمریز کال د وږي له اوومې او د ۲۰۰۸ میلادي کال د آګست له ۲۸ نیټې سره سمون خوري د اطلاعاتو او کلتور وزارت د مطبوعاتو په نړیوال تالار کې د افغان کلتوري ټولنې د جرګې د اداري پلاوي له خوا یو ورځنی روزنیز ورکشاپ د خپلې کارډلې د غړو لپاره رابلل شوی وو چې د کارډلې لسګونو کسانو په هغه کې ګډون کړی وو. د دې روزنیز ورکشاپ په ترڅ کې د ښاغلي ډاکتر محمد ابراهیم شینواري له خوا د اداري نظم په هکله د یوه اغیزمن پریزنټېشن د ورکولو سره سره د ښاغلي ډاکتر خوشحال روهي هم خپله وینا واوروله چې د جرګې په کړنو، سر ته رسیدلو چارو او راتلونکیو پلانونو په هکله یې په لنډه توګه رڼا واچوله. پر دې سربیره نوموړی ورکشاف د خپلو ګډونوالو له خوا د کاري بهیر د ښه والي لپاره په ګڼو وړاندیزونو بدرګه شو چې تاسو ته یې د لوستلو بلنه درکوو.

## د غونډې پیل

غونډه د ګل آغا احمدي وردګ له خوا د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پرانیستل شوه.

## پیلیزه وینا

محترم عبدالغفور لیوال د پیلیزې وینا په توګه وویل:

نني ورکشاپ د لاندې چارو د غوره سر ته رسولو په موخه جوړ شوی دی:

- د فرهنګیانو د کارونو د تنوع او ډیروالي له کبله
- په ځینو مواردو کې د تشو د ډیروالي او د نوموړو تشو د ډکولو په موخه
- د کمیسیونونو او کمیټو د چارو د سمون په موخه
- د داخلي نظم، اصولو او بنسټونو د جوړیدو په موخه
- د کاري غونډو د دایریدو او د شوو فیصلو د عملي کیدو په موخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مخکې لدې چې د اداري نظم په اړه ښاغلی ډاکتر محمد ابراهیم شینواری خپل پریزینټشن وړاندې کړي ښاغلي ډاکتر صاحب خوشحال روهي ته بلنه ورکوم چې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې په ترسره شوو چارو یو ځغلنده نظر واچوي چې څه شوي څنګه شوي دي او څه باید وشي؟

## د محترم ډاکتر صاحب خوشحال روهي وینا

دا چې محترم لیوال صاحب وویل چې زه به په دې هکله خبرې کوم چې څه شوي دي، څنګه شوي دي او څه باید وشي؟ خو ماته په دې دریواړو کې تر ټولو مهمه خبره دا ده چې موږ په دې فکر وکړو چې څه باید وشي او څنګه باید وشي؟ سره لدې زه باید یادونه وکړم چې د افغان کلتوري ټولنو جرګې د خپل یوه کلن بهیر په ترځ کې څه کړي او په څه ډول یې سر ته رسولي دي؟

لومړی باید ووایم چې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې د جوړیدو اساسي موخه په یوه محور باندې په افغانستان کې د بیلو بیلو او خورو ورو کلتوري ټولنو راټولول او همغږي کول، د همدې موخې لپاره د ګډې پالیسۍ رامنځه کول او تعقیب، لویو هدفونو ته رسیدل او لویو چلنجونو ته غوره ځواب موندل د دې جرګې له بنسټیزو موخو څخه ګڼل کیږي.

موږ د خپل کار په جریان کې په دې بریالي شوو چې په ۲۵ ولایتونو کې د افغان کلتوري ټولنو د جرګې لپاره منتخب غړي ولرو په ۹ ولایتونو کې د غړو د انتخاب او د کلتوري ټولنو د جرګې د غړو د ټاکل کیدو وعده راسره شوې ده چې له دې جملې څخه نیمروز، کاپیسا او پروان د یادولو وړ دي چې کار پرې روان دی. خو یوازې ۵ ولایتونه پاتې کیږي او په هغه کې ستاسو خوښه چې موږ هلته هم د کلتوري ټولنو د جوړولو په هڅه کې شو او که نه؟

د خوښۍ خبره خو دا ده چې په هغو سیمو کې چې موږ ترې دومره تمه نه کوله هلته د کلتوري ټولنو جوړیدل او د غړو ټاکل په ډیر بریالي انداز سره تر سره شول لکه د افغانستان لودیځه سیمه هرات، فراه، نیمروز او داسې نور. اوس مهال موږ په نوموړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمه کې د ملالۍ، سپينې ادې او تورغونډۍ په نامه باندې کلتوري ټولنې لرو او همدارنګه په فراه کې سږ کال د عناب ګل په نامه مشاعره او په هرات کې د تورغونډۍ په نامه مشاعره جوړه شوې ده چې زموږ لپاره د وياړ ځای دی. همدارنګه په هرات کې د ستر غازي امان الله خان د درناوي غونډه يو بل مثال دی چې زموږ له اتلانو څخه د دفاع په لاره کې په دې سيمه کې جوړه شوې ده.

بله لويه لاسته راوړنه موږ په شمالي ولايتونو کې لرو چې له بغلان او کندز څخه نيولي آن تر مزار شريف، فارياب، تخار او جوزجان پورې دغه ټوله سيمه په بر کې نيسي او هلته زموږ د جرګې غړي ډير فعال دي چې په ۱۳۸۷ کال کې د ريدي ګل شانداره مشاعره يې يوه ښه بيلګه ده.

موږ د ۱۳۸۶ د زمري دمياشتې په ۲۶ نيټه د افغان کلتوري ټولنو د جرګې لومړنۍ لويه غونډه درلوده چې په هغه کې ولايتي استازي معرفي شول، ولايتي استازو د خپلو خپلو ولايتونو کلتوري راپورونه وړاندې کړل، د غونډې کړنلاره اعلان شوه، کارډله و ټاکل شوه او د لارښودې شورى په ترکيب باندې توافق وشو. پر دې سربيره د کارونو د غوره سمون لپاره د کارډلې او ولايتي استازو تر منځ په ګډو مسايلو ګټورې پريکړې وشوې او د هيواد د کلتور د بڼ ګلانو له يو بل سره و پيژندل. همدارنګه د جرګې له لومړنۍ لويې غونډې وروسته سمدلاسه د کارونو د سمون لپاره مختلفو کميټو په کار پيل وکړ چې په هغه کې سکرتريت، د اړيکو کميټه، مالي کميټه، د خپرنيزو چارو کميټه، د مورنۍ ژبې کميټه او تخنيکي کميټه شاملې دي چې د کار ډلې غړي په هغه کې عضويت لري او د چارو د سمون په برخه کې يې کار کوي. په دې هکله د ټولو دوستانو کار د قدر وړ دی خو له ښاغلي استاد محمد آصف صميم څخه په ځانګړې توګه مننه کوو چې له موږ سره يې په ټولو ولايتي سفرونو کې ګډون کړی او د غونډې په بريالي جوړيدو کې يې خپل اغيزمن رول لوبولی دی.

بله لويه غونډه د ژباړې سيمنار وو چې د ۱۳۸۶ د ليندۍ يا قوس د مياشتې په لومړۍ نيټه په بريالۍ توګه تر سره شو او د هغه په لړ کې له موږ سره د مختلفو لوريو او فرهنګي شخصيتونو له خوا د ۳۵ ټوکه کتابونو د چاپ ژمنې وشوې. موږ وکولای شول چې له ژمنه شوو کتابونو څخه ۸ نسخې چاپ کړو، په ۶ نسخو باندې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس کار روان دی او د یو شمیر نورو کتابونو د چاپ لړۍ هم په خوځیدو راغلې ده چې په تدریج سره به چاپیږي او په دې ورځو کې باید کار ورباندې چټک کړو. حتی خبره تر دې حده را رسیدلې ده چې زه په بکس کې هم یو کتاب لرم چې کار پرې روان دی. همدارنګه د افغان کلتوري ټولنو د جرګې د ژباړې له بهیر سره په مسکو کې د میشتو افغانانو له خوا ۴۵۰۰ امریکایي ډالره مرسته اعلان شوه. په همدې توګه یو شمیر دوستانو وړاندیز وکړ چې د ژباړې یو انستیټوت دې رامنځته شي چې د همدې موخې لپاره هم یو شمیر دوستانو او مشرانو د نغدي مرستې ژمنه اعلان وکړ.
د ژباړې د چارو په هکله له ګڼو بریاوو سره یو شمیر نیمګړتیاوې هم وې چې موږ د خپل کار په بهیر کې ورسره مخ وو چې د هغه له جملې څخه کیدای شي په دې هکله د نورو غونډو د عدم تدویر موضوع یاده کړو چې باید وخت پر وخت نورې مسلکي غونډې شوې وای او د ژباړې چارو ته یې مناسب سمون وربخښلی وی.
همدارنګه د جرګې ویب سایټ په مناسب او وړ شکل بډای نه شو او نه هم د ژباړې لپاره په هغه کې مناسب ځای و ټاکل شو چې د ژباړل شوو کتابونو لیست وړاندې کړي څو له تکرار څخه یې مخه و نیول شي.
د جرګې بله پروژه د شهید مصور خپرنیز بنسټ دی چې د ماشومانو لپاره د پښتو کتابونو او آثارو چاپ ته ځانګړی شوی دی او د ۱۳۸۶ کال د وري د میاشتې په ۳۰ نیټه یې په کار پیل کړی دی. باید ووایم چې شهید محمد هاشم مصور د پکتیا له ولایت څخه د جرګې فعال او ژمن غړی وو چې د یوې ناوړه پیښې په ترڅ کې په شهادت ورسیده او د دې قدرمن شهید کورنۍ یو څه پانګه د افغان کلتوري ټولنو د جرګې په اختیار کې ورکړه چې د شهید مصور په نامه باندې یو خپرنیز بنسټ رامنځته شو. د نوموړي بنسټ اساسي دنده د افغان ماشومانو لپاره د کتابونو د چاپ لړۍ ته ځانګړې شوېده چې په دې لړ کې مو هم ۴ کتابونه چاپ کړي او دوه نور تر چاپ لاندې دي.
د پلازمینې کابل په تعلیمي موسساتو کې په مورنۍ ژبه باندې د زده کړې په لارو چارو کې هم د افغان کلتوري ټولنو جرګه فعال رول لري او د یوې فعالې او موثرې کمیټې په وسیله دغه چارو ته سمون ورکوي او کارونه یې په مناسب ډول تعقیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي. د افغان کلتوري ټولنو جرګې د ۱۳۸۶ کال د کب د میاشتې په ۳ نیټه د لویې جرګې په خیمه کې یوه لویه غونډه را وبلله چې په مورنۍ ژبه باندې د زده کړې اهمیت یې څرګنداوه چې له هغه وروسته د پوهنې وزارت بشپړې همکارۍ ته چمتو کول د افغان کلتوري ټولنې د جرګې له نوښتونو څخه دي چې د خپل جوړښت څخه وروسته یې تر سره کړ. همدا اوس طوطاخیل صاحب د پوهنې په وزارت کې زموږ استازی دی چې د کابل په تعلیمي موسساتو کې په مورنۍ ژبه باندې د تدریس چارې څاري، ښووونکي ورته پیدا کوي او د کتابونو د توزیع په هکله ورسره مرسته کوي. همدارنګه د هغه لویه دنده دا ده چې په دې هکله هغه ذهنونه برابر او روښانه کړي چې پښتانه دي او په پښتو ژبه باندې د تدریس سره چندان علاقه نه لري یا د دې بهیر په اهمیت نه خبر نه دي.

زموږ بله لویه بریا چې د جرګې د جوړېدو وروسته مو ترلاسه کړه په داسې یوه جنجالي دور کې د دوو کلونو لپاره د سرشمیرنې ځنډول وو چې تاوان یې په اوسنیو حالاتو کې یوازې پښتنو ته رسیږي. موږ په دې هکله د روان ۱۳۸۷ کال د غوايي د میاشتې په ۲۶ نیټه د کابل په کانټیننټل هوټل کې د یوه لوی سیمنار د جوړولو تابیا وکړه چې د افغان کلتوري ټولنو دجرګې د غړو په شمول د ولسي جرګې زیات شمیر غړو، مسلکي کسانو او ګڼ شمیر کارپوهانو نوموړې موضوع له هراړخیزه پلوه و ارزوله او په روان وخت کې یې د داسې یوې لویې او مهمې ملي کړنې ترسره کول ناشوني وګڼل. د هماغه سیمنار په بنسټ د وزیرانو شورى پریکړه وکړه چې دغه بهیر دې د دوو نورو کلونو لپاره و ځنډیږي. خو په دې هکله زموږ کار لا پای ته نه دی رسیدلی او اړینه ده چې د سرشمیرنې په ریاست کې بنسټیز بدلونونه راوستل شي څو په ملي بڼه سمبال او په راتلونکي کې د هر ډول درغلیو مخه و نیول شي.

بل دا چې په کندز کې د هغه ځای د میشتو فرهنګیانو، لیکوالانو او شاعرانو په مرسته مو د روان ۱۳۸۷ کال د غوايي د میاشتې په ۲۰ نیټه په نوموړي ولایت کې د ریدي ګل کلنۍ مشاعره جوړه کړه چې د افغانستان د شمالي سیمو په مینه والو سربیره له مرکز او نورو ولایتونو څخه هم یو زیات شمیر لیکوالانو، شاعرانو او مینه والو ګډون پکې کړی او موږ د یوه منظم پروګرام په اساس هلته ورغلو او مثبتې اغیزې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په لنډ او اوږده مهال کې هرو مرو څرګندېږي. همدارنګه نوموړی کار د افغانستان د شمالي ولايتونو کې ميشتو پښتنو ته د خپلو کلتوري فعاليتونو د غوره سمون په لاره کې يوه روښانه هيله او غوره ډاډ وو چې د افغان کلتوري ټولنې د جرګې له خوا ورسره څرګند شو.

بله لويه بريا چې موږ ترلاسه کړې ده هغه دميرمن کلتوري ټولنيز بهير جوړيدل دي چې د روان ۱۳۸۷ کال د غبرګولي د مياشتې په ۱۱ نيټه يې رسما په کار پيل کړی او تر دې مهاله يې دولس منظمې غونډې کړې دي چې په ډيره منظمه توګه تدوير مومي. همدارنګه د ميرمن د کلتوري ټولنيز بهير بله لاسته راوړنه د يوه کتاب چاپ دی (په سترګو کې ليکل شوې افسانه) چې آغلې طوبی ندا ساپۍ ليکلی او د روان ۱۳۸۷ کال د زمري په مياشت کې له چاپ څخه راوتلی او د مينه والو د لوستلو وړ ګرزيدلی دی چې د راتلونکې شنبه په ورځ يې د ميديوټيک په دفتر کې مخکتنه کيږي او تاسو ټولو ته بلنه درکوو چې په دغه مخکتنه کې ګډون وکړی.

همدارنګه د افغان کلتوري ټولنو د جرګې بله لويه او مهمه لاسته راوړنه د افغان روغتيايي بنسټ جوړيدل دي چې د ۱۳۸۶ د مرغومې د مياشتې په ۷ نيټه د افغان کلتوري ټولنو د غړو او د هيواد د يو شمير روغتياپالانو له خوا پرانيستل شوی دی خو لکه څنګه چې لازمه ده د دې بنسټ د ځواکمن کولو په هکله دومره کار نه دی شوی چې د پام وړ لاسته راړونې ولري او په دې لاره کې زيات کار او هڅو ته اړتيا ليدل کيږي.

په همدې ډول په پارلمان کې مو د ملي ترمينالوجۍ څخه دملاتړ په موخه پښتانه او ريښتنې افغان وکيلان پوهولي تر ډيره ځايه پوهولي دي چې د ملي اصطلاحاتو او نواميسو څخه د ساتلو په لاره کې د دې هيواد د کورنيو او بهرنيو غليمانو هر راز دسيسې شنډې او په هيڅ ډول يې قبولې نه کړي ځکه که خدای مه کړه غليمان په خپلو موخو کې کاميابيږي نو ډيرې خطرناکې پايلې به و لري. د ملي ترمينالوجۍ موضوع اوس مهال داسې يوه کمسيون ته سپارل شوې ده چې د ولس مشر له خوا به ټاکل کيږي او دغه مسئله به د اساسي قانون په رڼا کې څيړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور مهم موضوعات اوس مهال زموږ په مخ کې قرار لري چې ستاسو پاملرنه ورته را اړوم:

لومړی موضوع: د انګور بڼ مشاعره چې د راتلونکې جمعې په ورځ به کیږي تاسو ټولو ته بلنه درکوو چې په هغه کې برخه واخلئ.

دویمه موضوع: د افغان کلتوري ټولنو د جرګې او يو شمير نورو ټولنيزو سازمانونو له خوا د جمعې په ورځ د عيدګاه په جومات کې د شينډنډ د شهيدانو لپاره دعا کيږي چې تاسو ټولو ته په هغه کې  د ګډون بلنه درکول کيږي.

دریمه موضوع: د روژې څخه وروسته به د جرګې کلنۍ غونډه جوړيږي چې د هغه لپاره د تياريانو کار روان دی او تاسو به وروسته د هغه د اجندا، د غونډې  د جوړيدو د دقيق ځای او تاريخ په هکله خبر درکول کيږي.

څلورمه موضوع: په مزار کې يوه لويه غونډه او مشاعره جوړيږي چې د ټولو ګډون هلته ضروري دی.

پنځمه موضوع: د افغان کلتوري ټولنو د جرګې په نوښت په هيواد کې د ښوونځيو د سوزولو په ضد يو پراخ کمپاين پيل کيږي چې تاسو ټولو ته به وروسته په دې برخه کې کافي معلومات درکړل شي.

## د ډاکتر صاحب محمد ابراهيم شينواري معلوماتي پريزنټيشن

ډاکتر صاحب محمد ابراهيم شينواري خپل پريزنټشن وړاندې کړ چې د هغه مهم ټکي په دې ډول وو:

- منظم ګروپ او د بدلون کلی
- تر ټولو ښه نظم لومړی د الهي قانون په عملي کولو کې تمثيل کيږي
- زموږ يو مثبت ټکی (پياوړې ژمنه) ده خو دوې ستونزې هم لرو: له نظم سره بې مينې توب او د وخت اهميت ته پاملرنه نه کول يا وخت سره زر نه ګډل مو لويې ستونزې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تاریخي شواهدو او تجربو له مخې ویلای شو چې د ژمنو، وفادارو، فکرمنو او منظمو خلکو یوه کوچنۍ ډله کولای شي چې ټوله نړۍ بدله کړي.
- د هڅونې دوه ډیرې مهمې تیورۍ ګانې موجودې دي چې یوه یې هڅوونکې او بله یې ساتنیزه تیوري ګڼل کیږي چې بیا هره یوه یې په خپل ځای کې تفصیلات لري.
- د هڅونې د تیورۍ ګانو په اړ کې د اړتیاوو ځنځیر په دې ډول دی: بنسټیزې اړتیاوې، خوندي توب، اړوند، درناوی ـ حرمت او نورې غوښتنې.
- د ښه نظم لپاره اړین ټکي په دې ډول دي: روښانه پالیسي، کړنلاره، تګلاره او موخې. دقیق تشکیلات او د کارونو ښه ویش. د دندو لایحې او د پلان لرل چې پلان موږ په مختلفو ډولونو ویشلای شو خو دلته یې یوازې دغه نمونې را اخلو: ستراتیژیک پلان، کلنی، میاشتنی او د ورځنیو کارونو لیست.
- د هڅونې تیورۍ ګانې: د بریا لپاره اړتیا، د تړاو لپاره اړتیا، د ځواک لپاره اړتیا او د مهم ګڼلو لپاره اړتیا.
- د غوره نظم لپاره اړین ټکي: د ستراتیژیک هدف درلودل چې لاندې مشخصات او ځانګې ولري: لیدلوری، د ماموریت لنډیز، لوی هدف، لاس ته راوړونکې موخې، حاصل او نتیجه، د موخو د لاسته راوړلو لپاره د استراتیژۍ او لارو چارو ټاکل او د سرچینو معقول ویش.
- همدارنګه د غوره نظم لپاره پکار دي چې یو سړی د ورځني نظم دمراعات په صورت کې لاندې ټکو ته پاملرنه وکړي: د ورځنیو کیدونکو کارونو لیست ولري، د ځان اداره او تنظیم، د وخت اداره او تنظیم، د ځای اداره او تنظیم، د غونډو اداره او تنظیم. خو تر دې ټولو مهمه خبره دا ده چې له ټاکلي هدف سره لیونی مینه موجوده وي.
- کاري پلان، کاري پلان باید دغه ټکي ولري: حاصل، کړنه، وخت، مسوول، منابع او کتنې.
- استراتیژي، څیړنه او ارزونه، دفتر او اغیزمنه رهبري

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د وخت اداره او تنظیم چې دغه ټکي ولري: د وخت ویش، د وخت له ضایع کیدونکو څیزونو څخه مخنیوی، د تیلفوني چارو او موبایل اداره او د بریښنالیک اداره چې ګواکي هرڅه په خپل ټاکلي وخت تر سره شي او مهم کارونه د ورځې په لومړۍ مرحله کې اجرا شي.
- د ورځنیو کیدونکو کارونو لیست په دې ډول: کړنه، وخت، مسوول، لومړیتوب، اجرا شو او که نه.
- د غونډو اداره او تنظیم: غونډې باید د اړتیا له مخې وي، مشخصه اجندا ولري، د ګډونوال تشخیص او پر وخت خبرول، په ټاکلي وخت پیلول او پای ته رسول، د پریکړو اعلان او د غونډې ګډونوالو ته یې لیږل او د پریکړو تعقیب.
- د ځای اداره او تنظیم باید په دې ډول وي: د کار میز پاک ساتل، د راتلونکیو او تلونکیو کاغذونو (صادرې او واردې) تنظیم، د دفتر پاک ساتل او په اغیزمن ډول سره د دوسیو تنظیم.
- د منظمو او بې نظمو خلکو بیلګې
- پوښتنې او تبصرې

## د غونډې د ګډونوالو وړاندیزونه

د ښاغلي ډاکتر محمد ابراهیم شینواري له معلوماتي پریزنټشن وروسته د سمینار ګډونوالو د افغان کلتوري ټولنې د جرګې د کار سمون لپاره ګڼ وړاندیزونه وکړل چې لنډیز یې په دې ځای کې ستاسو قدرمنو لوستونکو په وړاندې بړدو:

- د غونډې ځای، تاریخ او وخت باید واضح معلوم وي
- غونډه باید مشخصه اجندا ولري او یوازې په هماغه اجندا خبرې وشي او له حاشیوي خبرو څخه باید ډه ډه وشي.
- د غونډې د پیل او پای وخت باید معلوم وي او په هماغه ټاکلي وخت کې پای ته ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که څوک د غونډې پر مهال په خبرو کې له مشخصې موضوع او اجندا څخه وزي باید په داسې توګه خبر کړای شي چې نور نو د خبرو لړۍ بیرته اجندا ته راوګرزوي.
- په غونډه کې هر سړی باید د خبرو کولو ټاکلی وخت ولري او له خپل ټاکلي وخت څخه یوه دقیقه د مخه هغه خبر کړای شي چې وخت یې خلاص دی.
- په غونډو کې خبرې باید په نوبت او د مجلس د رئیس یا مشر د اجازې له مخې ترسره شي مانا دا چې نوبت مراعات او د لومړیتوب حق هغو خبرو ته ورکړل شي چې له مشخصې اجندا سره نږدې اړخ لګوي.
- باید د غونډې د وخت تعین په اجندا کې شوی وي او د هرې فقرې د وړاندې کولو لپاره هم ځانګړی وخت وي چې په هیڅ توګه له هغه څخه سرغړونه و نه شي.
- د غونډې اجندا دې د ټولو ګډونوالو ته د ایمیل له لارې او که د ایمیل آسانتیا نه وي د کاغذ له لارې و لیږل شي.
- د افغان کلتوري ټولنو د جرګې د موظفو کمیټو کار دې یوازې په دریو کمیټو کې منحصر شي
- د غونډو په پیل کې باید ټول ګډونوال خپل موبایل تیلفونونه بند کړي.
- د ټولو کمیټو لپاره دې اجنداوې جوړې شي چې کاري غونډې په څه ډول دایروي.
- که د کاري کمیټو غړي په میاشت کې یو ځل غونډه سره وکړي نو ښه به وي
- د موضوع د اهمیت په اړه باید غونډه جوړه شي.
- په یوه غونډه کې باید موضوع روښانه او مشخصه وي او که په یوه غونډه کې یوازې د یوې موضوع په هکله خبرې وشي نو غوره خبره ده.
- د غونډې ګډونوال دې له تکراري خبرو ډه ډه وکړي
- باید ټولې خبرې یوازې او یوازې د مشخصې موضوع په هکله وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د جرګې د دارالانشا لپاره دې څو مشخص نفر و ټاکل شي چې د کاري کمیټو لپاره پلانونه جوړ کړي.
- د غونډې د ګډونوال لیست باید ترتیب شي او نورو ته هم و لیږل شي
- په هره غونډه کې دې د غونډې د ګډنوالو نومونه ثبت، د تیلفون شمیرې او بریښنالیکونه یې هم باید واخیستل شي که څه هم چې مخکې ثبت وي ځکه کیدای شي د تیلفون شمیرې او یا بریښنالیك یې بدلون موندلی وي.
- باید هره غونډه او دهغه اجندا یو غوره پلان هم و لري او په هغه خبرې وشي که د پلان جوړول تخنیکي کسانو ته پریښودل شي نو ښه کار دی
- په کاري کسانو دې بهیروال هم شامل کړل شي او له هغو سره دې تفاهم وشي چې هم د افغان ادبي بهیر غونډه تر سره شي او هم د افغان کلتوري ټولنو د جرګې غونډه پاتې نه شي.
- په جرګه کې مرکزیت وجود نه لري که چیرې لږ تر لږه د یوه سکرتر غم وخوړل شي او د یوه مسوول په توګه کار وکړي نو غوره خبره به وي. سکرتر به مسوولیت ولري څو ټول اړوند کسان په خپل وخت او اغیزمنه توګه له ضروري یادونو خبر کړي.
- کارونه باید وویشل شي او د هرچا مسوولیت مشخص شي د دې خبرې مانا دا ده چې د ټولو کارونو مسوولیت باید یوه شخص ته متوجه نه وي ځکه چې د ورځې په تیریدو سره زموږ د کارونو ونډه درنیږي.
- داسې یو کاري سیستم دې جوړ شی چې راتلونکیو نسلونو ته هم د استفادې او اجرا وړ وي.
- اړیکې باید ډیرې غښتلې شي او د جرګې غړي تشویق شي چې په دې لړ کې له معاصرې تکنالوجۍ، تیلفون او ایمیل څخه زیاته ګټه واخلي.
- غونډو ته باید په خپل وخت حاضر شو او په وخت نه حاضریدل زموږ یوه لویه ستونزه ده
- د هرې سیمې لپاره دې ځانګړی استازی وټاکل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- باید چې د غونډې ګډونوال له ټاکلي وخت څخه پنځه دقیقې د مخه غونډې ته تشریف راوړي او که څوک غونډې ته نه شي حاضریدای نو باید مخکې له مخکې مسوول اړخ ته احوال ورکړي.
- باید د غونډې ګډونوال له اضافي او احساساتی خبرو تیر شي او مخامخ په لنډو ټکو کې د موضوع په اړه خبرې وکړي.
- هره کمیټه باید یو ویاند و لري.
- کاري راپورنه دې په میاشتنۍ غونډه کې وویل شي
- باید مسوول ته اړخ ته راپور ورکړل شي چې ګواکي کومې کمیټې غونډه وکړه او کومې فیصلې ته سره ورسیدل.
- په کمیټو کې باید تداخل رامنځته نه شي
- جرګه باید د خپلو کارونو او اجراآتو یو بروشور ترتیب کړي
- د جرګې د غړو تر منځ د هر لیکلي پیغام لیږل باید چې دواړه تاریخونه ولري هم هجري لمریز او هم میلادي څو دغه رواج زموږ د کلتوري کړیو او باسواده وګړو ترمنځ دود او ولس ته هم انتقال شي. همدارنګه د جرګې د تاریخي اسنادو د برابرولو لپاره به دغه راز کار ګټې ګټې لري.

## د کاري کمیټو د پلان جوړولو د نوې کاري کمیټې ټاکل

د یوه ورځني روزنیز ورکشاپ په پای کې د اړوندو چارو د غوره تنظیم او د کاري کمیټو لپاره د پلان جوړولو لپاره یوه کمیټه په کار و ګمارل شوه چې د وږي د میاشتې په ۱۵ نیټه به غونډه کوي د دې کمیټې د غړو نومونه په لاندې ډول دي:

محترم عبدالغفور لیوال، ګل آغا احمدي وردګ، محترم زردشت شمس، محترم میرویس کامله وال، محترم ملنګ ابراهیمي، محترم منصور، محترم محمدالله، محترم ډاکتر محمد ابراهیم شینواری او محترم نورآغا احمدزی.

د سمینار د تدویر نیټه: ۷/ ۶/ ۱۳۸۷لمریز ۲۸ آګست ۲۰۰۸ میلادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دافغان کلتوري ټولنو جرګه

## کار ډله

### د کمیټو د دندو لایحې او د غړو لېستونه

سکرتریت :د ټولو کمېټو له مشرانو څخه جوړیږي او لاندې دندې لري :

1. د کاري ډلې غونډې ته رپوټ ورکول او د غونډو اجندا جوړول،
2. د کارډلې او لارښودې شورا د غونډو رابلل او سمبالول،
3. د ټولو غونډو پروتوکولونه، پریکړه لیکونه او ګزارشونه په ارشیف کې خوندي کول،
4. له ولایتونو څخه د معلوماتو او رپوټونو راټولول او خوندي کول،
5. د کلتوري ټولنو په باب معلومات راټولول او خوندي کول،
6. د رسنیو، تبلیغاتو او ویاندۍ تنظیمول،
7. لارښودې شورا ته د کار رپوټ ورکول،

| ګڼه | نوم | د ټېلیفون شمېره | برښنالیک |
|---|---|---|---|
| | استاد اسدالله غضنفر | 0700291987 | |
| ۲ | اول الرحمن رودوال | 0777308715، 0799308715 | |
| ۳ | ډاکتر ابراهیم شینواری | 0700629550 | |
| ۴ | استاد علم ګل سحر | 0700217012 | |
| ۵ | خوشال روهي | 0708198374، 0700015699 | |
| ۶ | اېمل شمس | 0708198365، 0700220208 | |
| ۷ | اسرار کریمزی | 0700643648 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸ | ډاکتر دوران فیضان | 0779141599 | |

**د اړیکو کمیټه:**

1. له ټولو ټولنو (ولایتي جرګو، په بهر کې کلتوري ټولنو...) سره اړیکې ټینګول او ساتل،
2. د ولایتي جرګو د کار څارنه، د کار ډلې له پرېکړو د هغوی خبرول او د هغوی پوښتنو ته ځواب ورکول
3. د لرې پښتونخوا د کلتوري ټولنو سره اړیکې ټینګول او ساتل،
4. په ولایتونو کې د غونډو رابلل او تنظیمول،
5. له اغېزمنو اشخاصو او دولتي او نه دولتي ټولنو سره (د جرګې د پالیسیو په رڼاکې) همکاري، اړیکې ټینګول او ساتل،
6. د کلتوري ټولنو په اړه د معلوماتو راټولول او خوندي کول اوهمدارنګه له کلتوري ټولنو سره د معلوماتو راکړه ورکړه،
7. له اولسي ټولنو، پارلمان سره اړیکې ټینګول او ساتل،
8. د رسنیو سره اړیکې ټینګول او ساتل،

یوشمېر نورې دندې :

- له خپل منځ څخه د ولایتونو ، لرې پښتونخوا ، بهرنیو هېوادونو ، پوهنتون ، ملي شور، مېډیا او قومي شوراګانو لپاره د مسولینو ټاکل
- مسوولین باید لږ تر لږه په هرو دوو اونیو کې له اړونده ولایت ، هېواد یا مؤسسې سره اړیکې ټینګې کړي او د کمېټې غونډې ته معلومات ورکړي .
- د نویو ټولنو د جوړولو لپاره د اړیکو تنظیمول
- د ټولو ټولنو ، رسنیو ، لیکوالانو او نورو اغېزمنو کلتوري ، علمي ، ټولنیزو او قومي شخصیتونو د بشپړ لېست جوړول
- د انټرنېټي شبکې جوړول او د برېښنالیک له الارې د منظمو اړیکو جوړول ، له همدې لارې د نورو ټولنو او غړو خبرول او په خپله د ځان خبرول
- د غونډو او سیمینارونو لپاره د دارالانشا په مشوره د مېلمنو رابلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ له خپلو فعالیتونو څخه په منظمه توګه د نورو ټولنوخبرول

ـ د لویو غونډو د امنیتي چارو سمبالول

| ګڼه | نوم | د ټېلېفون شمېره | برېښنالیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | اول الرحمن رودوال | 0777308715، 0799308715 | |
| ۲ | میرویس کامه وال | 0799566900 | |
| ۳ | ډاکتر محمد الله | 0799310460 | |
| ۴ | عبدالنافع همت | 0708198451، 070211696 | |
| ۵ | علم ګل سحر | 0700217012 | |
| ۶ | محبوب الله محبوب | 0700999615، 0708198367 | |
| ۷ | عبدالغفار جبارخېل | 0799343489 | |
| ۸ | ډاکتر ودود افغان | 0708198618، 0700249303 | |
| ۹ | عبدالرحمن الفت | 0700217786 | |
| ۱۰ | خان آغا احمد زی | 0799617075 | |
| ۱۱ | ډاکترثواب الدین مخکښ | 0799643380 | |
| ۱۲ | داود تپاند | 0797383930 | |
| ۱۳ | خوشال خلیل | 0799898811 | |
| ۱۴ | عزت الله شمسزی | 0700602504 | |
| ۱۵ | ډاکتر یوسف سادات | 0799100988 | |
| ۱۶ | نذیر احمد نذیر | 0708198490، 0700228393 | |
| ۱۷ | خوشال روهي | 0708198374، 0700015699 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۸ | استاد اکبر جان پولاد | 0799193942 | |
| ۱۹ | | | |
| | | | |
| | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مالي کمیټه:**

1. مالي پالیسي جوړوي او لارښودې شورا ته يې وړاندې کوي،
2. مالي امکانات او مرستې جلبوي،
3. منظم مالي سیستم جوړوي او بانکي حساب پرانیزي،
4. د مالي چارو اسناد ساتي او دقیق رپوټ چمتو کوي،
5. د مرستو د جلبولو لپاره همکاران پیدا کوي،
6. په خپلو کې د دندو د ویش یو سیستم جوړوي،
7. د مالي مسایلو اسناد ساتي او د هغوی له مخې مالي مسایل په خپل وخت تصفیه کوي،
8. پّه مالي برخه کې د روڼوالي او حساب ورکولو سیستم جوړوي،
9. کاري پلان جوړوي او د هغه له مخې کار پر مخ بیایي.
10. د کار د ښه انسجام لپاره اوونیزې غونډې کوي او د پریکړو یاددښتونه يې ساتي او تعقیبوي.

**فرعي دندې :**

- تر هرې لویې غونډې وروسته د مالي رپوټ جوړول او کارډلې ته يې وړاندې کول
- کلنی رپوټ چمتو کول او د جرګې لویې غونډې ته يې وړاندې کول
- د غړیتوب د ونډو او بسپنو تنظیمول او د بسپنو د رسید ورکول
- د هرې کمېټې د بسپنو بېل تنظیم ( لکه د مورنۍ ژبې ، د ژباړې کمېټې او مصور خپرندوی بنسټ د حسابونو بېل تنظیمول )

| ګڼه | نوم | د ټېلیفون شمېره | برښنالیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | انجینر ملنګ ابراهیمي | 0700221161 | |
| ۲ | اېمل شمس | 0708198365، 0700220208 | |
| ۳ | زاهد توتاخېل | 0799309661 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴ | عبدالرحمن الفت | 0700217786 | |
| ۵ | عبدالجبار ځپاند | 0700610474، 0799391391 | |

**د خپرنیزو چارو کمیټه:**

1. د جرګې لپاره د ویب پاڼې جوړول او چلول،
2. د مهالنیو خپرونو خپرول،
3. د تبلیغاتي موادو برابرول او ویشل،
4. د خپرونو لپاره د کتنپلاوې او مسولینو ټاکل،
5. د سمعي او لیدنیزو خپرونو تنظیول،
6. ولایتي جرګواو په بهر کې کلتوري ټولنو ته د خپرونو لیږل او د هغوی برخه اخستنه پکې په پام کې نیول،
7. د خپرونو لپاره د همکارانو پیدا کول،
8. له رسنیوسره داړیکواو مرکوتنظیمول
9. د تبلیغاتو او ویاندۍ چارو تنظیمول،

نورې دندې :

- د کتابونو د چاپ چارې ، اهتمام او اېډېټ
- دبلنلیکونو، بېنرونو ، بروشورونو ، پوسترونو، اعلانونو او نورو تبلیغاتي پاڼو خپرول
- د ټولو غونډو ، سیمینارونو ، کنفرانسونو د رپوټونو لیکل ، عکاسی ، فلم اخېستنه او سایټونو ته د هغو ورکړه
- د غونډو د سکرتریت چارې ، د سټېج او ویاندۍ چارې ، د پرېکړه لیک او پرېس رېلیز چمتو کول
- د ټولو غونډو د رپوټونو ، عکاسیو او فلمونو د آرشیف جوړول
- د جرګې د وېب پاڼې چلول او څارنه
- د کتابتونونو جوړول ، اکمال او د کتابونو وېش

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د مرکچیانو او ویندویانو روزنه او د هغوی لپاره د روزنیزو ورکشاپونو جوړول

| ګڼه | نوم | د ټېلیفون شمېره | برېښنالیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاد اسدالله غضنفر | 0700291987 | |
| ۲ | ډاکتر محمد اکبر اکبر | 0700034448، 0799888084 | |
| ۳ | نورالحبیب نثار | 0708198363، 0799221533 | |
| ۴ | ډاکتر عطاالله زیارمل | 0777304298 | |
| ۵ | ډاکتر دوران فیضان | 0779141599 | |
| ۶ | ګل آغا احمدي وردګ | 0799301833 | |
| ۷ | عبدالجبار ثپاند | 0799391391، 0700610474 | |
| | همیم جلالزی | 0708198410، 0700390080 | |
| ۸ | امیرجان وحید احمدزی | 0700294632 | |
| ۹ | علم ګل سحر | 0700217012 | |
| ۱۰ | پیر محمد کاروان | 0799336683 | |
| ۱۱ | عبدالغفور لېوال | 0700292463 | |
| ۱۲ | باز محمد عابد | 0700203038 | |
| ۱۳ | ډاکتر منقاد الرحمن رودوال | 0700299616 | |
| ۱۴ | محبوب الله محبوب | 0708198373،0700999615 | |
| ۱۵ | خوشال خلیل | 0799898811 | |
| ۱۶ | حسیب نور شینواری | 0700150564 | |
| ۱۷ | ګل محمد آریوبي | 0772107686 | |
| ۱۸ | رفیع الله ستانکزی | 0700308908 | |
| ۱۹ | غلام محی الدین رها پور | 0774413854 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مورنۍ ژبې د زده کړې کمیټه:**

1. په کابل، ولایتونو، او بهر کې پښتنو زده کوونکیو ته په مورنۍ ژبه د زده کړو برابرول،
2. په ښوونځیو کې په مورنۍ ژبه د زده کړو د پروسې څارل،
3. په لوړو زده کړو کې په مورنۍ ژبه د زده کړو لپاره هڅې،
4. زده کوونکیو او ښوونکیو لپاره د مرستندویه پروګرامونو سمبالول،
5. په خصوصي ښوونځیو او شخصي کې په مورنۍ ژبه د زده کړو لپاره کار کول،
6. په دولتي ادارو کې د قانوني حقوقو لپاره هڅې،
7. د رسنیو له لارې په مورنۍ ژبه د زده کړو لپاره کار کول،
8. په پوهنې او لوړو زده کړو کې د پوهنیزو نصابونو د جوړولو په کار کې مرسته،
9. د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو ته په مورنۍ ژبه د زده کړو لپاره دوامداره غوښتنې او مشورې ورکول،
10. په مورنۍ ژبه د زده کړو د کمپاین د پیاوړي کولو لپاره د مرستو، مرستندویانو او ملاتړ پیدا کول.

د مورنۍ ژبې کمېټه

| ګڼه | نوم | د ټیلیفون شمېره | برېښنالیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاد نسیم ګل توتا خېل | 0799316025 | |
| ۲ | ډاکتر ابراهیم شینواری | 0700629550 | |
| ۳ | انجینر ملنګ ابراهیمي | 0700221161 | |
| ۴ | اول الرحمن رودوال | 0777308715، 0799308715 | |
| ۵ | اېمل شمس | 0708198365، 0700220208 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶ | زاهد توتاخېل | 0799309661 | |
| ۷ | عبدالرحمن الفت | 0700217786 | |
| ۸ | میرویس کامه وال | 0799566900 | |
| ۹ | بابکر خېل | 0700042530 | |
| ۱۰ | عبدالغفار جبار خېل | 0799343489 | |
| ۱۱ | ډاکتر اختر محمد اکبري | 0799301954 | |
| ۱۲ | ډاکتر ودود افغان | 0700249303، 0708198618 | |
| ۱۳ | ډاکتر امان الله اشنا | 0700491280 | |
| ۱۴ | خان آغا احمد زی | 0799617075 | |
| ۱۵ | زردشت شمس | 0799571293 | |
| ۱۶ | ډاکترعطاالله زیارمل | 0777304298 | |
| ۱۷ | ډاکتر دوران فیضان | 0779141599 | |
| ۱۸ | ډاکتر محمد الله | 0799310460 | |
| ۱۹ | خوشال روهي | 0708198374، 0700015699 | |
| ۲۰ | استاد اکبر جان پولاد | 0799193942 | |
| ۲۱ | ډاکتر امان الله ایوب | 0777864749 | |
| ۲۲ | ډاکتر صداقت یعقوبي | 0778878901 | |
| ۲۳ | روح الله محمودي | 0700604446 | |
| ۲۴ | دانش کړوخېل | 0700225375 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تخنيکي کمېټه :

1. د ټولو لويو غونډو ، سيمينارونو ، کنفرانسونو او ورکشاپونو د تخنيکې وسايلو چمتو کول او د تخنيکي چارو سمبالول
2. د غونډو د تالار ډيزاين او ډيکوريشن
3. د سټيشنرۍ او نورو وسايلو چمتو کول
4. د پوسترونو ، بروشورونو ، بلنليکونو ، بېنرونو او نورو تبليغاتي پاڼو دطرحې جوړول او ډيزاين کول
5. د وېب پاڼې د تخنيکي چارو سمبالول

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | اسرار احمد کريمزی | 0700643648 | |
| ۲ | خوشال ستانکزی | | |
| ۳ | ډاکتر يوسف سادات | 0799100988 | |
| ۴ | همايون عالميان | 0799342922 | |

د ولايتي استازو ليست

۳ وری ۱۳۸۷

| ګڼه | نوم | ولايت | د تيلفون شميره | د برېښناليک پته |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالغفور بسيم | بغلان | ۰۷۰۰۷۰۹۱۵۵ | |
| ۲ | محمد نعيم سرخيل | بغلان | ۰۷۰۰۷۱۳۱۷۵ | |
| ۳ | ذبيح الله جميل | بلخ | ۰۷۰۸۸۲۰۱۰۸ | |
| ۴ | انجنير فاروق خپلواک | بلخ | ۰۷۰۰۵۰۴۷۳۲ | |
| ۵ | محمد داود تپان | پکتيا | ۰۷۹۷۳۸۳۹۳۰ | pcc_zaland@yahoo.com |
| ۶ | | | | |
| ۷ | کټوازی | پکتيکا | ۰۷۰۷۹۱۷۲۶۵ | |
| ۸ | څارنوال سلطانخيل | پکتيکا | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۹ | حبیب الله | تخار | ۰۷۹۹۳۷۹۷۱۲ | |
| ۱۰ | اسحق غفوري | تخار | ۰۷۹۹۶۳۱۷۴۰ | |
| ۱۱ | جلال امرخیل | پیښور | ۰۰۹۲۳۰۰۵۹۷۹۳ ۲۳ | |
| ۱۲ | شهزاده شیریني زوی | پیښور | ۰۰۹۲۳۰۰۴۰۰۶۷ ۲۹ | |
| ۱۳ | عبدالمجید عارف | خوست | ۰۷۹۹۰۰۹۰۴۳ | |
| ۱۴ | نصیراحمد روښان | خوست | ۰۷۰۰۳۴۶۶۶۷ | |
| ۱۵ | حاجي حبیب ګل ستانیزی | زابل | ۰۷۰۰۳۵۳۶۶۷ | |
| ۱۶ | دواخان مینه پال | زابل | | |
| ۱۷ | اسدالله جلال زی | غزني | ۰۷۹۹۸۱۸۱۶۸ | |
| ۱۸ | شیراحمد حیدر | غزني | ۰۷۰۰۱۶۷۹۴۶ | |
| ۱۹ | عطاالله حیران | کابل | ۰۷۰۰۳۸۳۷۹۸ | |
| ۲۰ | نذیراحمد نذیر | کابل | ۰۷۰۰۲۲۸۳۹۳ | |
| ۲۱ | غلام حیدر حیدر | کندز | ۰۷۹۹۴۰۳۷۹۲ | |
| ۲۲ | عزت الله پامیر | کندز | ۰۷۰۷۷۳۲۲۷۷ | |
| ۲۳ | انجنیر شیرشاه رشاد | کندهار | | |
| ۲۴ | عبدالحمید ترابي | کندهار | ۰۷۰۰۳۲۴۳۶۵ | |
| ۲۵ | ادریس غروال | کونړ | ۰۷۰۰۶۴۱۸۶۱ | |
| ۲۶ | کاتب شاه کاتب | کونړ | ۰۷۰۰۳۴۶۴۶۷ | |
| ۲۷ | صدیق الله مین | کویټه | | |
| ۲۸ | سیدشاه سقیم | کویټه | ۰۰۹۲۳۰۲۳۹۴۶۰ ۶۴ | |
| ۲۹ | الله یار تلاش | لغمان | ۰۷۰۰۴۷۳۰۴۶ | |
| ۳۰ | عبدالبصیر رستم | لغمان | ۰۷۰۰۸۱۴۰۴۱ | |
| ۳۱ | ګل خان ګلاب | لوګر | ۰۷۰۰۰۹۸۹۷۷ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | سیداحمد حریفال | لوګر | | |
| ۳۳ | محمد آصف شینواری | ننګرهار | ۰۷۰۰۶۰۰۵۶۶ | ma100shinwari@yahoo.com |
| ۳۴ | شیرعلم امله وال | ننګرهار | ۰۷۰۰۶۰۳۷۷۱ | |
| ۳۵ | ګل آغا احمدي وردګ | وردګ | ۰۷۹۹۳۰۱۸۳۳ | gulaghaa89@gmail.com gulaghaa@yahoo.com |
| ۳۶ | همت الله امین زی | وردګ | ۰۷۷۷۰۶۵۸۴۲ | |
| ۳۷ | ثواب الدین مخکښ | هرات | ۰۷۹۹۶۴۳۳۸۰ | |
| ۳۸ | عبدالله شاه ژوندون | هرات | | |
| ۳۹ | محمد اسمعیل شریعتیار | هلمند | ۰۷۹۸۱۵۷۰۷۷ | |
| ۴۰ | صالح محمد صالح | هلمند | ۰۷۹۹۶۷۰۳۰۳ | |




د مزار شریف په ښار کې د ځینو نومیالیو افغان مشرانو او د کلتوري ټولنې د کارډلې د ځینو غړو تاریخي انځور

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**